منبع الجهاد

علمي،جهادي مياشتنی خیرونه

دوهم كال يوولسمه گڼه د ۱۳۷۰ ه ش كال ثور

دخوست فتحه دمجاهدينو اوټول اسلامي امت ډيره ستره فتحه اوسوبه ده كوم جنرالان اولوېږرتبه پوځيان چي مجاهدينو نيولي هغه ورځ په ورځ دمجاهدينو داخلاقي اواسلامي روش له مخې واقعيتونه بيامومي (الحاج مولوي حقاني)



الهي ارشاد

اي مؤمنانو ! که چیري تاسو دکافرانو متابعت وکړي تاسو به بیرته کفر ته وګرځي بیا به نو په هغه وخت کي زیان کاران اوسيُ .

(دآل عمران سورة ١٤٩ – آیت)

کمپوزر: احمد ضیا «ذهین بابري »

منبع الجهاد

علمي ، جهادي مياشتنی خپرونه

مؤسسس: الحاج مولانا جلال الدين «حقاني»
دتأسيس كال: ۱۳٦۸هـ ش ، ۱٤۰۹هـ ق

دوهـم كال ،يوولسمه گڼه ، د۱۳۷۰ هـ ش ثور ، د۱٤۱۱ هـ ق شوال المكرم د۱۹۹۱م ، مي

احمد شاه وحدت يار
Ahmad Shah Wahdat Yar

په دي گڼه كی

شمير	عنوان	مخ

۱:- (سرمقاله)................(۲)
۲:- پوځي حل،سياسي حل كم...........(٥)
۳:- افغان مجاهد ولس دتولو...(مركه)...........(۸)
٤:- توطئه هاي اهل هنود عليه ....(۱۲)
٥:- دكردي مسلمانانو بي شميره ....(۱٦)
٦:- دصليبيانو دظلمونو ....(۲۰)
۷:- كمونيزم يا دتكامل ....(۲٥)
۸:- دگرباچوف اقتدار دزوال ....(۳۰)
۹:- دخوست جگره ...(راپورتاژ)...........(۳٤)
۱۰:- دخوست دجهادي شورا اعلاميه...........(٤۸)
۱۱:- جهاد دشعر اوادب په پلوشو كي ....(٤۹)
۱۲:- اروا پال زيري ...(تكل)...........(٥۱)
۱۳:- انصارشاعران ....(٥۲)
۱٤:- لنډه كيسه ....(٥٥)
۱٥:- ولسي ادبيات ....(٦۰)
۱٦:- جهان درماه گذشته ....(٦٤)
۱۷:- راغلي ليكونه ....(٦۷)
۱۸:- ابدي ژوندي ....(٦۹)

دهيئت تحرير ترنظر لاندي

مكاتباتي پته

پوسټ بكس نمبر (۱۰۳۳)
يونيورسټي ټاون - پيښور
دټيلفون نمبر : (۸۱۲۲٥۱)

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

فاجعه ۷ ثور بحیث نمونهٔ ازجنایات ضد بشری کمونیزم

فاجعه ۷ ثور ۱۳۵۷ بدترین وسیاهترین حادثه درتاریخ پنجهزارساله کشور میباشد که دارای بعد وسیع وپیامد بسیار غم انگیزبه ملت مسلمان مابوده است .

فاجعه ۷ ثور بخاطری بسیار شوم وسیاه بوده است که دران دو نیروی سیاه وبدنام یکی داخلی و دیگری خارجی که صرف خود شانرامی شناختند درگیربودند .

بخش سیاه داخلی فاجعه عبارت بود ازکمونست های بیدین وپلید که اساس وبنیاد شان به لامذهبی وبیدینی ضد مردمیت وخدمت به کمونیزم روس ووطنفروشی به کمونیزم جهانخوار روس بنانهاده شده بود،این گروه کثیف ازبدو اساسگذاری جیره خوار کمونیزم روس بوده وروسها نیز روی اهداف خاص ضد منافع اسلامی وملی افغانستان انها را تغذیه می نمودند..

چهره سیاه دیگر شامل فاجعه عبارت ازسلطه جویان کورکمونیزم کرملین بودند که خواب امپراطوری برجهان رامی دیدند، رهبران فرتوت کمونیزم درکرملین درزیر لحاف کیش شخصیت پرستی درراه دسترسی به ابهای گرم بحرهند اشغال افغانستان رابکمك نوکران گوش به فرمان شان ازپایه های اساسی تحقق پلانهای احمقانه خود حساب نموده بودند .

لذا بنیاد گذاری حزب وطنفروش خلق وپرچم وایجاد فاجعه هفت ثور توسط این مزدوران ، حلقه های یك زنجیر بود که باهم پیوند قوی ازقبل تنظیم شده داشتند .

روسها بعد از بقدرت رسیدن کمونست های بی خرد درافغانستان بخاطر حفظ قدرت شان به عناوین

مختلف به افغانستان سرازیر شدند تابتوانند ازیکطرف به نوکران خویش قدرت را دایمی سازند وازطرف دیگربرای برداشتن گامها بچلوروس،شرایط رامساعد سازند .

نوکران روس بعد از کودتای خونین هفت ثور براساس پلان تهیه شده روسها بدون تفکیک به کشتار بیرحمانه مردم بیگناه ما پرداختند درین راه درگام نخست تمام افراد واشخاص بانفوذ وچهره های شناخته شده سیاسی ، اجتماعی را بزندان وبالاخره به پولیگون مرگ فرستادند، درهرکجا که علیه این گونه وحشی گری آنها مقاومت صورت گرفت بدون توجه همه رابه ماشیندار بستند وازهرجاکه علیه شان فیرصورت گرفت بخاطر ارعاب مردم بیگناه قراوقصبات رابه توپ ها بستند وبرزیر بمباردمان وحشتناك به تل خاکستر تبدیل نمودند .

کمونست هااین وحشیگری ها را بخاطری علیه ملت بی دفاع افغان اعمال نمودند تا صدای دین پروری ووطندوستی افغانها را قبل از انکه بااتحاد وهمدلی تقویه گردیده و بگوش جهانیان برسد خاموش سازند اما این کوردلان نوکر روس که عمرشان در خدمت به روسها گذشتانده وعقل وخرد خودرا ازپای خدمت به بیگانگان روس گذاشته بودند صبغه وجذبه اسلام دوستی وخداپرستی مردم مارا نادیده گرفته بودند ازآنجاییکه این دشمنان مردم ما درلباس مردم مابین ملت مانفوذنکرده بودند درشناخت مردم مانیز نالایقی خویشرا به اثبات رسانیدند .

مردم مسلمان افغان با ملاحظه اعمال ضد اسلامی وضد ملی کمونستان وطنفروش جهت نجات وطن ومردم باسنگ وچوب بانعره (الله اکبر) قیام کردند، پژواك این نعره ملکوتی بر دشمنان دین ووطن ما چنان هیبتناك امد که کاخهای خونین شانرا به اتش کشیده وحامیان شانرا درکرملین تکان داد .

دیو انسان خوار کمونیزم که تاانگاه بسوی همه بشریت دندانهای زشت خود رانشان میداد بخاطر نجات نوکران سیاهروی خود بازیر پانمودن تمام معیارهای قبول شده بین المللی درروابط دول وملل به کشور عزیز ما لشکر کشید هزاران پدر، مادر، برادر، خواهروفرزند وطن مارا باهزاران دهات دراتش بربریت خود سوخت وچنان پنداشت که افغانستان رااشغال وبرای کمونستان گل وگلزار ساخته است .

ولی اند ك مدت بعد ضربت مجهاد ، چنان بیتابش ساخت که قرار رااز دشمنان وطن ومردم مادرکرملین گرفت ،هزاران تابوت بسوی کرملین سرازیر گردید که از دیدن آن رهبران کمونستی

روس چون حیوان وحشی تیر خورده بخود پیچیدند .
ملت مسلمان افغان باهمان دستان خالی که دربرابر کمونستان داخلی قیام نموده بودند باهمان دستان خالی دربرابر قوای وحشی روس که بانام «ارتش سرخ » سخت بخود مغرورو تادندان مسلح بودند،قیام کرده دردشتها وکوه ها ودره های کشور ماچنان بردشمن زبون کوفتند که دیگراه رااز چاه فرق کرده نمیتوانست.
هدف روس از فرستادن تقریباً ۱۵۰ هزار عسکر این نبود که روزی افغانستان راترک خواهد کرد وچه مانده که افغانستان را روزی شرمنده ترک خواهد گفت ، که ابداً درذهنش خطور هم نمیکرد، ولی احساسات دینی وملی مردم افغانستان برای روسها کشور مارا به چنان یك کوره داغ تبدیل نمود که روسها باتمام امکانات،قدرت وقوه ابرقدرتی درآن آب گردیدند .
شکست شرم آور روسها درافغانستان اگر ازیکطرف شجاعت بی مثال مردم مارا باردیگر رقم زد، ازطرف دیگر افغانها باشکست دادن روسها درتاریخ حوادث جهان فصل جدیدی رانیز افتتاح نمودند. فاجعه هفت ثور کمونستان درافغانستان آنچنان پردامنه وغم انگیز هست که هرچند درارابطه آن نگاشته آید بازهم ناچیز باشد ولی جای افتخار درینست که این حادثه سبب شد تاچهره حقیقی کمونستان وحشی که به دروغ وریاکاری سنگ خدمت به مردم راازمسکو تاکابل وازشرق تاغرب به سینه میزدند رسوا گردد وازطرف دیگرمردم مابتوانند دراخیر سده بیست به امپراطوری انسانخوار کمونیزم روس نقطه پایان گذارند وجهانیان راازآفت وحشتناك ان رهایی بخشند .
جهاد برحق مردم ما اکنون بعد از شکست دادن روسها،علیه نوکران شان درکابل، توجیه یافته است،با اطمینان به لطف خداوند بزرگ بامسلمانان ، مابه پیروزی جهاد علیه کفرواالحاد باورویقین کامل داشته وانشاالله ان روز را دور نمی بینیم که مردم ماکشور اسلامی مارا ازلوث کمونیزم وکمونستان پاك ومصفانموده اساس حکومت اسلامی را بنیاد گذارند که درسرلوحه آن بازهم همان نعره ملکوتی (الله اکبر) پرتوافگنی داشته باشد .

ومن الله التوفیق

پوځي حل ، سياسي حل
که يو بل حل هم ...؟

محمد نذير بشارت

سياسي تبصره

دغير رشديافته ټولنو يو لوي مصيبت داوي چي زياتره وخت يکي «محتوي » او«شکل» لاندي باندي کيږي – «شکل » دمحتوي ځاي او «محتوي » دشکل ځاي ته راوستل کيږي ، ډير ځله داسي پيښيږي چي دقضاياوو او منزلونو درجه بندي او قدم بندي خوړيږده چي له نظره غورځول کيږي ، هدف په وسيله بدليږي اووسيله په هدف يعني «وسيلي » ته په دومره اهميت اوارزښت قايليږي چي «هدف» يي «وسيلي » ته درسيدو، دمنډو او ترپکو په دوروکي پټ اوحتي ورك شي.

متاسفانه همدغه رنځ دي چي دمسلمانو ملتونو دفکري اوفرهنگي انقلاب مخه نيسي .

هغه انقلاب چي دقومونو لپاره دمعنوي رشد لار پرانيزي ، دحريت او ازادي حقيقي وينه يي په بدن کي غزوي ، دخپلي لاري دتهاکلو کفايت ورکوي .

هغه اگاهي اوشعور ورکوي چي پري خپل ارمانونه تحليلوي اودورسيدو په هنريي غورکوي دانسان له هرډول «عبوديت » څخه يي ازادوي له دي يي باسي چي په کومه کوټه او تالار کي يي دمقدراتو پريکړه وشي اوعملاًيي دعظيم الشان قران له وعدي سره سم دامامت » اووقيادت » په محراب دروي .

داهغه بدلون دي چي دتوحيدي انقلاب محتوي اوهدف تشکيلوي اوداهدف قوم ته داگاهي » اوعلم » په ورکولو ترلاسه کيږي .

ديوه فکري – ذهني اوروحي انقلاب له لاري پوره کيږي ، هغه انقلاب چي دان الله لايغيرما بقوم حتي يغيرما با نفسهم » دتوحيدي ستراتيژي له مخي لومړي انسان جوړکړي اوهغه دمعنوي رشد ، فکري تکامل اوانساني شرافت مظهر کړي اوبيا دي توگه دقوم دحالت دبدلون طبيعي منزل ووهي ، زمونږ داسلامي انقلاب انگيزه اومزاج همداسي دي ، هغه ديوه توحيدي نظرياتي ، روحي ، ذهني او عملي تحول نوم دي دهغه مفهوم زمونږ دملت لپاره دژوند په ټولو

فکري اقتصادي ، سیاسي ، کلتوري اوټولنیزو اړخونو کي سعادت اوتکامل راوستل دي .

اسلامي انقلاب یواځي دځینو دبدلون نوم ندي –اونه هم دڅه «شعاري » اودشکلي تغیراتو مجموعه ده ، بلکي دهغه حقیقت فکري اوعملي مفهوم دي چي پاس مولنږه اشاره ورته وکړه ، دهغه پیغام اوسوغات دادي چي زموږ قوم ته به استقلال اوازادي دواړه وربه برخه کوي (ازادي او استقلال له یو بل نه پرته نامکمل وي ، هغوي یوله بل سره لازم او ملزوم دي) دیوه توحیدي سیاسي ، اقتصادي او فرهنګي نظام داساساتو اوموږل دعرضه کولو فکري اوعملي استعداد به ښیئي ملي وحدت به ورته راولي ، شرافت اومصوٌنیت به ورته راوړي حکومت کوونکي به عملاً دقوم خادمان وي نه باداران اوواکمنان ، هیواد به مو په پښو دروي ، دزور او ظلم منطق به ختموي ، دتوهین ، استبداد اوبي عدالتي ریښي به وچوي .

دولس دمعنوي او مادي رشد اوپرمختګ دتضمین دکفایت مظاهره به کوي اودامتعالي اهداف داسلامي انقلاب له خپلي طبیعي لاري نه پرته له نورو لارو ترسره کول داسي معني لري لکه چي سړي دجوارو دتخم له کرلو نه دغنمو دراشنه کیدو تمه کوي .

اوس که موږ واقعاً په خپله ټولنه کي داسلامي انقلاب اوداسلامي حکومت په جوړولو معتقدیو ، اوله هغو نه هسي د«اقتدار » او «سیاست» دمبارزي شعارنه جوړوو نوباید دخپلي مبارزي تاکتیك اوستراتیژي دواړه دهغوایجاباتو اومقتضیاتو له مخي عیارکړو چي داسلامي انقلاب اواسلامي حکومت دراتلو طبیعي لار اومزاج یي لري .

اوس چي موږ دخپل جهاد سیاسي چاپیریال ته ګورو دوه شکلي کربښي اوشکلي نظریي او ګرایشونه مطالعه کوو .

اودادواړه نظریي اوکرښي په سیاسي ذهنیتونو اوتریوه حده په سیاسي فعالیتونو اوتحرکاتو کي مطرح دي .

دانظریي یوه د«پوځي حل » ده اوبله د«سیاسي حل » دادواړه دمحتوي مسلي ندي بلکي دفورم خبري دي .

دواره روشونه او تاکتیکونه دي ، نه اصول او هدف خولکه چي په سرکي موووییل زموږ یو لوي مصیبت دا دي چي په نظریاتي اوعملي دواړو لحاظونو زیاتره وخت دفورم او محتوي په بیلولو اوتشخیصولو اودقضایاوو او ستراتیژیو په درجه بندي اوقدم بندي کي مشکلات لرو ، همداسي پدي خاصه برخه کي هم زموږ داحزابو په سیاست کي دایوه لویه مسئله ده چي پوځي حل وغواړو که سیاسي !

یو وایي زه «پوځي حل » غواړم بل بیا د«سیاسي حل » د پلویتوب خبري کوي – له سیاسي مشرانونه دخارجي خبرنګارانو مهمه پوښتنه هم همداوي چي «دسیاسي حل ملاترکوي که دنظامي حل » داخبره دومره لویه شوي چي که سړي دقضایاوۏ عمق ته متوجه نشي ، شاید فکروکړي چي بس زموږ تکلیف همدادي چي له دي دوو څخه یوه انتخاب کړو اوله دي دوو نه دیوي انتخاب کولاي شي زموږ ټولي قضایاوي اوستونزي حل کړي دهمدي تاکتیکي مسلي په سر–جنګ اوجدال اصلي خبره له نظره پټه کړي ده ، هغه خبره چي څه وړددي ملت اساسي غوښتني اوارمانونه ترسره کیداي شي اودي کار لپاره زموږ حالات

اوشرایط څومره وړ اوبرابر دي اوڅومره عملاًتیاریو چي سیاسي حل اویا نظامي حل ته په لومړي قدم کي دبنې له مخي اوپه دوهم پړاو کي دنتیجي له مخي دخپل انقلاب اوملت له ارمانونو سره پیوند ورکړای شو .

اویا پدي فکروکړو چي ایا زموږ کاراومسئولیت دومره ساده دي چي له همدي دوو روشونو نه دیوه په انتخاب کي خلاصه کیږي ایا ددي تاکتیکونو ترڅنگ زموږ دقضیي اوقضایاوو دحل لپاره دیوي ستراتیژي درلودو ته هم اړتیا شته که نه ؟

دهرمسلمان افغان دسلول ، سلول غوښتنه ده چي دمزدور نجیب حکومت ژرترژره ختم کړای شي ، دهغه بقا زموږ دجهاد دعظمت توهین دي ، دهغه موجودیت چي یوه شپه هم اوږدیږي زموږ دملت دهدف اوارادي سپکاوي دي ، هغه دپردیو دارادي مظهر دي هغه اودهغه اجیري ډلي زموږ له مسلمان قام او وطن سره دومره ستر خیانت اوجرم کړي چي پیړي پیړي به یي په یادیدو دانسانانو زړونه لړزیږي - نجیب اودهغه بدنام باند دیو نیم ملیون مسلمانو

> اوس که موږ واقعاً په خپله ټولنه کي داسلامي انقلاب اوداسلامي حکومت په جوړولو معتقدیو ، اوله هغو نه هسي د«اقتدار » او «سیاست» دمبارزي شعارنه جوړوو نوباید دخپلي مبارزي تاکتیک اوستراتیژي دواړه دهغوایجاباتو اومقتضیاتو له مخي عیارکړو جي داسلامي انقلاب اواسلامي حکومت دراتلو طبیعي لار اومزاج یي لري .

افغانانو قاتل دي له دي امله دیوه دغسي حکومت ختمول زموږ دملت اساسي غوښتنه ده .

ددي غوښتني دپوره کیدو لپاره دسیاسي تحرك په ملتیا دنظامي فعالیت دتشدید، توحید اوپراختیا دروش غوره کول روښانه خبره ده.

مگر دنجیب غورځول زموږ دجهاد ټول هدف نه جوړوي اونه زموږ ټول مسؤلیت یواځي همدادي ، چي فقط داقتدار دانتقال په لارو چارو فکراوکاروکړو ، بلکي داقتدار دانتقال اونجیب له غورځیدو سره یوځاي زموږ دملت نوري اساسي غوښتني سملاسي او معقول حل او ځواب غواړي داغوښتني په هیواد کي دهر راز جگړي ختمول دي ، دملي وحدت ، واقعي استقلال او حقیقي ازادي تامین دي ، په افغانستان کي دټولو مسلمانانو لپاره دشرافتمندانه فردي اوسیاسي ژوند تضمین دي ، دیوه توحیدي نظام دپوره تحقق په لوري دټولني دلیږد اوتکامل لپاره دیوه منطقي سیاسي سیستم اساس ایښودل دي .

دخپل سرنوشت په ټاکلو کي دولس دمستقیم اوبنیادي نقش درلودلو داصل ضمانت ورکول دي اوبالاخره داسلامي انقلاب دپوره بري لپاره په طبیعي اواصولي لارو دمبارزي دپرمختگ لپاره دمناسبو شرایطو اوچاپیریال دوجود تضمین دي .

شاید پدي کي هیڅوك شك ونکړای شي چي که موږ دپورتنیو غوښتنو دتحقق دقابلیت اواهلیت له مظاهري عاجز شو ، که د«سیاسي حل » روش انتخابوو که د«نظامي حل » هدف نشو ویشتلای ، له همدي امله ده چي موږ وایو دخپلي قضیي دحل لپاره دسیاسي او نظامي حل ترڅنگ په یوه بل ډیر اساسي حل هم کارته ډیره شدیده اړتیا لرو داحل دي دپاس یادشویو غوښتنو دپوره کیدو دمتضامني ستراتیژي دغوره کیدو له ازمویښته وتل .

له کراچۍ نه دخپرېدونکې معتبرې اونیزې (تکبیر) چلوونکي وویل:

افغان مجاهد ولس دټولو مسلمانانو په منځ کې نوی یقین اوتصور پیداکړ

مرکه کوونکي : ننګیال – سید عبدالله

محمد صلاح الدين دپاکستان مایه ناز لیکوال ،محقق او صحافی دی چی یواځی دپاکستان په سرحدی پولوکی نه بلکی داسلامی امت یوسترګور لیکوال او مبصریی ګڼلی شوچی دخه پیژندګلوی محتاج ندی دسیمه ایزو او نړیوالو بدلونونو او جریاناتو په اړه ددوی تبصری تحلیلونه اوتجزیی دپیښو اساسی اومرکزی عوامل ښه نقداوروښانه خیری .

دوی په پاکستان کی له بیلابیلو معتبرو خپرونو سره منسلك پاتی شوی څو کاله یی دجسارت ورځپانه چلولی او داڅوکاله کیږی چی دتکبیر اونیزه چلوی ، تکبیر اونیزي دافغان جهاد داهدافو اولاسته راوړنودخپراوی په لارکی ډیردرونداوستر کار کړیدی چی پدی اړه ددوی مطبوعاتی جهاد له هیچاڅخه پټ ندی دافغانستان دجهاد په اړه ددوی یو لیکل شوی اثر په ٤٠٠ مخونو کی چاپ کیدونکی دی ، دی دثور په ۱۲ نیټه دالانصارمادل سکول (ښوونځی) دشهادتنامو دویش په غونډه کی دخصوصی میلمه په توګه دعوت شوی ؤ مونږ له همدی تنګ فرصت څخه په استفادی په پیښور پوهنتون کی دډاکټر احسان کره له دوی سره ملاقات اومرکه وکړه چی دهغه لنډیز درنو لوستونکوته وړاندی کیږی محترم محمدصلاح الدین له ستړی مشی وروسته وویل:

که څه هم زه په کراچی کی اوسیږم خو په یوه روحانی تړون او قوت له تاسی مجاهدینو سره یم زما فکر اوذکر ، زماتصوراوتخیل دافغانستان له جهاد اوقهرمان ولس سره تړلی دی

څومره چی زمارابطه ،مینه اوعلاقه له تاسی مجاهدینو سره شته له بل هیچاسره به دومره نه وی. زه ستاسی په لیدو ډیر خوشاله شوم داځکه چی ستاسی هدف زماهدف دی ستاسی لارزموږ لارده او ستاسی ارمان زموږ ارمان دی .

مسلمان یو جسم اویو وجود دی ، په اسلام کی له علم څخه دعمل برخه درنه ده اوتاسی باعمله خلك یاست ، تاسی عملی جهاد کوی دخدای په لارکی جهاد کوی اودحق په لارکی جهاد کوی ځکه خو په اوسنی وخت کی له تاسی قدرمن خلك نورنشته .

صلاح الدين صاحب زیاته کړه :

داربنتیا ده چی موږ تاسی ته درکړی لږدی خودرڅخه اخیستی مو وړدی .

زه کله چی دلومړی ځل له پاره افغانستان ته ولاړم دحقانی صاحب له جهادی مرکزونو څخه می دلیدنی کتنی ویاړ په برخه شو ، ماپه کتابونو کی دامام شامل اوصاف اوځانګړنی لوستی وی، په نظری بڼه می معلومات لرل خوداټول صفات او ښیګنی می دحقانی صاحب په نورانی څیره کی دسر په سترګو ولیدل ،اودبیرته راګرځیدوسره می په مجله کی ولیکل چی افغانانو موږته ډیرڅه راکړی ، هغوی موږته ژوند راکړی دایمان په حلاوت یی پوه کړی یو، زموږ له زړونو څخه یی ویره ایستلی دحق دمینی اوقربانی حرارت اوتصوریی رابخښلی ، اوزموږ ژوند اوازادی یی تضمین کړیده.

هو! افغان مجاهدولس دټولو مسلمانانو په منځ کی نوی یقین او تصور پیداکړ ، داپه ټول اسلامی امت ستاسی مجاهدینو یو ډیر لوی احسان دی چی دهغی قیمت څوك نشی اداکولی.

صلاح الدین صاحب زیاته کړه :

زه له حقانی صاحب څخه ډیر متأثر شوی یم .

مادافغانستان ډیر مشران لیدلی خوهغوی می په دفترونو کی لیدلی په پیښبور ،کراچی اولاهور کی می په بنګلو ،میلمستیااوتقریبونو کی لیدلی،خوحقانی صاحب می په افغانستان کی دننه لیدلی ، دجګړی په ویاړمنو سنګرونوکی می لیدلی، دجهاد په تودو مورچلونو کی می لیدلی، داوراوباروتو دلمبو په سیوری کی می لیدلی، دبمونو په باران اودګولیو په دنډوکارکی می لیدلی.
ماهلته دده ثبات ، درایت ، تدبیر ، ایمانی قوت ، تینګار، صبر اواستقامت په خپلو سترګو لیدلی څکه خو زه په ډاګه وایم چی حقانی صاحب دغیر معمولی صفاتو خاوند دی

زمادافغانستان لومړی دوره دحقانی صاحب له جهادی مرکزونو څخه وه اوهمدغه دوره دافغانستان دجهاد په هکله دیوه داسی کتاب دلیکلو سبب شوه چی په دی نژدی وخت کی به په ٤٠٠ مخونوکي چاپ شی .

دوی وویل :

مادافغانستان ډیر مشران لیدلی خوهغوی می په دفترونو کی لیدلی په پیښور ،کراچی اولاهور کی می په بنګلو ،میلمستیااوتقریبونو کی لیدلی خوحقانی صاحب می په افغانستان کی دننه لیدلی ، دجګړی په ویاړمنو سنګرونوکی می لیدلی دجهاد په تودو مورچلونو کی می لیدلی داوراوباردو دلمبو په سیوری کی می لیدلی دبمونو په باران اودګولیو په دنډوکارکی می لیدلی.

ماهلته دده ثبات ، درایت ، تدبیر ، ایمانی قوت ، تینګار، صبر اواستقامت په خپلو سترګو لیدلی څکه خو زه په ډاګه وایم چی حقانی صاحب دغیر معمولی صفاتو خاوند دی .

صلاح الدین صاحب وویل :

یوه خبره زه تاسی ته روښانه کول غواړم اوهغه داچی کیدی شی له رفیق افغان څخه ځینی جهادی حلقی ګیلی اوشکایت ولری ، دده رپوټونه اوتبصری یوطرفه وګڼی داترډیره زه هم منم ، داسمه ده چی هغه به له یوه مشر اوګوند سره ډیر تعلقات لری اوهمداتعلقات ددی سبب ګرځیدلی چی دهغه پرخوا څه تمایل پیدا کړی خوخدای حاضر دی چی موږ ته ټول

افغانان ،ټول مجاهدین اوټول جهادي تنظیمونه یوډول ښکاري موږيې يو شان ګڼو ، پدې هکله هيڅ امتياز لازم نه ګڼو اوستاسي په منځ کی امتیاز کول ناروابولو.

له همدی ځایه زه تاسی ته ډاډ درکوم چی تکبیر مجله چی ستاسی خپله مجله ده نور به له دی ډول تمایلاتوڅخه خوندی پاتی وی .

موږله محترم محمدصلاح الدین صاحب څخه پوښتنه وکړه چی دخوست فتحی په سیمه ایزه اونړیواله سطحه دعالمی رای عامه په رابطه څه ډول اغیزی په ځای پری ایښی .؟

دوی وویل : دافغانستان دجهاد په هکله موږ. ته حوصله ناك خبرونه رارسیدل ، خو دروسی لښکرو له وتلو وروسته دجلال آباد جګړی یوه مایوسی اونهیلی خپره کړه دمجاهدینو ددوو تنظیمونو خپل منځی اختلافاتو هم دامایوسی تقویه کړی وه دمایوسی پدی دومره موده کی دجهاد ټول خواخوږي یوښه اونیك خبرته منتظر وو خودغه انتظار اودجهاد دخبرونو دتعطل سلسله دخوست فتحی ختمه کړه.

په خوست کی چی دمجاهدینو فتحی اوقوت کوم اغیز اوتاثر

وړاندی کړی هغی دکابل دفتحی په رابطه دمایوسیو اوددښمنانو دناوړه تبلیغاتو سلسله له یوی مخی ختمه کړه ، لدی مخکی څو عامله وو چی دجهاد دخوا خوږو داندیښنی سبب ګرځیدلی وو یودجنرال محمد ضیا الحق شهادت دو هم په پاکستان کي دپیپلز ګوند قدرت ته رسیدل ، دامریکا دموقف بدلون ، دمجاهدینو داخلی اختلافات دمرستو قطع کیدل اودخلیج جګړی ؛ دی ټولو داسی اندیښنی رامنځ ته کړی وی چی دجهادخواخوږو به ویل خدایه اوس به څه کیږی ؟

خودخوست فتحی دمایوسی داټولی وریځی اوګردونه لیری کړل اودامیدونو نوی اوتازه غوټی یی وغوړولی .

هو! دخوست فتحه دکابل دفتحی یقینی زیری دی، دنړیوالو اغیزو په هکله ښایئ ووایم چی اسلامی نړی له مجاهدینو سره ده، غرب دروسی پوځونو له وتلو سره دجهاد په رابطه دریځ بدل کړ ، په روس کی هم بدلونونه راغلل اوغرب ته نژدی شو، له همدی ځایه دغرب دلچسپی کمه شوه اوروس امریکا دواړه یو موقف ته ورسیدل .

خو دظلم او استعمار خلاف چی هرځای کوم تحریکونه روان دی هغوی ځان دجهاد سره تړلی ګڼی دخوست فتحه خپله فتحه ګڼی اوپدغو ټولویی ښی اغیزی کړیدی .

مورله محترم صلاح الدين صاحب څخه پوښتنه وکړه چې دافغانستان دجهاد په تيره دخوست دفتحې په رابطه دپاکستان مطبوعاتو خپل رول اومسوؤليت ترسره کړی که څنګه ؟

دوی وويل : نه له بده بخته پاکستانی مطبوعاتو ددغه جهاد اوفتحی حق ندی ادا کړی اورويه يې مايوسوونکی ده که څه هم دخوست اهميت دپاکستان له پاره ډير زيات دی خودا په ډاګه وايم چې پاکستانی مطبوعاتو پدی رابطه ډيره زياته کوتاهی کړيده .

دوی زياته کړه :

خو زه يوه خبره تاسی ته کوم اوهغه داچی تاسی بايد په مطبوعاتی برخه کی پخپلو پښو ودريږی ، دابنکاره خبره ده چی نن دجګړي له ډګر نه زيات تبليغاتو اونشراتو ته ضرورت شته ، دخليج په جګړه کی له توپ اوټانګ نه CNN او تبليغاتی کمپاين ډير موثر رول ولوباوه .

افغانان هم بايد دی برخی ته زياته پاملرنه وکړی اويو ټيم ولری چی نړيواله ميډيا پخپله فعاله اومتحرکه وساتی پخپله ورته مطالب ، مواد او خبرونه برابر کړی .

څومره چی زما مطالعه ده تاسی بيرونی رابطه نلری اوکه وی هم ډيره محدوده ده تاسی بايد پراخه بيرونی رابطه ولری اوله مطبوعاتو سره بايد نيغ په نيغه دخبرو لا ر پرانيزی دمذاکرو اومباحثو له پاره نيغ په نيغه له خپرونو سره رابطه ونيسی ، واسطه له منځه وباسی ، ماکشميری ازادی غوښتونکو ته هم دامشوره ورکړی ، چی څوک وکيل مه جوړوی بلکی پخپله خپله جګړه مخکی بوځی .

څکه خو تاسی ته هم وايم چی نيغ په نيغه له پريس سره اړيکی ولری دافغانستان قضيه له همدی لاری په نړيواله سطحه ژوندی ساتلی شی .

مورله محمد صلاح الدين صاحب څخه وغوښتل چی پاکستانيانو او افغانانو له پاره څه پيغام لری ؟

دوی وويل :

کوم قوم چی خپله ماضی هيروی هغه مستقبل نشی لرلی ، مونږ استعمار په ورو ورو ټوټو اوبرخو ويشلی يو او نشنليزم په ډيرو ورو محدودو کی ايسار کړی يو ، زه پاکستانيانو، افغانانو اوهندوستانيانو ته وايم چی ۸۰۰ کاله مونږ يو ملت او په يو وطن کی اوسيدلی يو ، احمدشاه ابدالی ، محمود غزنوی په يوه وطن حکومت کړی افغانستان او بر صغير يو وطن وو او مونږ ټول يو وجود و .

دافغانستان جهاد په حقيقت کی دپاکستان ،کشمير او هندوستان جنګ دی ، جغرافيايی محدودی مصنوعی ځيزونه دی. دادپاکستانی ولس فرض دی چی تر ورروستی فتحی بايد دافغان مجاهدينو په څنګ کی ودريږی .

په اروپاکی ګڼ بازار جوړيدی شی نور روابط اوټولنی رامنځ ته کولی شی خو مونږ خانونه تقسيم شوی ګڼو. څومره چی مونږ نژدی کيدی شو همدومره توانا او طاقت مند ګرځيدلی شو.

تاسي بايد په مطبوعاتي برخه کي پخپلو پښوودريږي دابنکاره خبره ده چي نن دجګړي له ډګر نه زيات تبليغاتو اونشراتو ته ضرورت شته افغانان بايد يو ټيم ولري چي نړيواله ميډيا پخپله فعاله اومتحرکه وساتي اوپخپله ورته مطالب مواد اوخبرونه برابر کړي خوتاسي بيروني رابطه نلري اوکه وي هم ډېر محدوده ده تاسي بايد پراخه بيروني رابطه ولري اوله مطبوعاتو سره بايد نيغ په نيغه دخبرولارپرانيزي

یك بررسي مختصر تاريخي از:

توطئه های اهل هنود علیه مسلمانان هندوستان

نور آغا

وقتی اسلام توسط مسلمانان افغان به شبه قاره هند رسید ، درانجا حکومت اسلامی بر قرار شد ، مسلمانان بیشتر از ۵۰۰ سال درهند حکومت کردند ، روش وبرخورد اسلامی مسلمانان باعث شد که هندوها وپیروان سایر مذاهب باطله گروه گروه به اسلام روی آورند ، اما کسانیکه از پذیرش دین مبین اسلام سر باززده به مذاهب باطله خویش اصرار ورزیدند ، حق یافتند بدون هیچ نوع تبعیض باحقوق مساویانه اجتماعی درجوار مسلمانان زندگی نمایند که این روش نیك مسلمانان را هندوها وپیروان سایرادیان هند ثبت تاریخ خویش نموده اند .

درسال ۱۷۵۶م انگلیس ها بالای هند حمله نموده وانرا مستعمره خود ساختند درحالیکه مسلمانان برضد شان قیام کردند اهل هنود وپیروان دیگرمذاهب باطله هند درخدمت استعمار انگلیس قرار گرفتند ، وانگلیس ها توانستند توسط انها اهداف استعماری خود را به پیش برند .

انگلیس ها که درهمه جاآز سیاست (تفرقه انداز وحکومت کن) استفاده می نمودند فتنه های مذهبی را دربین مردم هند دامن میزدند ودرین سلسله بطرق مختلف اهل هنودرا به دشمنی اسلام ومسلمانان وادار کردند .

هندوها رویه نیك مسلمانان را درهنگام حکومت مسلمانها فراموش نموده بحیث وسیله بدست انگلیس ها قرار گرفتند ، بدست خود به نفع دشمن مسلمانان راکه برای شان پناه داده بودند سرکوب مینمودند .

بعد از اخذ قدرت سیاسی هند وها ظلم وتعدی را علیه مسلمانان افزایش بخشیدند اگر چه حکومت هند ظاهراً ادعا میکرد که رسماً ازهیچ دین وگروه مذهبی حمایت نمی کند ولی در خفا عملاً از ظلم وتجاوز هندوها علیه مسلمانان حمایت میکرد ، که تا امروز این ظلم جریان دارد .

درطول این مدت مسلمانان مشکلات گوناگون را متقبل گردیده اند ودرراه دفاع وحفاظت عقیده دین مقدس خویش هزاران نفر را قربانی داده اند .

استمرار سیاست تبعیض حکومت هندوستان باعث قیام مسلمانان شد ودرپی تاسیس حکومت مستقل واسلامی شدند ، درسال ۱۹۳۰ م

علامه اقبال طرح حکومت مستقل راارایه کرد وبعد از سعی وقربانی زیاد درسال ۱۹۴۷ موفق شدند حکومت جداگانه را تشکیل دهند که این عمل عداوت هنودرا علیه مسلمانان هرچه بیشتر تشدید کرد ودرپی انتقام جویی شدند .

پاکستان برای بر اوردن اهداف اسلامی مسلمانان از هند مستقل گردید ولی متاسفانه حکام ان نتوانستند ارزوی ملیون ها مسلمانرا تحقق بخشند وحکام ان از ایجاد حکومت اسلامی عاجز گردیدند .

دروقت تقسیم هندوستان دولت بریطانیا اعلان کرد هرمنطقه طبق عقاید مذهبی خود میتواند تابعیت هند و یا پاکستان را بر گزینند ولی حکومت هند مانع شد ونگذاشت ایالت های حیدر آباد ، جمو وکشمیر که اکثریت مطلق انرا مسلمانان تشکیل میدهند به پاکستان ملحق گردند .

مسلمانان کشمیر خواستند با پاکستان یکجا گردند وحکومت پاکستان ازین اقدام شان حمایت کرد که این امر منجر به جنگ شدید بین هند وپاکستان شد تابالاخره به وساطت ملل متحد صلح برقرار گردید .

هردوجانب فیصله کردند که تعین سرنوشت کشمیر مربوط اراده مردم ان میباشد ولی متاسفانه تا هنوز بخش بیشتر کشمیر تحت اشغال هند باقی مانده است .

بعد از استقلال پاکستان ظلم وتجاوز هندوها علیه مسلمانان هندوستان شدت بیشتر گرفت وهندوهای جابر صدها تن از جمله اطفال ، زنان وپیر مردان مسلمان را بقتل رسانیدند ، چنان روش بیرحمانه ومعاند انه ای را علیه مسلمانان اختیار نمودند که انسان تحمل شنیدن انرا ندارد وعداوت بحدی رسیده بودکه یکی از بزرگان هنود بنام جواهر لعل نهرو اعلان کرد : مسلمانان حق زندگی را در هند ندارند باید از کشور اخراج گردند ویا در اجتماع هندی منحل شوند .

نفوس مسلمانان هند طبق احصائیه ۱۹۸۱ م به ۸۲ ملیون میرسید وفعلا به ۱۲۰ ملیون بالغ گردیده است که تقریبا ٪۱۵ نفوس مجموعی هندرا تشکیل میدهند ، لذا حکومت هند نسبت وضعیت اجتماعی اش نمیتواند علناً علیه این اقلیت کثیر اقدام کند ، زیرا درین صورت هند به پارچه های متعددی تقسیم خواهد گردید ، هرگروه ومذهب ادعای استقلال خواهند نمود ولی چون قدرت سیاسی حکومت هند به دست هندوها قرار دارد لذا بارها دیده شده پولیس هندی دربرخورد های مذهبی فقط مسلمانان را هدف گلوله قرار داده واز هندوهای افراطی حمایت کرده اند تافعلاهزاران مسلمان.

(لارد دفرن) حاکم انگلیس درهند یك درویش هندی را ترغیب کرد دعوا کند که درمکان تولد رام چندر جی (یکی از ارباب الانواع معروف هندوها) مسجد بابری تعمیر گردیده است ، درویش این کار را کرد و توانست عده از هندوها را برای اولین بار دورخود جمع کند واعلان نماید تامسجد ویران گردد

خصوصادرشهرهای حیدراباد ، مراد اباد ، علی گړ ، میرت ، بهارپور وغیره ازطرف پولیس هندی وهندوان متعصب به شهادت رسیده اند .

هندوها میخواهند طبق ارمان نیاکان خویش حکومت قوی نظامی تشکیل دهند ودرمنطقه جنوب اسیا رول ژاندارم را بازی نمایند ولی اسلام ومسلمانان رامانع بزرگ تحقق این ارمان خویش میدانند لذا علیه اسلام جبهه گرفته ودرهمه نقاط جهان به سرکوبی مسلمانان میکوشند ، خصوصاً مانند سائر ملل کفر ازبیداری مسلمانان توسط نهضت های اسلامی خوف بیشتر دارند .

حکومت هند برای جلوه دادن قدرت نظامی خود پاکستان را تهدید میکند، به سریلانکا جهت سرکوبی ازادی خواهان تامیل عسکر می فرستد ، نیپال را تحت محاصره اقتصادی قرار میدهد، بنگله دیش را سر زنش میکند و برای سرکوبی مردم مسلمان افغانستان به روسها ورژیم مزدور ان کمك مینماید. اینها همه وهمه از دشمنی عمیق هندوها با اسلام ومسلمانان نشات میکند زیرا میدانند که پیشروی اسلام و مسلمانان درهند ویا اطراف ان باعث ازبین بردن اهداف شوم اهل هنود میگردد.

لذا برای رسیدن به اهداف خود مسلمانان هندی وکشمیری را تحت شکنجه وتعذیب قرار میدهند ، مساجد شانرا ویران ودین شانرا مورد تمسخر واستهزاقرار میدهند ،چنانچه فعلاً توطئه را علیه مسجد بابری براه انداخته اند تادرعوض ان درمسال هندی را تعمیر نمایند .

دراینجا حیثیت تاریخی این مسجدرا بررسی مینمائیم تا ثابت گردد ظلم وبربریت اهل هنود علیه مسلمین چگونه با حیل مختلف ادامه یافته است .

مسجد بابری :

مسجد بابری درسال ۱۵۲۸ میلادی درزمان سلطنت مغل ها درهند توسط ظهیرالدین محمد بابر درشهر (اجودهیا) ایالت اترا پردیش هند تعمیر گردید ، نسبت جمال وزیبایی ان شهرت این مسجد سراسر هند را فراگرفت ومسلمانان علاقه خاصی بدیدن ان داشتند ، انگلیس ها خواستند تا اختلاف را دربین مردم هند دامن زنند تا عداوت مسلمانان وهنود تشدید گردد تا ازین فرصت بنفع خویش استفاده نمایند ، لذا توطئه علیه مسجد بابری رابرپا نمودند .

(لارد دفرن) حاکم انگلیس درهند یك درویش هندی را ترغیب کرد دعوا کند که درمکان تولد رام چندر جی (یکی از ارباب الانواع معروف هندوها) مسجد بابری تعمیر گردیده است ، درویش این کار را کرد و توانست عده از هندوها را برای اولین بار دورخود جمع کند واعلان نماید تامسجد ویران گردد مسلمانان درین وقت چون از قوت کامل برخورداربودند مانع این امر شدند ، ولی فتنه مسجد خاموش نگردید وبمرور ایام توطئه دشمنی هندوها علیه مسلمانان شدت می یافت .

درسال ۱۸۵۸ میلادی گوبراس جادوگر هندی درمحکمه فیض اباد عارض شده ادعا کرد که من از اقربا رام چندر جی هستم مسجد

بابری باید برایم حواله گردد پندت هاری کیشن قاضی محکمه بعد از غور وبررسی نسبت عدم وثائق تاریخی ادعای جادوگر را باطل شمرد .

شایعات علیه مسجد بابری افزایش یافته وحرکت های مختلف عداوت هندوها را برمی انگیخت .در۲۲ دسمبر ۱۹٤۹ هندوها بالای مسجد حمله کردند وبعد از مقاومت شدید موفق به داخل شدن مسجد شدند ، بت خیالی رام چندر جی وخانم اوسیستا را درداخل مسجد نصب کردند ونیز مراسم مذهبی خود را درداخل ان انجام دادند .

باین عمل شنیع کینه هندوهای متعصب افراطی فرو نه نشست ودر ١٤ فبروری ۱۹۸۹ باردیگر علیه مسجد هجوم اوردند ، خواستند مسجد را ویران کرده درجای ان درمسال خود را تعمیر نمایند ، مسلمانان مانند سابق باقربانی صدها تن در برابر این فشار مقاومت کردند .

چون هندوهای متعصب نتوانستند به هدف خویش نایل آیند للذا درپی تجمع بیشتر علیه مسجد شدند ، کمال لعل ادوانی رهبر حزب جنتادال (یکی از تنظیم های متعصب هندی) برای تحریك مردم هند علیه مسلمانان ومسجد بابری به تمام گوشه وکنار هند سفر کرد ، درمسیر سفر خویش درمناطق مختلف علیه مسلمانان هجوم بردند وصدها مسلمانرا اعم از زن ، طفل درطول این سفر به شهادت رسانیدند .

این سفر شوم را درشهر اجودهیا که مسجد بابری دران موقعیت دارد به پایان رسانیدند وبعد از یك اجتماع بتاریخ ۳۰ اکتوبر ۱۹۹۰ برای ویرانی مسجد هجوم بردند ، درنتیجه قسمتی از مسجدرا تخریب کرده ومراسم مذهبی خودرادرداخل ان انجام دادند .

چون ویرانی مسجد باعث تفرقه مذهبی شدید درهند میگردید للذا حکومت هند مداخله کرد و وزیر اعلی ایالت اتراپردیش هند اعلان کرد که بهکسی اجازه ویران کردن مسجد داده نخواهد شد وطرح اعمار تعمیر درمسال را درکنار مسجداریه کرد .

هندوهای متعصب حکومت وی پی سنگهـ راتهدید کرده به حمایه علنی خود وادار کردند ، درنتیجه همین کشمکش های مذهبی حکومت وی پی سنگهـ سقوط وچندراشیکر به کمك حزب کانگرس که حامی سرسخت هندوها بود قدرت را بدست گرفت .

چون اساس حکومت هند به تبعیض مذهبی گذاشته شده وقدرت سیاسی بدست هندوها میباشد للذا حکومت هند دچار تفرقه شدید گردیده است که این امر باعث عدم استقرار سیاسی درهند شده است وباعث شد که حکومت چندراشیکر نیز بیشتر ازچارماه دوام نکند وبالاخره در ٦ مارچ ۱۹۹۱ مجبور به استعفی گردید .

درین ایام که هندوهای متعصب درظلم وتجاوز شان علیه مسلمانان سرسختانه عمل می کنند وضع مسلمانانرا درحالت ناگواری قرارداده اند وضع اقتصادی مسلمانان درهند نهایت ضعیف بوده وعلناً مساجد ویران میگردد ، مراسم دینی ایشان تمسخر گردیده ومشکلات اجتماعی ، دینی وتعلیمی شان روبه افزایش میباشد درمناطق مسلمان نشین امن وثبات اوضاع وجود ندارد ، ده ها مسلمان روزمره علناً به شهادت میرسند .

حکومت هند با ملاحظه تمام این مشکلات خود را به تجاهل زده وبرای رفع نیازمندی های مسلمانان هیچ اقدامی نمی کند .

ازطرف دیگر دولت های اسلامی نیز علیه تشدد حکومت هند بر ضد مسلمانان هیچ اقدام نکرده اند که این امر هندوها رادراظلام شان علیه مسمانان دست بازگذاشته است .

لازم است تمام مسلمانان علیه بیدارگری های هندوها اعتراض نموده نگذارند اما کن مقدس مسلمانان نابود ومسلمانان هند بیگناه قتل عام گردند .

ژباړه اوترتیب : احمد ضیاء «رحیمزي»

دکردي مسلمانانو بې شمیره تاریخي رېړې

داسلام دستر فاتح صلاح الدین «ایوبي» دقوم ناتار

کردیان دمنځني ختیځ دخورا پخوانیو قومونو په حیث په تاریخ کې پیژندل شوي چې تاریخي نوم یې «ماد» بلل شوی ، کردانو داسلام دمقدس دین له راتګ څخه مخکې یوخپلواك هیواد درلود چې مرکز یې دایران د «همدان» اوسنی ښارؤ.

دغه قوم له نن څخه تقریباً زرکاله پخوا داسلام په مبارك دین مشرف شوی دی .

کردیان دیوی جداڅې ،کلتور اوفرهنګ درلودونکی دی ، چې داسلام له منلو څخه وروسته یې په منځني ختیځ کې داسلام دمبارك دین دخپرولو لپاره په پوره شوق اوذوق جهادکړی ، اوهم دوه سوه کاله یې په صلیبي جګړوکې برخه اخیستی ده .اوپه پوره سربنلدنی سره یې داسلام دتاریخ پدغه مرحله کې خپله ونډه ترسره کړې چې داسلام ستر فاتح سلطان صلاح الدین ایوبي هم دهمدی کردیانو په قوم پورې اړه درلوده .

ددیرش میلیونه او ۲۵الکو څخه دزیاتو کردانو ربړه دتیروسلو کلونو څخه راپدیخوا دمنځني ختیځ مهمه اوستره مسئله ده .کردان په عراق ،ایران ،ترکیه ،سوریه اویوڅه هم دروسیې په اذربایجان اوارمنستان کې هستوګن دي، چې دیوی احصائیي مطابق دکردانو سیمې په مجموعي توګه /۷۴۰۰۰ کیلومتر مربع ساحه نیولی ده .

کردان دعراق دمجموعي نفوس په سلوکې (۱۸) اوپه ایران کې یې مجموعي شمیر (دیوی غیر مؤثقي احصائیي له مخې) د (۷) میلیونو تنو په شاااوخواکې دی.

دغه غرني قبایل دمنځني ختیځ داهمیت په خاطر په سیمه کې خاص اهمیت لري .په ۱۹۵۸ میلادي کال کې هغه وخت چې په عراق کې دبعث ګوند په مشرې انقلاب مینځ ته راغی دایران پادشاه ، عراقي کردانو ته دهغوی دازادۍ خوبونه ورولیدل اوهغوی یې دعراقي حکومت پرضد پاڅون ته وهڅول .

په ۱۹۶۱ کال کې کردیانو دعراق دحکومت پرضد جګړه پیل کړه ، چې پوره پنځه کاله یې دوام درلود . اوبالاخره په ۱۹۷۰ کال کې دسولې په یوې پنځلس ماده یې معاهدې سره جګړه پای ته ورسیده ، اودعراق حکومت ددې

موافقی په اساس رسماً دکردیانو دکورنۍ ازادۍ اوډېرۍ اوکلتورد تحفظ اعلان وکړ .
د ۱۹۷۵ کال دمارچ په میاشت کې ، کله چې دعراق اوایران دحکومتونو ترمینځ په روابطوکې ښه والی راپیدا شو، نو دایران پادشاه دکردیانو له ملاتړ څخه لاس واخیست . اوپدې توګه په

په خاطر کارواخیست چې کردیانو په هغې کې یوازې دسون دموادو نقش درلود اوبس .
په ۱۹۷۸ کال کې کله چې په ایران کې اسلامي انقلاب مینځ ته راغی ، نو په عراق کې یې دمیشته شیعه مذهبو مسلمانانو په لمسونو لاس پورې کړ، په مقابل کې عراقي حکومت دځینې عربي

اروند مهمه خبره داوه چې ایران ، ترکیې ،عراق اوسوریې ، څلوروارو هیوادو دکردانو دهیلا بیلو ډریکې ډلو ملاتړوکړ .
کله چې لدې څلورو هیوادو څخه ځینې ملکونو په خپلو مینځوکې اړیکې بنې کړې ، داړیکړه یې وکړه چې هغوی به ددې حق لرې چې دبل هیواد دننه دلسو کیلو

سل هاو زره کردان دعراق ددولت په مقابل کې بې یاره اومددګاره پاتې شول . تردې پیښې وروسته کردي مشر «مصطفی برزاني» له امریکا څخه مرسته وغوښته ، خودده دغه غوښتنې ته چا مثبت ځواب ورنکړ اوپدې توګه کردیان دغې شمیر تلفاتو متحمل شول . دکردیانو له دغه جګړې څخه یوشمیر سیمه ایزو اونړیوالو قوتونو دخپلو ګټو

هیوادو اوامریکا ملاتړ ترلاسه کړ ، اوپه ایران کې میشته کردیان یې ، دایران دحکومت پرضد راپاڅول ، اوپدې توګه دکردیانو مسئلې یو ځل بیا سرراپورته کړ، اوشدت یې ومونده .
په ۱۹۸۰ کال کې دایران اوعراق تر مینځ دجګړې په دوران کې دکردیانو سرګرمي په ایران او عراق کې بیاراپورته شوې ، دهغې په

مترو په ساحه کې باتر هغې هم په زیاته سیمه کې ، دکردیانو دپاڅونونو دځپلو لپاره پوځي مداخلت وکړي ، چې دادکردیانو دځپلو لپاره دسیمې دهیوادویوګډ اقدام بلل کیدای شي .
همدارنګه د۱۹۸۳ کال په لومړیو کې کردیانو دترکیې حکومت پر ضدوسله پورته کړه ، خولدې امله چې دکردانو دغه پاڅون له بهر

ځخه کوم ملاتر کوونکی نه درلود ، نو دترکیی حکومت وکولای شول چی په پراخه پیمانه ، دغه پاڅون وتپکوی .

دترکیی کردانو به دغبره په هغه هسکو ځوکو اولارو کی چیرته چی ددوی هستو گنځی ؤ، اودترکیی حکومت هلته کنترول نه درلود ، تجارتی قافلی تاراومارکولی اولدی لاری ځخه تیریدونکی موټر به یی لوټول .

خو کله چی په ترکیه کی د«جنرال کنعان » نظامی حکومت اعلان شو ، نو ددی هیواد په ټولو سیموکی یی پاځونونه وتپکول اودهمدی پاځونونو دتپکولو په لړکی یی له کردانو سره هم په پوره قصاوت او سختی سره برخورد وکړ.

یوازی دنظامی حکومت له نافذیدو لنډه موده وروسته (۳۵)کردیان دکودتا په اتهام اعدام شول ، (۲۸) کسه په عمری قید محکوم او (۳۳۳) کسه په مختلفو مودو بند باندی محکوم شول ددی سره سره په زرگونو کردیان دنظامی حکومت دقوانینو له مخی ترحراست او ځارنی لاندی ونیول شول .

دکردیانو یو مشهور چریکی تنظیم د«پیش مرگ » سازمان دی چی په

دکردانو دستونزو په اړه دغه پخوانی مقوله چی « په نړی کی دکردانو هیڅ دوست نشته » یوځل بیا رښتیا شوه ، تراوسه په ایران ، عراق اوترکیه کی په سل هاوو زرو کردیانو دخپلی ازادی لپاره قربانی ورکړی دی ، خوددغو ټولو قربانیو ثمره بیا هم هیڅ ده .

ایرانی او عراقی سیمو کی په فعالیتونو لگیا دی ددی سازمان یو گروپ په ایران کی اوبل گروپ په عراق کی ددی هیوادو دحکومتونو پر ضد فعالیت کوی .

په عراق کی دکردانو ځوسیاسی ډلی دی خو ترټولو ستر سازمان «دکردانو دیموکراتیک گوند » دی ، دکردانود بنی اړخ بل سازمان «دکردانو وطن پرست تحریک» نومیږی چی په (۱۹۸۳) کال کی عراقی پوځونو ددغه سازمان مرکز محاصره کړ، او په پوره بی رحمی سره یی وتپکول .

په (۱۹۸۸) کال کی کله چی دایران اوعراق جگړه پای ته ورسیده او دعراق حکومت ددی فرصت ترلاسه کړ ، ترڅو دکردانو مقابلی ته پوځ ولیږی ، نو یوځل بیایی په پوره بی رحمی سره دکردانو تحریک وتپکولو او دهغوی په مقابل کی یی دکیمیاوی

زهرجنی وسلی ځخه کار واخیست ، چی د«حلفچه » تاریخی ناتار دکردانو پرخلاف دعراقی حکومت دوحشت بیلگه بللای شو .

پلدی وروستیو کی کله چی عراق پرکویت یرغل وکړ، او دخلیج جگړه دعراق او۲۷ متحدوملکونو ترمینځ پیل شوه دکردیانو مسلی یوځل بیا سرراپورته کړ. عراقی کردیانو کله چی ولیدل صدام په جگړه کی ماتی وخوړه او کمزوری شو ، نو خپل تحریک یی یوځل بیا راپورته کړ ، خوداځل بیا دصدام دحکومت له خواپه پوره بی رحمی او وحشت سره وتپکول شول .

دکردیانو وروستنی پاځون ، که ځه هم ډیرلوی ، او شدید ؤ، اودعراق دپوځ ډیر قطعات هم له دغه تحریک سره یوځای شول ، خوصدام حسین یو ځل بیا دخطرناکو وسلو ځخه په کار اخیستلو سره دغه تحریک وتپکاوه او په سل هاوو زره عراقی

کردیان یی دی ته اړکړل ، ترڅو له
خپل ټاټوبی څخه دترکیی اوایران
لوری ته هجرت وکړی چی
دکردیانو ګڼ شمیر افراد ددغه
مهاجرت په جریان کی مړه اود
هغوی یی شمیره ماشومان دلوږی
اوتندی له لاسه تباه شول .

دلوږو او واورینو غرونو په منځ
کی دکردیانو زیات شمیر ماشومان
سپین ږیری سځی اوځوانان دواورو
اوسړی هوا اوهم دژونددوسایلو
دنشتوالی له امله مړه شول. دغه
بی ځایه اوبی کوره شوی کردان
مجبور دی چی په یوه خیمه کی
(٤٠) تنه واوسیږی ، پدغو خیمو
کی دروغتیا دساتنی هیڅ بند
اوبست نشته ، تقریبا (١٠٠زره)
کسانو ته یوازی یو ډاکتر میسر
دی ، دیوه امریکایی خبریال
درپوټ مطابق په یوه ورځ کی په
یوه یوه قبر کی (٢٠) ، (٢٠)
مړه ماشومان خښیږی ، نه یوازی
ماشومان بلکه سپین ږیری
اوځوانان هم .

دعراقي کردانو ددغه مشکل دحل
لپاره امریکا اوترکیی تصمیم
ونیوچی دعراق په شمال کی یوه
سوله ایزه سیمه جوړه کړی ترڅو
ترکیی اوایران ته تللی دغه عراقی
کردیان بیرته عراق ته راستانه‌شی
څو اونی دمخه دامریکا (٥٠)
هلی کاپتر الوتکو خوراکی مواد ،
اودضرورت وړځینی مواد ، دغه
مهاجرینو ته راوړل ، اودغه لړی
لاتراوسه روانه ده ، تراوسه پوری
پدی مرستوباندی له ٥٠٠ میلیون
ډالرو څخه زیاتی پیسی مصرف
شوی دی ، خو ددی سره تراوسه
هغوی ته په ورځ کی یواځی یوځل
خوراک وررسیدلای شی اوبس .

له دوی سره دخوړلو لپاره خوراکی
مواد ، دڅښنلو لپاره اوبه ، شړی ،
خیمی ، اونور هیڅ نشته !

کردی مشران دخپل ملت ددغه
بدی ورځی په لیدوسره دی ته
اړشول ترڅو یو ځل بیا له صدام
حسین سره ، دخبرو اترو دمیز
ترشاکینی ! تریو لړ خبرو اترو
وروسته صدام داخبره ومنله چی
عراقی کردانو ته به خپله داخلی
ازادی ورکوي .

دکردانو دستونزو په اړه دغه
پخوانی مقوله چی « په نړی کی
دکردانو هیڅ دوست نشته » یوځل
بیا رښتیا شوه ، تراوسه په ایران ،
عراق اوترکیه کی په سل هاوو زره
کردیانو دخپلی ازادی لپاره قربانی
ورکړی دی ، خوددغو ټولو قربانیو
ثمره بیا هم هیڅ ده .

په عراق کی دکردانو پرسردغه
روان ناتار دکردی ملت دتاریخ
اودبشری ټولنی دواقعاتو یوه نه
هیریدونکی فاجعه بلل کیدای شی
زموږ مسلمان ولس چی خپله یی
دکمونیزم دظلم اوناتار له لاسه
دهجرت سختی ورځی لیدلی
اوتیروی یی دکردی ملت دغه ربړه
اوغم سنه احساسوی اودخپلو
اسلامی احساساتو له مخی ورسره
خواخوږی ښئیږی.

دکردانو پرخلاف دصدام حسین دظلمونو یوه بیلګه .

دوهمه برخه :

دصلیبیانو دظلمونو کیسې

لیکنه : جلال العالم
ژباړه : سلطان محمود صلاح

۳– له حبشې نه څو بیلګې :

کله چې حبشې دفرانسې اوانګلستان په ملاتړ داریتریا په اسلامي خاوره باندې قبضه وکړه نو هلته یې داسې ظلمونه وکړل چې تاریخ یې ډیرې کمې نمونې لیدلې دي .

دخلکو ټولې ځمکې یې مصادره اوحبشي فیوډالانو ته یې ورکړې ، هرحبشي فیوډال اوواکمن په هروخت کې دمسلمان وژلو صلاحیت اواختیار درلود ... دمسلمانو بزګرانو لپاره ډله ایزې بندې خانې جوړې شوې وې ، او هلته به بندي په لس کیلوګرامه وزن لرونکې متروکه وهل کیده ، اوکله به چې له پښو ولوید نو بیا به کوټه قلفي کیده ، اوخپل پاته عمربه یې هملته تیراوه ، اوکه فرضا کوم څوک به ژوندې راووت نو هغه به په پښو نه شوای دریدای ځکه له هر هډوکي نه به یې لیندۍ جوړه شوې وه .

داخو دهغه وخت دظلمونو څو نمونې وې کوم وخت چې هیلا سیلاسې لادحبشې امپراطورۍ په تخت نه و ناست ، خو کله چې نوموړي دقدرت واګې په لاس کې ونیوې ، نو دمسلمانانو ورځ نوره پسې وګرزیده ، اوهیلا سیلاسې ددوی دکاملې ورکې لپاره یوداسې پنځلس کلن پلان جوړکړ ، چې دامریکایي کانګریس په وړاندې یې هغه له خپلو افتخاراتو څخه وګڼله .

هغه مسلمانان پدې مکلف کړي و چې دحکومتي مسئولینو په وړاندې سرټیټ کړي اوکه نه نو مرګ یې سزاده ، هغه وخت له ټولو نه ارزان څیز دمسلمان وینه وه ، یوه ورځ پولیس دمسلمانانو کلي ته نژدې یوه ړې ومونډ واکدارانو مخکې لدینه چې دپیښې پلټنه وکړي یوبسته غونډ یې پرکلي ورمرش کړ ، اوکلي ته یې له اوسیدونکو سره یو ځای اور ورته کړ ، بیا څه موده وروسته څرګنده شوه چې هغه مړی دداسې یوکس و چې دخپل ملګري په میرمن یې تیری کړی و اوبیاد هغه ملګري په لاس وژل شوی و ، دکلي سیځلو لدې دردناکې پیښې وروسته شیخ عبدالقادر خلك راټول کړل اودحبشیانو په خلاف یې دپاڅون کوښښ وکړ اوپه ځنګلونو کې یې مرکزونه جوړکړل ، خو حکومت دهغوی تورسرې ، سپین ږیری

اوماشومان راغونډ کړل لرګي اوواښه یې ورنه تاوکړل اوبیایې اور ورته کړ اوپدې ترتیب سره یې ټول ژوندي وسیځل .

اوکه له پاځون کوونکو څخه به کوم څوک په لاس ورغی نوله مرګه مخکې به یې ډیر ربړاوه ، ډچاپه سترګو اوغوږونو کې به یې لګیدلې سګریټ ایښود ، ځینو ته به یې بې پتي ایوله ډبل به یې مایې (خصیې) ډتوپك په قونداغ وهلې ... ځینې نور به یې په اغزي لرونکي تار (سیم) کشول اوکله به چې مرګ ته نژدې شول نو بیا به یې ځیرونکي ځناور ورخوشې کړل او ...

لدینه پرته هیلاسیلاسي اسلامي مدرسې په مسیحي مدرسو واړولې اومسلمانان یې پدې مجبورول چې خپل زامن به هغو مسیحي مدرسو کې شامل کړي ، ترڅو هغوی هم مسیحیان شي .

داریتریا والیان یې داسې کسان وټاکل چې په ظلم اوفساد کې له هرچانه وړاندې وو ، دجمه نومې ولایت والي یو داسې څوك و چې لومړی فرمان یې داو :

« دهقانان دنوموړي له موافقې پرته دحاصلاتو راټولولو حق نلري » اوده به بیا هغه وخت موافقه کوله چې حاصل به له منځه تللی و دمسلمانانو ۹۰٪ خمکې یې مصادره کړې نیمې یې دځان لپاره او نورې یې دامپراطور په نامه کړې لنده داچې مسلمانانو ته یې هیڅ هم ورپرې نښنودل ټول مالونه یې ورنه لوټ کړل ...

لومړی یې مسلمانانو ته وویل چې باید پدې ولایت کې یوه کلیسا جوړه شي ، هغوی کلیسا ورته جوړکړه ، بیا یې امروکړ چې باید دهرکلي اوښار په دروازه کې یوه یوه کلیسا جوړه شي ، پدې یې هم بښنه ونکړه بلکه دهرجوماټ ترخوایې دفحشا مرکزونه اوشرابو دکانونه هم جوړکړل ، هلته به عسکرو شراب څښل اوبیا به همداسې مست جوماتونوته ننوتل اوهلته به یې له هرډول اخلاقي پولو نه پسې اخوا اړولې اوښځې به یې پکې ګټولې ...

بزګران یې پدې مکلف کړل چې خپل غوایه به انګودا نومې یهودي شرکت باندې وپلوري ، امپراطور نوموړي دښه خدمت کولو په وجه خپل دداخلي چارو وزیروټاکه .

دنوموړي امپراطوری واکدارانو به چې هر چیرته یوه او عالم مسلمان لیده نو سمدلاسه به یې په بندیخانه کې اچاوه اوهلته به بیا وژل کیده اویابه یې پدې ارایسته چې وطن پریږدي ترڅو داریتریا خاوره او ولس همداسې جاهل او له اسلام نه لرې پاته شي ، اوداسې نور (۱)

٤– له بنګله دیش نه :

کله چې هندي لښکرو دیهودانو په قومانده (۱۹۷۱) کال کې پاکستاني فوځ ته ماتې ورکړه ، نو هندوانو لس زره مسلمان عالمان اودسلو زرو په شاوخوا کې یې زده کوونکي اودولتي کارکوونکي ووژل ، پنځوس زره استادان یې بندیخانو ته واچول او (۲۵۰) زره یې له هغه مسلمانانو نه ووژل کوم چې له جګړې نه مخکې یې له هند نه پاکستان ته هجرت کړی و اود (۳۰) میلیاردو روپیو په قیمت یې په ختیځ پاکستان کې دمسلمانانو مالونه لوټ کړل(۲)

هندي لښکرو چې هلته په بې ګناه مسلمانانو کوم ظلمونه وکړل دلته یې دیادولو وس نلرم .

***

پدې ترتیب سره داسلامي نړۍ هرګوټ داسې ظلمونه او دردونه لیدلي چې له یادولو یې زړه ترك چوي ...

هو ! په مسلمانانو دیرظلمونه

وشول خو (ان شاءالله) دابه مغوی له خوب اوغفلت نه راپاڅوی ، څکه داداسی ګوزارونه وو چی مړی هم راپاڅولی شی .

اوس داوایو چی ایا دغربیانو اودمغوی دنوکرانو داظالمانه دریځونه هسی تش عاطفی اواستثنایی مواقف وو اوکه څنګه ؟!...

نه ... کله هم داسی نده چی دغربیانو داظالمانه دریځونه عاطفی اوشخصی وی بلکه دا دغربی فکراوغربی مشرانو ثابت او همیشنی دریځونه دی چی لوی وریاندی پوره قناعت لری اوپه خپله خوښه اواراده سره یی قصدا پلی کوی ...

ددی پوښتنی ځواب نه نواوس دا پوښتنه هم راولاړیږی چی داولی اوڅه لپاره ؟!!...

موږ په راتلونکی ځینو کی پخپله دغربیانو په خوله وایو ... پدی کی به دغربیانو له خبرو پرته بل څه اجتهاد اوداسی نور نه ځایوو ، ترڅو حق لاپسی ښه څرګند شی اوځینو کسان هم بی دلیله شی کوم چی پخپل لاس داسلامی امت ریښی رالوځوی ترڅو غربیان یی ژر اوپه اسانی سره چپه اوترستونی تیرکړی .

رښتیا هم دنوروغلامی ترټولو بدکاردی ... څومره بده ده چی خپل ولسونه دپردیو لپاره وژنی اودمغوی غوښی داستعماری لیوانو په خوله کی اچوی ... ای زماربه داټول خلک به کله دحق لورته رااوړی ؟!!

*** ***

داسلام په وړاندی دلویدیز دریځ

صلیبی جنګونه لاتوام لری :

لویدیز له موږسره خپلی اړیکی ددی تصور چی وایی « صلیبی جنګونه لاتوام لری » په رڼا کی تینګوی :

١- دامریکایی سیاست تهداب هم همداتصوردی :

دامریکادبهرنیو چارو مرستیال اودبهرنیو چارو په وزارت کی دپلان جوړونی څانګی رئیس « ایوجین روستو » اوتر ١٩٦٧ کال پوری دمنځنی ختیځ دچارو رئیس جونسون وایی :

پدی باید پوه شو چی زموږ اوغربی ولسونو ترمنځ اختلافونه ددولتونو او ولسونو ترمنځ اختلافات ندی ، بلکه داداسلامی اومسیحی تمدنونو ترمنځ اختلافونه دی « داسلام اومسیحیت ترمنځ جګړه له منځنیو پیړیو نه راپیل شویده اوترننه ورځی پوری توام لری ، دایوه نیمه پیړی کیږی چی اسلام دغرب په وړاندی سلامی شوی اواسلامی تمدن مسیحی تمدن ته تسلیم شوی دی .

دی زیاتوی او وایی :

تاریخ داثابتوی چی امریکا دفلسفی ، عقیدی اونظام له مخی دغربی نړی یوه څانګه او جزءه نو همداوجه ده چی مغه هم لکه نوره لویدیزه نړی داسلامی فلسفی اوعقیدی په مخالفه جبهه کی دریږی څکه امریکا بله چاره نلری اونه شی کولای دصهیونیزم اوغربی نړی له ملګرتیا نه لاس واخلی ، څکه دلوی ټولو عقیده ، ژبه ، فلسفه اوتمدن سره شریک دی .

روستو په څرګند ډول وایی چی په منځنی ختیځ کی داستعمار هدف اسلامی تمدن له منځه وړل دی اودی هدف دلاسته راوړلو په لار کی داسرائیلی حکومت جوړول لومړنی ګام دی ، اوهمدا ثابتوی چی صلیبی جنګونه لاتوام لری .(٣)

٢- اتمه صلیبی جګړه دالبنی ترمشری لاندی :

باترسون سمث په خپل «حياة المسيح الشبيعة» نومی کتاب کی وایی:

صلیبی جنگونه ناکام شول خوله هغه وروسته یوه خطرناکه پیښه وشوه او هغه داچی انگریزانو خپله اتمه حمله ترسره کړه اوداخل بریالی شوه ،دلومړنی نړیوالی جگړی په دوران کی داللبنی له خوا په قدس شریف باندی حمله ،اتمه اووروستی صلیبی حمله بلل کیږی(٤)

اوله همدی کبله وه چی برطانوی جرایدو داللبنی عسکونه چاپ ته وسپارل اولاندی یی دده هغه خبره ولیکله کوم چی دقدس شریف ننکیل کولو نه وروسته یی کړی وه او هغه داسی وه :« صلیبی جنگونه نن ورځ پای ته ورسیدل »

همدی جرایدو داهم لیکلی وه چی دایوازی داللبنی خبره اوډریځ ندی بلکه دا دټولو انگریزانو موقف اوسیاست دی پدی جرایدو کی هغه خپورشوی خبرداسی و:

دبریطانیا بهرنیو چارو وزیر(لویدجورج) دپارلمان په مانی کی جنرال اللبنی په اخرنیو صلیبی جنگونو کی دبریالیتوب مبارکی وویله اونومړی جنگونه ته لوید جورج اتم صلیبی جنگ وایه .

٣- فرانسویان هم صلیبیان دی :

کله چی جنرال غورو دمییسلون لښکرو ته ماتی ورکړه ،ژر دصلاح الدین ایوبی قبر ته (چی داموی جومات سره واقع دی) ولاړ او هغه یی په لغته وواهه اوویی ویل :

« دادی بیا راغلو ، ای صلاح الدین »(٥)

دفرانسویانو دصلیبیت داثبات لپاره دفرانسی بهرنیو چارو وزیر (مسیوبیدو) داخبره هم ښه دلیل دی کومه یی چی دفرانسوی پارلمان دځینو غړو سره دلیدنی په وخت کی کړی وه ، هغوی غوښتنه ورنه کړی وه چی باید په مراکش کی دروانی جگړی لپاره حد وټاکل شی نوده ورته ویلی وو « هغه دصلیب اوهلال ترمنځ جگړه ده »(٦)

٤- یومسیحی گوند چی په (حزب الکتائب) سره شهرت لری اوهمدارازخپله شمعون دلبنان جگړی صلیبی جگړی بولی

٥- دقدس شریف له سقوط نه وروسته (١٩٦٧) هغوی داسی ویلی وو:

راندولف چرچل وایی :

له مسلمانانو نه دقدس نیول دیهودانو اومسیحیانو گډه هیله وه ، پدی خوښی کی مسیحیان او یهودان سره شریك دی ، اوس قدس دمسلمانانو له لاسه ووت ، یهودی مشرانو دری فرمانونه صادرکړی اودری واره قدس په یهودی قدس پوری تړلی اعلانوی ، هغه به بیا هیڅکله هم دمسلمانانو لاس ته ورنشی ، که څه هم دیهودانو او مسلمانانو ترمنځ پدی هکله زیاتی خبری وشی(٧)

٦- صهیونستان هم داسی وایی:

کله چی په کال ١٩٦٧ کی اسرائیلی لښکری قدس شریف ته ننوتلی نو عسکرذالمبکی دیوال ترخوا راټول شول اوپه یوه اواز یی له موښی دایان سره داسی ناری وهلی :

نن ورځ دخیبر دانتقام ورځ ده

... دالخبير انتقام دی .
خوښی وکری ، خوښی وکړی ،
دمحمد (ص) دين نن ماتی وکړه
او لاړ ...
اودايي هم ويل :
محمد(ص) مړشو ...
همداډول بدی اوسپوری خبری
وی چی مسلمان شاعر محمد
الفيتوری يی دی ته وهڅاوه چی
يوه قصيده وليکی ، هغه پخپله
دی قصيده کی محمد صلی الله
عليه وسلم ته خطاب کوی
اووايي:
ياسيدي په تادی ترټولو زيات
سلام او درودونه وی ...
له خوار اودربدر امت نه ...
هغه امت چی دتيارو او خرابی
لرونکی تمدن له خوا وربانـدی
حملی کيږی ...
ياسيدی ...
لـه هـغـی ورځـی نـه چـی
بحرموسره وويشه ...
په خپل مينځ کی موپولی جوړی
کړی ...
مره شوو...
اويـهـودان دپاسـه رابـانـدی
راوختل...(۸)

۷- اسرائيل دغربی صليبيت نه
کته اوچتوی :
د۱۹٦۷ کال له جګړی نه مخکی
داسرائيلو پلويانوپه پاريس کی
مظاهری وکړی ، پدی مظاهرو
کی جان بول سارتر هم روان وو
، دوی له ځان سره شعارونه وړل
، پدی ټولو شعارونو اودمرستی
په صندوقونو له دوکلمونه جوړه
شوی داجمله ليکلی وه : « له
مسلمانانو سره جګړه وکړی »
اوپدی سره صليبيان دومره
راوپاريدل چی فرانسويانو
يوازی په څلورو ورځو کی يوزر
ميليونه فرانکه مرسته وکړه ...
همداراز اسرائيلو دعيد مبارکی
کارتونه چاپ کړل چی وربانـدی
ليکل شوی وو :« دهلال ماتی »
اوپه مليونونو وپلورل شول ...
داټول کومکونه ددی پخاطروو
چی هغه صهيونستان تقويه کړی
کوم چی په منطقه کی داروپايی
صليبيت اهداف تامينوی ،
داسلام او مسلمانانو دله منځه
وړلوپخاطر نه ستړيدونکی هلی
ځـلی په مخ بيايی (۹)

***

(۱) کفاح الدين للاستاد محمد
الفزالی ص ۶۰-۸۰
(۲) ماساة بنگله ديش (محمد
خـلـيـل الـلـه) ص :۷-
۱۹-۲۰-۲۲-۲۳
(۳) مـعـرکـة الـمـصـيـر- ص :
۸۷-۹٤
(٤) مجلة الطليعة القاهرية ،
مقال وليم سليمان ، عدد ديسمبر
عام ۱۹٦٦ ص :۸٤
(۵) القومية والغزوالفکری ص ۸٤
(٦) مأساة مراکش - روم لاند -
ص ۳۱۰
(۷) دانـدولـف چرچل - حرب
الايـام الـسـتـة ص : ۱۲۹ مـن
الترجمة العربية
(۸) الشـعب والارض ج ۱ ص
۳٤ ودرس من النـکبة الـثانيـة
- ص ۷٦
(۹) طريق المسلمين الی الثورة
الـضـاعـيـة ص : ۲۰-۲۱

کمونیزم یا د تکامل او انساني فطرت ضد ایډیا

عبدالوکیل

دبشر په تاریخ کې تولو هغو انسانانو اوټولنو چې دژوند تګ لارو په بهیر کې دالهي اودهغه دپیغام راوړونکو له ارشاداتو اولارښوونو څخه الهام نه دی اخستل شوی زراویا ورو دتولنیزو نیمګړتیاؤ او نه علاج کیدونکو پرابلمونو او ناروغیو سره لاس په ګریوان شویدي .

دهغو انساني فطرت او تولنیزې پرمختیا ضد افکارو له ډلې څخه چې دبشري ټولنې دمختلفو تکاملي مرحلو په جریان کې په هغه اویادغه څیره راڅرګندې شویدي ترټولو خطرناکه او نړۍ ورانوونکې ایډیا له کمونیزم څخه عبارت ده او دبشري تاریخ په پراوونوکې یې

ټول ټول رنګونه ځان ته غوره کړې دي خو دغې دانسانیت ضد مفکورې د(۱۹۱۷)م کال خصوصاً سوهمي نړیوالي جګړې (۱۹۳۹-۱۹٤٥) م څخه وروسته ټول بشریت ته عملي ټرښتینی او دتوجه وړخطر رامنځ کړنو څکه دهغې پر اصلي منشأ اوماهیت باندې پوهیدل دهر انسان لپاره لازمي او ضروري ګڼل کیږي .

دکمونستي نظریې پیدایښت اودهغې دپراختیا پراوونه :

په زرونو کاله مخکې کمونستي نظریاتو ته ورته افکار په یوه اوبله بڼه دنړۍ په هغه اویادغه برخه کې څرګند شویدي . لمر ، سپوږمۍ ، ستورو ، اور ، بحرونو ، بتانو

او د [illegible] نورو اجسامو ته [illegible] مرکزیا معنوی ته دیوه فوق العاده اوبې پایانه قدرت په حیث قایل کیدل دماتریالیزم یاماده پرستی هغه چې دکمونستي ایډیا فلسفي اړخ جوړوي ، دابتدایي څیرې دظهورڅرګندوی دي . ددې په څنګ کې کله چې له یوشمیر انسانانو څخه دمشکلاتو اوټولنیزو بې عدالتیو دله منځه وړلو ټولې الهي او علمی لارې چارې وړکې شویدي نوبیایې دغې ورستې رسی (کمونیزم) ته په شعوري اویاغیر شعوري ټول سره لاس اچولی اوټل لپاره یې دبدبختیو کړاوونو په ورانوونکی سیلاب کې ځانونه لاهو کړي دي .

په ایران کې «مزدکیان»، په چین کې دشلمې پیړۍ څخه مخکې یوشمیر بغاوتونه ، په فرانسه کې دنولسمې پیړۍ په دوهمه نیمایي کې د«پاریس کمون» ټول دکمونستي الغاوتلفاو ابتدایی بڼې او په بشري ټولنو باندې تحمیل شوي تراژیدی دي . خودکمونستي نظریاتو زهري بوټي معیوبو ریښو غزولوته هغه وخت ښه شرایط برابر شول کله چې داتلسمې پیړۍ

په وروستیو اودنولسمې پیړۍ په لمړیو کې داروپا خصوصاً لویدیځې اروپا هیوادونو په سیاسي قدرت کې دسرمایه دارانو نـفوذ زیات شو .

په دې مـرحلـه کې دیـوې خـوا اروپایان دکلیساؤ له خوا د«عقائدو تـفـتیـش» پـه نـوم فـشار څـخـه ترستـونـي راغلي ؤ اودبلې خوا سرمایه دارانو دکلیساؤ داشیوه دخپلې سرمایې له انکشاف سره په تضاد کې ارزیابي کړه نوځکه په اروپا خصوصاً المان ، فرانسه او انګلستان کې کوم چې په نړۍ کې داقـتـصـادي ، سیاسـي او فرهنګي اړخ په اړوند پرمختللي هیوادونه ګڼل کیدل دکمونستي نظریاتونوې بنې راڅرګندې شوې .

دنولسمې پیړۍ پـه نیمایي کې دمارکس اوانګلس دوو المانیانو له خوا دمختلفو افکارو درلودونکو اشخاصو دنظریو بعضې برخې راټولې کړې شوې اودکمونستي ایدیا نوې بڼه یې رامنځ ته کړه. دوی د«هـګل » او«فویرباخ » له فلسفي افکاروڅخه دډیالکتیك او ماتریالیزم اړخونه بیل اودیوبل په څنګ کې یې کیسودل او مـادي (مـاتر) یابې دینه او غیر علمـي

> **دبشر په تاریخ کې ټولو هغو انسانانو اوټولنو چې دژوند تګلاره یې بهیر کې دالهي اودهغه دپیغام راوړونکو له ارشاداتو اولاربنوونو څخه الهام نه دی اخستل شوی زراویا وروسته یا ډیرژر ټولنیزو نیمګړتیاؤ او نه علاج کیدونکو پرابلمونو او ناروغیو سره لاس په ګریوان شویدي .**

فلسفه یې (کمونستی فلسفه) کومې چې دبت پرستو، اورپرستو اوآسماني ستورو پرستش کوونکو عقایدوته نوې بڼه ورکړله جوړه کړه. همدارنګه دفرانسې سوسیالستانو چې مـهم یې «سن سیمون » او «فوریه» ؤ اودبریتانیا دکلاسیکو اقتصادي نظریاتو پیروانو «آدم اسمیت » او «ریکاردو» یو شمیر نـظریـات راټول اوپـه عـمـوم او مجموعي توګه یې یوه بې لاسه ، بې پښوپـه تـضادونوکې ښکیل اودانساني فطرت ضد نظریه چې دبشري ټولنې دپرمختګ او انساني معقولو اورواغوښتنو په مقابل کې یې دښمنانه موقف اختیار کړ ، رامنځ ته کړه .

دغې ایدیاپه ظاهرکې دکارګرو اومزدورانو دګټو څخه ددفاع ادعا کوله خوپه واقعیت کې دهغې عملي کیدل په عموم کې دانسانانو دښکیلاك ، زبیښناك او دولسونو دسیاسي ، اقتصادي اونظریاتي خپلواکیو دمحکومیت ترټولو خطرناکه وسیله وګرځیده خودمارکس اوانګلس پـه واسطـه سره دطرحه شویو ټولنیزو بدلونونو نظریې غیر عملی او ناممکنه بڼه غوره کړه . لاکن دلمړۍ نړیوالې جګړې (۱۹۱۴-۱۹۱۸)م پیښیدل اویو شمیر نورو عواملو دمارکس اوانګلس نظریې دیوشمیر اړخونو سره مخالفه خو کمونستي نظریه دنړۍ په ځینو ولسونو باندې په زور سره تحمیل او وتپل شوه .

په لمړۍ نړیواله جګړه کې تزاري روسیه او مستعمرې یې(تراشغال لاندې دمنځنۍ آسیاً اسلامي اوغیر اسلامي هیوادونه) دالمان اودهغه پلویانو په ضد اتحادکې جنګیدل . دغې انسان وژونکي اواستعماري جګړې په لمړیو دریو کالونوکې روسي عسکراو غیر نظامي وګړي دبې شمیره ربړونو سره مخامخ کړل روسي غیر نـظـامـي وګړو

اودهغې مستعمروته يوازې هغومره غذايي مواد ورکول کيدل چې دمړيني څخه بچ او کار وکړي . په دې مرحله کې يې پرسينځواونړو ، سپين ږيرو او کوچنيانو باندې دوهمې نړيوالې جګړې په څير کله چې استالين دقدرت په کرسۍ ناست ؤ په ۲٤ ساعتو کې له۱۸ساعتوڅخه تر ۲۱ ساعتو پورې کارکاوه .

همدارنګه په جبهه کې نظامي قواؤ ته په کافي ډول سره جنګي مهمات او دضرورت وړغذايي موادنه رسيدل اوټول پوځ بې حده ستومانه شوی ؤ او دجګړې څخه يې نفرت کاوه . په پوځ او غير پوځي وګړوکې دروسي تزاريا پاچا پرضد تبليغ پيل او زيات شو اوپه هغه پسې دالمانيانو دطرفدار اووطن خرڅوونکي آوازې ګرمې شوې (ددغه روسي تزاربنځه المانۍ وه) اوپه مجموع کې پوځيان اوغير نظاميان دوضعې بدلون ته تږی وو .

پدې مرحله کې لينن اودهغه يوشمير انډيوالان په غربي اروپا دهغې جملې څخه المان کې دسياسي پناه وړونکو په بڼه اوسيدل نوپه دې وخت کې يعنې دلمړۍ نړيوالې جګړې نږدې دريم کال (۱۹۱۷م) کې دغربي اروپاڅخه روس ته دلينن اودهغه انډيوالانو تګ اود(۱۹۱۷) م داکتوبر فاجعې څخه وروسته دالمان سره دلينن پواسطه د«برست» تړون لاس ليك کول په کوم کې چې دروسيې يوه اندازه خاوره المان ته پريښودل شوه اوهمدارنګه دجګړې څخه دالمان په ګټه دروسيې وتل داپه ګوته کوي چې داکتوبر نکر شوې فاجعه دالمان يوه دسيسه وه چې دوخت به تيريدو سره يې نه جبران کيدونکي اوناوړه عواقب اوتراژيدی رامنځ ته کړې . هدف داچې په روسانو اوبيا وروسته دروسانو پواسطه سره دهغوی پر مستعمرو باندې دغه ارزه برزه نظريه (کمونستي نظريه) په جبري توګه وتپل شوه .

د۱۹۱۷م کال داکتوبر اوومې نيټې مصيبت هغه خونړۍ کودتاوه چې په نتيجه کې يې دبې شميره انسانانوژوند ورختم کړ اوبشريت ته يې جدي خطررامنځ ته کړ . په دغه تاريخ دشپې له خوا دپتروګرادښار (اوسنی لينن ګراد) دشمال غربي برخې څخه دنظامي بيړۍ پواسطه دپتروګراد ښار باندې دکودتا دالارم ياد کودتا دپيل کيدو داشارې په توګه دتوپونو ډزې شروع شوې او دعسکرو يوه ډله چې قومانده يې دبلشويکانو (بلشويکان دروسيې دسوسيال دموکرات په نوم کمونستي سازمان دډلو ډلو له جملې څخه دهغې ډلې نوم دی چې لينن يې په رأس کې قرار درلود) په لاس کې وه هغې سلطنتي بنګلې ته ورداخل شول په کومه کې چې دهغه وخت صدراعظم (کرنسکی) کابينې موقعيت درلود (ددغې کودتا څخه شپږ مياشتې پخوا دوهم نيکولای چې دروسيې تزارياپاچا ؤ دپوځ اوولس له ويرې پاچاهي خوشې کړې وه او دجنګ پخوانی وزير «کرنسکی » چې ديوې غير کمونستي سياسي ډلې مشرو دمختلفو سياسي ګوندونو څخه ګډ حکومت جوړکړی ؤ) .

دغو عسکرو دنوموړي کابينې غړي له منځه يووړل او پرځای يې دبلشويکانو حکومت چې لينن يې په رأس کې قرار درلود او دکمونستي نظريې پيروان ؤ، اعلان کړ .

دلته ؤ چې دوحشتونو اوانسان وژ نې نوی بهير پيل شوډوی لږه موده وروسته دروسيې پايتخت

دپتروګراد څخه مسکوته نقل کړ . د(۱۹۱۷م) کال څخه تر (۱۹۲۰) م کال پورې دبلشویکانو پر ضد په ټوله روسیه کې عمومي پاڅون او جګړې په بې ساري ډول سره دوام وکړ او دسپین ګارد » په نوم بلشویکي ضدقواؤ ددوی حکومت دراپرځوني درشل ته نږدې کړی ؤ خوښې ساري ورانیو اوانسان وژنې څخه وروسته دهغه وخت شرایطو بلشویکانو ته موقع ورکړه چې د«پرولتاریا دیکتاتوری» په نوم بربریت ته دوام ورکړي اودکمونیزم ضدور پیل شو .

روسي کمونستانو چې لینن یې په رأس کې قراردرلود

دمنځنی آسیا په ټولو اسلامي خپلواکو هیوادونو کې کوم چې په روسي امپراطورۍ پورې په جبري توګه تړل شوي وو کمونستي حکومتونه جوړکړل .

دوی دعسکري قواؤ پواسطــه سره منګولیا (مغلستان) اشغال اوترخپلې سلطې لاندې راوستله په هغه کې یې دخپلـې خوښـې کمونستي حکومت رامنځ ته کړ خو په علني یارسمي ډول سره یې په خپله خاوره پورې ونه تړله .

بیایې بخارا اشغال اوپه هغې کې

> *افغانانو دغه د کمونیزم اومادیّت بـــت دهـغې الهی معنوی قوی په زور مـات کـړ په کـومـه یـې چـــې چـــنګیز راپرځولـــی ؤ اوداڼت یې په هـمدغه معنوي قوه پرمخـــکـه راوغورځاوه پـه کـومـه چـې یـې انـــګلیـــسان‌مات اوځـمـلولي‌و و .*

یې اسلامي حکومت اونظام له منځه یوړ اوپرځای یې کمونستي حکومت پکې جوړکړ او دخپلې خاورې جزیې وګرځوله .

په دوهـمـه نړیواله جګړه کې (۱۹۳۹– ۱۹٤٥ م) کې یې بالتیک بحیرې ته څیرمه خپلواک هیوادونه (لیتوانیا ، استونیا ، لیتویا) اشغال اوپه روسي کمونستي امـپـراطـورۍ پـورې یـې وتـړل همدارنګه دهمدې جګړې په نتیجه کې یې درومانیا یوه برخـه (مالداویا) دهغه هیواد څخه جدا اودخپلې خاورې جزیې وګنله اودحتیځې اروپا یو شمیر هیوادونه یې (چکوسلواکیا ، پولنډ ، هنګري ، بلـغاریا ، رومانیا او دالمان یوه برخـه) ونیول اوپه هغوي کې یې دخپلې خوښې کمونستي حکومتونه جوړکړل چې په نـتیجـه کې یې نکړشوي هیوادونه ترخپلې سلطې او ارادې لاندې راوستل.په همدې ترتیب سره دجاپان یو شمیر جزیرې یې دهمدې دوهمې نړیوالې جګړې په بهیر کې اشغال اودخپلې خاورې جزیې وګڼلې .

بیایې په (۱۹٤۹ م) کال کې دچین څخه دجاپاني استعمار ګرانو دشړلو په پلمه هغه هیوادته پوځونه مـارش کـړل اوپـه چـیـن کـې یـې کمونستي حکومت رامنځ ته کړ روسـانو لاوس اوویـتـنام تـرخـپلـې اغیزې نفوذ اوارادې لاندې راوستل اوپـه شـمـالـي کـوریـا ، کیـوبـا ، یوګوسلاویا اوالبانیا کې دروسي کمونستي امپراطورۍ ترسیورې لاندې کـمـونـسـتـي حـکـومـتـونـه جـوړشـول ، کـامـبـودیـا ، انـګـولا اوحبشـه یی دروسی کمونستي امپراطورۍ سیارې وګرځولې ، اوهـم یی په یـمن، موزمـبیق اویو شمیر نورو وروسته پاتې هیوادو باندې اغیزې وشندلې په دې ترتیب سره پـه نړی کې پـه مـلیونـونـو ولـسـونـه دروسـي کـمـونـسـتـي امپراتورۍ ښامار پـه زهرو تـبـاه

اوبرباد شول .
خوډکمونیزم دغه تور او ورانوونکي استعماري سیلاب دپراخیدو صعودی قوس هغه وخت نزولي حالت اختیار کړکله یې چې دافغانانو اسلامي خاورې اودغه دباتورانو اوننګیالو کورته رامخه کړه .
افغانانو دغه دکمونیزم اومادیت بُت دهغې الهي معنوي قوې په زور مات کړ په کومه یې چې چنګیز راپرځولی وُ اودابُت یې په همدغه معنوي قوه پرمخکه راوغورځاوه په کومه چې یې انګلیسان مات اوځملولي و و .
روسانو په ۱۳۵۷ هـ ش کال دثور په ۷ نیټه دخپلو اجنټانو (دخلق اوپرچم ډلو) په واسطه سره دافغانستان په اسلامی او خپلواک هیواد کې کودتا ته سازمان ورکړ اودې لارې څخه یې دجنوب په لوري دخپلې کمونستي امپراطورۍ ریښو زغلولو ته دوام ورکړ خو دافغانستان دیندارو او وطن دوستو ولسونو روسي نماینده ګان ډیر زر په ګونډوکړل اوکله یې چې دروسانو ټولې استعماري دسیسې دایمان اوحق په زور دیوې مخې شنډولو ته نږدې کړې ، روسي استعمارګر پوځونه د۱۳۵۸ هـ ش کال دجدی په شپږمه نیټه زموږ هیواد افغانستان ته داخل شول په مقابل کې دافغانانو هغه جهادي پاڅون چې دمخه دروسانو دمزدورانو(خلقیانو اوپرچمیانو) پرضد پیل کړی وُ څو چنده پیاوړی اوځواکمن شو او سم دلاسه دافغانستان په اسلام اوخپلواکی مین ولس یو ځلې بیا خپلې سپارې ، اوژغونه په کروندو کې پریښودل اورمې ګلې یې په غرو کې تورو ، تبرونو اوټوپکو ته یې لاس کړ اوداځل یې بیا دالحاد اوتیري کوونکو سره دمقابلې میدان ته ورودانګل اودحق اوباطل په دغه معرکه کې یې دالله په نوم اودخپلوپاکو وینو دتویولو په زور دماتریالیزم اومادیت برجونه ونړول اوالله تعالی ددغه پتمن اومجاهد ولس پواسطه سره دکمونستي استعمار شکست پیل کړ.
په دې حساسه تاریخي مرحله کې دیادولو وړتکی دادی چې پر افغانستان باندې دروس مستقیم نظامی تیري څخه وروسته نړیوالو ته دروس کمونستي امپراطورۍ بربریت اودهغې استعماري ماهیت لانور هم ښه څرګند شو نودې لپاره چې روسانو خپلې بدمرغې څیرې ته نوی او غولوونکی رنګ ورکړی وي د ۱۹۸۵ کال څخه راپه دې خوايې دګلاسنوست اوپر ستروېکا په نوم دچل اوفریب نوی استعماري سیاست پیل کړ اوپه خپله امپراتورۍ اوددوی تر سلطې اوارادې لاندې یو شمیر هیوادونو په دولتي جوړښتونو کې یې ظاهري بدلونونه رامنځ ته کړل چې په واقعیت کې پردغو هیوادونو باندې ددایمي تسلط اودنړۍ په نورو هیوادونو کې دنفوذ پخاطر دنویو اوخطرناکو استعماري پلانونو دعملي کولو پیلامه ده نو دکمونیزم اوروسي کمونستي استعماردبشپړې ماتي پخاطر ضرور ده چې دغه دخطر اومصیبت منبع په نړیواله سطحه باندې په سیاسي ، اقتصادي ، نظامي او ایډیالوژیکي اړخونو کې ترهغو پورې وځپل شي ترڅو چې دهغوی وروستي موضع اومقاومت ځایونه نړې وړې شي اوپه نړۍ کې دسعادت سولې اوامنیت وږمې خورې شي . « نوربیا »

د گورباچوف اقتدار د زوال په درشل کې

ژباړه : شکورمحمد

دډېرو سکرو دکارگرانو اعتصاب اودمسکو په زرگونو ښاريان چی ديو لوی مارش په شکل ديالتسين په ملاتړ سره راټول شوی وو ، دگورباچوف له حکومت څخه لاره ورکه کړی ده.

کله چی له دوو سوو زرو څخه زيات مارش کوونکی چی ديو لوی قوت په شکل راڅرگند شول ، هغه بنديزچی دگورباچوف له خوا په حکومتی ضد غونډولگيدلی و ، په اسانی سره له منځه يوړ ، سره له دی چی دمسکو په لارو او کوڅو کی په زرگونو پوليس اوبی شميره عسکری ټانکونه له پخوا نه ځای په ځای شوی وو ، خوبيا هم دگورباچوف مخالفين اوديالتسين ملاتړکوونکی دمسکو په کوڅو کی سره راغونډ شول اوخپل هغه تريخ سياسی پيغام يی دحکومت دوروستی فرمان پرضد دگورباچوف غوږو ته ور ورساوه خودټولو خلکو په ذهنو کی همدايوه پوښتنه تکرارېده ، چی اخرولی کريملين دومره زيات پوځونه راغونډ کړی وو ددی لپاره چی دکريملين واکداران ځانونه دخپلو خلکو قهر اوغوسی څخه بچ وساتی .

خوگورباچوف په دی بی ځايه پوځی ځواك ښوونی بی له دی چی دخپل حيثيت دټيټوالی وسايل پخپله برابر کړی نور هيڅ نه شی حاصلولای .

دپوځ ديوه منظم ټولی له منځه چی په عسکری يونيو فورم ملبس وو ناتاليا کوسيتسکا يا چی ۵۰ کلنه وه اودماسکو په عسکری روغتون کی کارکوی په داسی حال کی چی په پرله پسی توگه يی اوښکی له سترگو بهيدلی ووېل :چی ما هيڅکله هم داگومان نه کاوه چی گورباچوف به داسی ناوړه عمل وکړی .

اويادا چی په تيرو دوو کلونو کی به ورځينی يو داسی سترشيطان جوړشوی وی لکه چی ليده شی «عسکری کتار لا همغسی په

حرکت کی و چی زیاته یی کړه »
دابو جنایت دی ...جنایت »
دګورباچوف له دی غوښتنی څخه چی خلك دی دژوندانه په ټولو برخو کی دخپلواکی دراوستلو لپاره خپل ابتکارونه په زړورتیا سره راڅرګندکړی ، ټول دوه کلونه لانه دی تیرشوی ، اوبیا ویل به یی چی «پریستوریکایو انقلاب دی » خودده له دی اعمالو څخه معلومیږی چی داهرڅه لفظی وو او له دی تیرو مظاهرو څخه معلومیږی چی له یوی خوا دروسیی خلك دده فرمان ته غاړه نه ږدی اوله بلی خوا ورځ په ورځ دده دسیاسی رقیب بوریس یالتسین ملاتړ مخ په زیاتیدو دی او یوه بله دپام ورخبره داده چی داوکراین دمعدنو په زرګونو کارګران غربی سایبریا ته تللی اوپه همدغه ښارکی یی له خپلو خپلوانو سره یو ځای دګورباچوف داستعفا غوښتنه کړی همدارنګه دکارګرانو داعتصاب مسله هم دروسیی رنځور اقتصاد په خیر ځنثي کیدو ته نژدی شوی ده چی له کلونو راهیسی دیوی لویی لانجی په شکل روسی حکومتوته ورتر غاړی ده کله چی کمونستانوپه پارلمان کی دننه یوه خصوصی غونډه وکړه نودهغی په ترڅ کی یی پریکړه وکړه چی دیالتسین پرضد دی دبی اعتمادی له ووټ څخه کارواخستلی شی .

نواوس اکثره خلك داګومان کوی چی بدلون غوښتونکی به ډیر ژر دګورباچوف داستعفا غوښتنه اوبیا دبالتیك دجمهوریتو لپاره دبیل اوجلاپوځ له غوښتنی څخه تریوی لنډی مودی پوری تیرشی ، یالتسین دپارلمان له ۱۰۶۸ تنه ولسی استازو له ډلی څخه دیوه محدوداقلیت له خوا ملاتړ کیده خو څو ورځی پخوایی درفریندم دغوښتنی له امله زښت زیات ملاتړحاصل کړ ، درایو ورکوونکو په سلو کی ۷۰ تنو دیالتسین ددی غوښتنی چی رئیس جمهور دی دټول ملت له خوا په مستقیمه توګه انتخاب کړی شی هرکلی ووایه اوهمدارنګه دتیری اونی مارش چی له رفریندم څخه پخوایی اعلان شوی و ، په ښکاره توګه دراتلونکو سیاسی حالاتو تصور راڅرګندوی .

دګورباچوف هغه وړاندیز چی له پارلمان څخه یی ددریو اونیو لپاره په عمومی مظاهرو دبندیز غوښتنه کړی وه دخلکوله داسی سخت مخالفت سره مخ شوه چی په اسانی سره ورڅخه داڅرګندیږی چی په روسی پارلمان کی دولس استازی اوس هم له تهدید څخه نه دی خلاص شوی ځکه دماسکو اوسیدونکو له داسی سخت مخالفت څخه په ښکاره توګه راڅرګندیږی چی په پارلمان کی دولس استازو په ښکاره او مطلق اکثریت سره دیالتسین دسوو نارو او چیغو ملاتړونه شو کړای چی یوشمیر استازی په زوره دګورباچوف ملاتړ ته اړ ایستل شوی وو .

اوهمدارنګه له یوی خوا رئیس جمهور ګورباچوف دمحلی

پولیسو څخه صلاحیت سلب او دملی امنیت وزارت ته یی وروسپاره ، دملی امنیت وزارت په هغو ټولو وسایلو لکه توپچی ، پوځی گارد اومنظم ټولی چی که مظاهره کوونکی په هر څومره لوی تعداد کی دی په اسانی سره غلی او ځپلی شی .

اوله بلی خوا یی تبلیغاتی منابع لکه « پراودا » دکمونستی نشراتو ورځپانه دروسیی دلومړی وزیر « والنتن پولوف » مسلسل تهدیدی بیانونه « چی کمونستی ضد سخت دریځو » دکودتا پروگرام جوړکړی اویا پر کریملین وروستی برید پیل شوی دی په سختو انقلابی الفاظو کی نغاړی اوخپروی یی .

دسه شنبی دورځی په سهار کی مسکو تقریبا ۰۰۰ . ۵۰ منظمو پولیسو ، پوځیانو اودکورنیو چارو امنیتی پولیسو په خپل لاس کی نیولی و.

دکریملین خوا وشاته ټول میدانونه اوکوڅی په پوځی شویلو اوتوپوړکی وی پوځیانو گوتی پر ماشو اوسترگی پر زړو سپڼخی کړی وی ، داسی سکاریدل گوندی چی همدا اوس له دښمن سره په جگړه بوخت دی .

گورباچوف یوورځ دمخه له عمومی مارش څخه خپلی سیاسی ماتی ته متوجه شوی و ، ځکه دروسی پارلمان په سلو کی (۶۰) له یوی خوا دگورباچوف دهغه وړاندیز چی په تظاهراتو به بندیز وی موافقه رایه ورکړه اوله بلی خوا یی دیالتسین له ملاتړکوونکو سره هم غوندی کړی وی اومشوره یی ورکړی وه چی مظاهرو ته دی دیوه احتجاجی مارش شکل ورکړی .

دمارش منتظمینو غوښتل چی لومړی به دکریملین دخوا وشاپه نږدی میدانو کی سره راټول اوبیا به سره په گډه د«منیزمیدان» ته ځی داچی پوځی قطعاتو دنوموړی میدان ټولی کوڅی دخلکو په وړاندی بندی کړی وی نودوی هم بی له کوم اخ ودب څخه په مختلفو میدانو کی مارشونه ترسره کړل په هغه نمایش کی گورباچوف دخلکو دخوښی اود«پرگنو خلاقیت » گانی ، خلک ورته په بله راتاوشول اواحتجاج په توگه ورته - په بامونو ، برنډو لارو کوڅو او لویو میدانو لکه مایکوفسکی ، اوداولدارییات میدان ته راوروتل اوهغه حکومتی ضد شعارونه چی له ځانه سره یی نقلول پری لیکلی شوی و چی «گورباچوف دی استعفا ورکړی» او«وروڼو روسیه دکمونستی گوند له اقتدارڅخه وژغوری . »

په دغه ورځ کی مارش کوونکو نور هیڅ هم لاس ته رانه وړل دومره خو یی وکړی شول چی دگورباچوف دحکومت ویره دخلکو له زړونو څخه لری کړی دمخالفینو له جملی څخه یو تن وویل چی « زموږ نننی راټولیدنه له ویری اوډار څخه دخلاصیدو پیلامه ده اوله حکومت څخه دویری اوډار پرضد مبارزه ورته

ویلی شو ».
اوهمدا جرأت دگورباچوف حکامو ته دیوبل افت پیغام دی .
په همدغه ورځ دولتی تلویزیون دمعمول مطابق خپله پخوانی پروپاگنده هماغسی جاری وساتله اوپه بی اعتنایی توگه یی دورځینو حالاتو په بیان کی دمارش یادونه هم ونه کړه ، خو ویاند یی زیاته کړه چی «موږ په پرله پسی توگه دموجوده مشرتابه اویا اوسنی نظام دبدلون غوښتنه نه شو زغملای . »
خو داغوښتنی اکثرا له هغو مهمو اوله قهره ځینی ډکی طبقی له پلوه راپورته شوی دی چی په روسیه کی دهمدغی طبقی یعنی د«پرولتاریا ددیکتاتوری » په منظور انقلاب ترسره شوی و .
داوکراین په دونیتسك کی چی دډبرو سکروخورا مهم مرکز دی داعتصاب کوونکو دجرگه گی له خوایو داسی پوستر چی انصاف یی یوه موهومه کیسه گنلی وه پردیوال ځړول شوی و ، پوستر داسی کښل شوی و چی یو روسی کاریگر پر ځنځیرونو تړل شوی ، په غاړه کی دکی ، چی ، بی لیبل پروت ، پر اوسپنیز ملابند یی ورته دپروپاگند کلیمه لیکلی اوپر هغه خورا لویه اوسپنیزه گلوله چی ده په ځان پسی راښکلـه « دروسی کمونست گوند »لیکلی و .
اولاندی په کپشن کی یی ورته داسی لیکلی و « موږ کارگران بی له ځنځیره نور هیڅ نه لرو چی له لاسه یی ورکړو ».
ماراکوف چی په نوموړی ښارکی داعتصابی جرگه گی له مشرانو څخه شمیرل کیږی ویلی چی دوه کاله پخوا هم موږ اعتصابونه کړی وو او گورباچوف زموږ اعتصابی عمل ستایلی اودښو معاشاتو ژمنه یی له موږ سره کړی وه ، خو اوس یی هرڅه هیرکړی دی اوموږ سره په دی متفق یو چی موږ دهیواداقتصاد لپاره ډیر زیارونه گاللی دی اواوس به یی دسیاسی بدلون لپاره گالو .
دگورباچوف بی کفایته حکومت هره لحظه دانقلابیانو له تهدید سره مخ دی خو یالتسین تیره اونی پردی بریالی نه شو چی درياست جمهوری دانتخاباتو لپاره دخپل وړاندیز یا پیشنهاد منظوری له پارلمان څخه واخلی او په راتلونکو نژدو میاشتو کی به یو حل بیا هم پر خپل وار سره پر نوموړی موضوع خبری کیږی خو دمسکو لارو اوکوڅونه دداسی لویو پرگنو راوتلو دیالتسین امید لاپسی زیات کړی دی لکه څنگه چی همدغو اتحادیو په چکوسلواکیا اوشرقي جرمنی کی کمونست حکومتونه له پښو وغورزول همدارنگه به دلته دروسی کمونست گوند دزوال سبب هم شی .
نه خو دروسی کمونست حکومت نن سبا دهیواد پیداوار پر مخ بیولی شی ،نه دخلکو اعتماد حاصلولای شی اونه په زور څه نتیجی ته رسیدلی شی گرچی تیره اونی گورباچوف یوځلی بیا پخوانی تیاری ورځی اوپه ځنځیرو تړلی خیالونه خلکو ته دپوځی نمایش په هنداره کی وښود چی له هغی هم څوك ونه ډارشول .

الحاج مولاناجلال الدين حقاني په لاهورکي دجمعيت العلماي اسلام په يوه پرتمينه غونډه کي وويل:

دخوست جګړه هغو بيوزلو

سياست نکوي اودسياسي اقتدار

دروان کال دثور مياشتی په ۷ نيټه دپاکستان دپنجاب ولايت په مرکز لاهور کی دجمعيت العلمای اسلام جوړيدونکی غونډی ته دجمعيت دمشر سناتور مولانا سميع الحق په بلنه دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدين حقانی دخصوصی ميلمه په توګه دعوت شوی ؤ .

لدی مخکی هم دپاکستان دپنجاب علماوو- دانشمندانو - ژورنالستانو اوخلکو له خوا دخوست له فتحی وروسته څو څو واره هيله څرګنده شوی وه چی دمحترم حقانی صاحب په ليدو مشرف شی اودخوست دفتحی جريان له دوی څخه واوری ددغو هيلو اوغوښتنو په پام کی نيولو له مخی محترم حقانی صاحب دخپلو ګڼو جهادی مصروفيتونو سره سره دا سفر غوره کړ اودجمعی په ورځ لاهور ته روان شو .

دجمعی ورځی دمازديګر په پنځه نيمو بجو محترم حقانی صاحب اودده ملګری دپيښور هوايی ډګر ترمينل ته ننوتل اوداسی محسوسيدله چی نن دپيښور هوايی ډګر - اوهلته موجود کسان اوحفاظتی عمله دخپل ژوند اوموجوديت په اوږده زمانی واتن داسی څوك ګوری چی ډير نه لږ موده مخکی يی دخپلی توری اوتدبر له مخی دکفر اواستعمار په مانيو يوه نوی زلزله ګډه کړه ديوه نوی دور پانه يی اړولی ديوه نوی باب له مخ څخه يی پرده پورته کړی اويو نوی فصل يی دجهاد اومبارزی په اوږدو کی پرانيستی دی .

نن دپيښور په هوايی ډګر کی دټولو سترګی په يوه نقطه ، يوه څيره اويو شخصيت کی ښخی وی ، ټول نظرونه يوی خواته متوجه وو دټولو په وړاندی ديوه ستر فاتح - يوه قهرمان مجاهد دتوری اوفتحی باب غوړيدلی و .

دټولو په خولو دخوست فاتح جلال الدين حقانی نوم وو.چی کتل به دی نو يو بل ته به يی په خبرو کی دخوست دفاتح حقانی نوم اوريده.ددغه ډګرافسرانواو خلکو ددنيا دډيرو پادشاهانو - صدراعظمانو - او وزيرانو راتګ استقبال او سفر- ونه ليدلی وو،دهغوی دبدبه ، حکومتی اعزازونه اومراسم يی څو څو واره ليدلی و خو نن چی

مجاهدینو پلان گذاري کړه چي مینه اوهوس یی په زړونو کی نشته

راپور تاژ : شهرت ننگیال

دهغوی په سترگو کی له ظاهری دبدبی اوشوکت څخه بی نیازه داسی یو شخصیت دخپل ایمان داسی بی تاجه پادشاهی نه وه کړی .
دامنظره - داهیجان - اودماغونوداانگیرنه خوندی اوانځور کړی .

او عظمت په روحانی قوت ددوی زړونه ، نظرونه اوفکرونه په ځان پسی راکښلی وو چی دنړۍ پادشاهانو اوزمامدارانو هیڅکله هم ددوی په زړونو اونظرونو دااحساس اوداجذبات دقلم په څوکه دکاغذ پرمخ نشی انځوریدلی، قلم اوتصویریی نشی تمثیلولی، یواځی احساس اوجذبات کولی شی دزړونو الوتکی ته په ختلو یو ځل بیاداصحنه تکرار شوه یو ځل بیا دالوتکی دننه نظرونه یوی څیری اویو شخصیت ته متوجه شول اویو ځل بیا دجذباتو






دمنبع الجهاد البم

ازراست به چپ ، برید جنرال گل اقا ، برید جنرال محمد عظیم ، دگرجنرال محمد
ظاهرسوله مل ، برید جنرال مصطفي ، برید جنرال محمد قاسم

دکابل رژیم داسیرو افسرانو ځیني دلي







اواحساساتو ځپې توپاني شوې یوځل بیا دخوست دفتحې هنګامه توده شوه ، یو ځل بیا دافغان ولس دعظمت اوقربانۍ یادګارونه رامخې ته شول .
الوتکه دفضا په وسعتونوکې مخ په وړاندې تلله خو دناستو کسانو سترګې اونظرونه یو داسې شخصیت په لور کاږه وو

چې رنګ اووړل ول پتکې اودنګې شملې یې دیوه قام دعظمت یادونه څلول - عقابې سترګو یې دیوه ولس دقهرمانیو او غورځنګوتاریخونه سپړل ، پراخ تندر یې دحق په لار کې دثبات او ټینګار ژوندۍ بیلګې اودرسونه وړاندې کول.غوړیدلې تندې یې د ژوند او مبارزې په کړاوجنو اوترخو شیبو کې دتدبیر، عزم او پولادي ارادې

وړانګې څلولې .
دماښام ۸ بجې وې چې الوتکه دلاهور په هوایي ډګر کوزه شوه الوتکې ته نژدې دجمعیت العلماي اسلام مشر سناتور مولانا سمیع الحق اودپنجاب ګڼ شمیر مخور، پوهان ، لیکوال او ژورنالستان ولاړوو- دپاکستان داطلاعاتو اونشراتو پخواني

وزیر راجه ظفر الحق، دتعلیم وزیر سید فخر امام اود پارلماني چارو وزیرچودري حسین چې هغوی هم په هوایي ډګر کې موجود وودحقاني صاحب استقبال ته ودریدل اودخوست فاتح ته یې ښه راغلاست ووایه.
دلته یو ځل بیا دپیښور دهوایي ډګر په څیر دخلکو په ګڼه ګونه کې پوښتنې او شور او زوږ پورته شو ، چا پوښتنې کولې

چا دخوست دفاتح نوم اخیست .
دټولو پام هغه لوري ته و چې په ظاهري بڼه یو درویش هلته داسلام دعظمت اوفتحې یادونه سپړل خو په حقیقت کې یې دروس اووارسا دپوځې ځواك په تندر کې دحق جوهر داره توره ښخه کړې وه .
خبریالانو مسافرو په مخه ښه کوونکو اواستقبال کوونکو ټولو دده خواته مخه ونیوله دټولوپه خولو زړونو داخبره ګرځیده چې دغه درویش مجاهد دکمونیزم دوحشت اواستبداد هیولا دړې وړې اودظلم اواستبداد ماڼۍ یې له بیخه ونړولې .
هو ! نن دخوست فاتح داسلام دبرم اوعظمت دلاري سپه سالار ددوی په وړاندې ولاړو اودوی دهغه په لیدو دخوښۍ اوحیرانتیاپه څپولاهو و.
حقاني صاحب دخوست دفتحې په رابطه هغوی ته لنډتوضیحات اوپدې اړه یې دهغوی پوښتنو ته ځوابونه ورکړل .
لدغو شخصیتونو سره له لنډ ملاقات وروسته خبریالانو دمرکې هیله څرګنده کړه ، دلاهور دجنګ ورځپاڼې نماینده له حقاني صاحب څخه دخوست دفتحې اوهلته دمجاهدینو دخپل منځې تعلقاتو په رابطه

پوښتنی وکړی حقانی صاحب په ځواب کی وویل :
مجاهدین پخپلو منځو کی متفق دی - دجنګ په قومانده اوجریان کی هغوی څه مشکلات نلری،په خوست کی مجاهدین دیوه مثالی اتحاد له مخی دغه ستر بریالیتوب ته ورسیدل دمجاهدینو اوقومانداناتو په منځ کی اختلاف نشته که اختلاف وي نو هغه به دسیاسی لیډرانو په منځ کی وی ....
له یوی لنډی مرکی وروسته دسناتور مولانا سمیع الحق له خواپه شوی میلمستیا کی دګډون له پاره دموټرو دیوه ستر جلوس په بدرګه روان شو و، له ماښامنی وروسته مو شپه دشان اسلام جومات له وروڼو سره تیره کړه ، سهار یی له لمانځه وروسته په یوه مختصر پروګرام کی حقانی صاحب ته دوینا بلنه ورکړه .
حقانی صاحب په لنډو ټکو کی دخوست دفتحی او دمجاهدینو دراتلونکی جنګی حکمت عملی په رابطه وویل :
دخوست فتحه دمجاهدینو اوټول اسلامی امت دیره ستره فتحه او سوبه ده .
کوم جنرالان اولوړ رتبه پوځیان چی مجاهدینو نیولی هغه ورځ په ورځ دمجاهدینو داخلاقی اواسلامی روش له مخی واقعیتونه بیا مومی،درژیم له پالیسیو اوپلانونو څخه پرده پورته کوی اوداوایی چی که موږ داسی خبر وای لدی مخکی به خپله مجاهدینو ته تسلیم شوی وو .
داالله تعالی حکمت دی چی کله ناکله له خپلو بندګانو اومسلمانانو سره دکفارو اوددوی ددښمنانو په واسطه مرسته کوی ، په خوست کی همداسی وشول اودکفارو په لاس جوړه شوی وسله اوامکانات الله تعالی ددوی په واك کی ورکړل اوله همدی لاری مجاهدینو ته دومره امکانات اووسایل په لاس ورغلل چی هیڅ دنیا وی قدرت دومره مرسته له مجاهدینو سره نه شوی کولی .
که له مجاهدینو سره چا مرسته کوله هم نو په یوه برخه کی به یی کړی وه،خودخوست په فتحی سره الله تعالی له مجاهدینو سره په هره برخه کی مرسته وکړه .
خوست ډیره لویه منطقه ده چی مساحت یی له کویت څخه زیات دی او دوسایلو له اړخه دټول هیواد په سطحه ډیره غنی اوپراخه سیمه ده .
حقانی صاحب په خپلو خبرو کی وویل :
وروڼو ! دمجاهدینو جهاد دالله تعالی په فضل بریالی پر مخ روان دی ،دخوست له فتحی وروسته په ټول هیواد کی یو نوی جهادی تحرك اوخوځښت پیدا شو، په ډیرو برخوکی پر دښمن ډیری حملی پیل شوی اودمجاهدینو ډیری فتحی په برخه شوی .حقانی صاحب دخپلو خبرو په پای کی وویل :
موږ دراتلونکی له پاره پر نورو

> کوم جنرالان اولوړ رتبه پوځیان چی مجاهدینو نیولی هغه ورځ په ورځ دمجاهدینو داخلاقی اواسلامی روش له مخی واقعیتونه بیا مومی درژیم له پالیسیو اوپلانونو څخه پرده پورته کوی اوداوایی چی که موږ داسی خبر وای لدی مخکی به خپله مجاهدینو ته تسلیم شوی وو .

ستراتيژيکو ځايونو دحملې پلان ترلاس لاندې لرو اميد دی چې ډير ژر دهمداسې يو مخيزو او مشترکو عملياتو له لارې مجاهدين گرديز ، غزنی او لوگرهم فتحه کړي .

دشنبې په ورځ په جامعه عثمانيه کې دجميعت العلماء اسلام په غونډه کې حقانی صاحب دخصوصی ميلمه په توگه برخه درلوده له غرمې مخکې په لسو بجو کله چې حقانی صاحب دجامعې انگړ ته ننوت دهرکلی کوونکو له خوا يې «امام شامل ثانی فاتح خوست» جلال الدين حقانی ، جلال الدين حقانی زنده باد په نارو ډير دروند اوتود هرکلی وشو .

حقانی صاحب لومړی دجامعې جومات ته ولاړ اوله دوه رکعته لمونځ وروسته يې دجامعې ددارالافتاء شعبې څخه کتنه وکړه هلته يې دپنجاب گوټ گوټ له علماوو سره خبرې وکړې اودخوست دفتحې اودالله تعالی دغيبي نصرت اومرستې په هکله يې توضيحات ورکړل .

په يوولسو بجو چې غونډه شروع کيده دانانسرله خوا مسلسل په غونډه کې دااعلان کيده چې دادپنجاب دخلکو ډير افتخار دی چې دخوست فاتح امام شامل ثانی جلال الدين حقانی دهغوی په بلنه دلته تشريف راوړی دپنجاب علماوولس حقانی صاحب ، دده مجاهدينو، افغان مجاهد ولس اوټول امت ته دخوست دفتحې مبارکی وايي اوپه افغانستان کې داسلامی حکومت دقيام دعا کوي .

په غونډه کې دپنجاب دهرې ضلعې نماينده گانو اواميرانو خبرې وکړې دغونډې لومړی برخې په پای کې مولانا سميع الحق ستهيج ته راغی اوالحاج مولوی جلال الدين حقانی دژوند شخصيت، علمی مقام اومبارزې په هکله يې په لنډو ټکو کې وويل :

دازمونږ ډيره ستره نيکمرغی ده چې داسلام ديوه سترسپه سالار اوجنرال دخوست فاتح امام شامل ثانی حضرت مولانا جلال الدين حقانی چې پدې نژدې کې يې دخپلو نورو فتوحاتو په سلسله کې دخوست دفتحې وياړهم گټلی زمونږ په غونډه کې برخه اخيستې اوعالمانه ويناکوې .

خوست چې په کوچنی مسکومشهورو، اودنجيب له پاره يې حياتی ارځښت درلود دامت دهمدغه عظيم جنرال دتوری اوتدبر په برکت فتحه شو، نن دهر ځوان ، هربوډا اوهرماشوم په خوله مولانا جلال الدين حقانی نوم گرځي .

ده په حقانيه دارالعلوم کې زده کړه کړې اوهلته مدرس پاتې شوی. ١٤ کاله دجنگ په سنگرونو کې او داور په لمبو، دباروتو په بوی ، دگوليو په باران کې دالله تعالی په حضورکې په سجده پروت دی.

سناتور صاحب وويل دافغانستان جهاد دعلماي حق په

لارښوونه پیل شوی جمعیت العلمای اسلام محترم حقانی خپل وجود ګڼی جمعیت پولی اوسرحدونه نه منی ، دی زمادوالد محترم مولانا عبدالحق (رح) مخلص شاګرد اونژدی ملګری پاتی شوی چی په ډیره سختی اوبی سراوسامانی کی یی په تش لاس جهاد شروع کړی اودادی اوس یی دکمونیزم بنیادونه ونړول ، دخوست په معرکه کی دامریکا او روس دواړو موقف یوډول وو، خوده دروس اوامریکا ټولی توطئی له خاورو سره خاوری کړی .

مولانا سمیع الحق وویل :

زه جناب حقانی اودده ملګرو ته ښه راغلاست وایم او داډاډ ورکوم چی جمعیت اوعلمای حق ستاسی په څنګ کی دی ستاسی حکم او هدایت ته سترګی په لاره دی .تاسی چی څنګه حکم کوی موږ هری قربانی ته تیاریو کله چی مولانا سمیع الحق له حقانی صاحب څخه دوینا دعوت وکړ ـ

یوځل بیا دامام شامل ثانی فاتح خوست جلال الدین حقانی چیغو ځمکه اوفضا په سرواخیسته حقانی صاحب له حمد او ثنا وروسته په خپله اوږده اوعالمانه وینا کی وویل :

محترمو ورونو !

لومړی زه له تاسی درنو علماوو څخه مننه کوم چی پدی غونډه کی تاسی څو څو واره دافغانستان دجهاد ملاتړ اعلان اودالومړی ځل و چی په نننی عصر کی دجهاد باب پرانیستل شو چی داټول دالله تعالی دهدایت توفیق اونصرت نتیجه ده .

کړزه تاسی ټولو ته دعزت مغفرت اوسعادت دعا کوم .

درنو ورونو که څه هم وخت کم دی بیا به هم په لنډه توګه دافغانستان دجهاد په رابطه تاسی ته معلومات درکړم .

وروڼو! دافغانستان له جهاد څخه مخکی دجهاد نوم دځمکی په سر عنقا ګرځیدلی وو ، په افغانستان کی دروسانو مزدور اوګوډاګی حکومت اوبیا روسانو سره مقابله له عقل څخه لیری اوداسبابو له مخی ناممکنه ګڼل کیده،خو دالله تعالی په فضل مجاهدینو په تش لاس ددښمن په وړاندی مقابله پیل کړه .

درنو وروڼو! موږ ددینی علومو دتحصیل ډیره برخه په حقانیه دارالعلوم کی تیره کړی اوشیخ الحدیث حضرت مولانا عبدالحق (رح)دلار ښوونو او هدایاتو په رڼا کی مو په خاصه توګه په تفاسیرو او احادیثو کی دجهاد متعلق مباحث شخصا لدوی څخه لوستی دهمدی برکت وړانګی وی چی زموږ په زړونو کی دجهاد جذبی ځای ونیو اوموږ ته یی دجهاد توفیق راکړ ، داداسی وخت و چی په افغانستان کی حالات داسی وو چی داسلام او دینی علماوو پرضد ځرګند او مخالفانه

حرکتونه روان وو تردی چې په لیتن یی درود وایه او دپیغمبر(ص) په مقام کی یی العیاذ بالله توهین امیزه ټکی استعمالول .

په همداسی تاوجنو شرایطو کی موږ له حقانیه دارالعلوم څخه فارغ شوو، پدی وخت کی په پاکستان کی انتخابات روان وو موږ دحضرت مولانا عبدالحق په پلوی انتخاباتی مبارزه وکړه لدی وروسته هیواد ته ستانه شوو اوهلته مو دکمونستانو پرضد چې دروس اودهغه وخت دحکومت دواړو له پلوی څخه برخمن وو فعالیت شروع کړ .

پدی وخت کی زه حج ته ولاړم هلته می دعا وکړه چې یا الله ماته ددین دخدمت دهغه نژدی اولنۍ لاری دانتخاب اوپرهغی دعمل اوتلو توفیق راکړی .

ښایی ووایم چې له فراغت وروسته متصل دمولانا عبدالحق (رح) دشفقت له مخی هلته مدرس وټاکل شوم اوددوی دا خواهش و چې زه په حقانیه کی تدریس ته دوام ورکړم ، خو زه بیا افغانستان ته ولاړم اودکمونستانو پرضد می خپل جد اوجهد ته ادامه ورکړه دعوت مو پیل کړ اوددینی مدرسو بنسټ مو کیښود .

بیا چې کله جهاد شروع شو زه به کله ناکله دمولانامرحوم په خدمت کی حاضریدم دوی به ویل : زه اوس ضعیف اوکمزوری یم په عملي جهاد کی دګډون توان نلرم خو څرنګه چې دهر دینی عمل له پاره خلیفه اونائب موجود وی ته دافغانستان په جهاد کی زما قایم مقام اونائب یی.دافغانستان دجهاد په رابطه به دوی له ماسره مجلس دومره اوږد کړ چې دسختی ناروغی په حالت کی به هم داسی معلومیده لکه چې ټول تکلیف اودرد یی له وجود څخه وتلی او هیر کړی وی .

له ډیرو سترو سیاستمدارانو سره به یی دومره خبری نه کولی خو چې له موږ سره به یی ملاقات شو بیا نو به زموږ مجلس او خبری دومره اوږدی شوی چې زیاتره وخت به موږ حیاء کوله چې هسی نه دده دتکلیف باعث نه شو،خو پده دفرحت اوخوښی وخت هغه و چې له موږ څخه به یی دجهاد خبری اوریدلی .

حقانی صاحب دخوست دفتحی په رابطه وویل :

وروڼوا دخوست له فتحی وروسته به ډیر خلک دعوی کوی اوډځان په ګټه به تبلیغات کوی خودجنګ پلان او نقشه دهغو بیوزلو مجاهدینو له خوا جوړه شوی اوهغو مجاهدینو ددی جګړی پلان ګذاری کړی چې سیاست نه کوی دسیاسی اقتدار مینی او هوس یی په زړونو کی نشته دی،خو هغه څوك چې اوس ددی جګړی دعوه کوی هغه وخت یی دجګړی مخالفت کاوه،ویل به یی چې لدی هم دجلال اباد جګړه جوړیږی دافتحه امکان نلری ، په داسی حال کی چې دخلیج اوپاکستان کومکونه هم قطع شوی نو په خوست جګړه مجاهدینو ته ضربه ورکوی .

خو موږ په خپله پلان ګذاری اوپروګرام جوړونه کار شروع کړ. اونژدی څلور میاشتی موپدی کار وکړ او دروژی د مبارکی میاشتی په لومړی نیټه مو جګړه پیل کړه .

محترمو وروڼو !

دجنګ له پیل نه مخکی په دښمن سخت رعب لویدلی و دښمن ۱٦ جنرالان دغه جنګ ته راوستلی اوډیر زیات قوت یی دلته متمرکز کړی وو .

ددښمن ۸۰ ټانکونه دمجاهدینو ۹ ټانکونو چې دوه یی غیر فعال وو په مخه اخیستی وو .

دجګړی په دوهمه ورځ چې دښمن ډیره سخته بمباری کوله موږ دعا وکړه چې خدایه ته هواخرابه کړی چې الوتکی له

بمباري اوکوزیدو څخه پاتی شی همغه ؤچی وریځ خپره شوه اوددښمن هوایی قوت له فلج کیدو سره مخامخ شو .

حقانی صاحب دخپلو خبرو په پای کی وویل :

موږ له جمعیت العلماءڅخه ممنون یو چی دوی بیله کومی سیاسی گټی دافغان جهاد مرستـه کړی په تیره دمولانا سمیع الحق موقف ډیر دستاینی وړدی ،جمعیت زموږ دموقف تائید وکړ موږ په راتلونکی کی هم ورته پدی لار کی دتوفیق دعا کوو .

خو زه یو پیشنهاد هم لرم اوهغه داچی :شریعت په ناروـنه نافذ کیږی داکارعملی جد اوجهد غواړی ، تاسی باید فعالی اداری اومرکزونه ولری یو منظم جهادی تحرک جوړکړی دافغانستان جهاد ستاسی له پاره طلایی موقع اوچانس دی ، موږ که جهاد نه وی پیل کړی په شعارونو مو دروسانو مقابله نشوی کولی ، تاسی بایدمتحد شی او دجهاد له پاره یو تنظیم جوړکړی اودکشمیر او هندوستان دمظلومو مسلمانانو دآزادی له پاره تحریکونه جوړکړی اوداتحریکونه دکشمیر ، هندوستان اوافغانستان دمسلمانانو په طرفداری استعمال کړی .

واخر دعونا ان الحمد لله رب العالمین .

دغونډي په پاي قطعنامه واورول شوه چي په یوه برخه کي یي راغلي ؤ .

... جمعیت العلماء اسلام دخوست فتحه ټول اسلامي امت دخوست فاتح عظیم جنرال مولانا جلال الدین حقاني او افغان ولس ته مبارکي وایي اودعا کوي چي الله تعالي دي دخوست فتحه دټول افغانستان دفتحي اوآزادي اودمجاهدینو دحکومت دټینگښت زیري وگرځوي جمعیت دپاکستان له حکومت څخه په کلکه غوښتنه کوي چي دافغانستان په هکله دوه مخي سیاست پریږدي اودمجاهدینو پر ضد دشرق او غرب دروانو توطئو مخه ونیسي اوپدي اړه پیاوړي موقف غوره کړي .

دماښام لـه لمانځـه وروستـه خبریالانو له حقانی صاحب سره دمرکی هیله څرگنده کړه.لومړی دنوای وقت خبریال له حقانی صاحب څخه پوښتنه وکړه چی :

دخوست دفتحی په رابطه ستاسی نظریات څه دی اودراتلونکی له پاره دداډول جنگی ستراتیژی جوړولو څه پروگرام لری ؟

حقانی صاحب وویل : دخوست په فتحه کیدو مجاهدین علی العموم داسی دی لکه یو نوی روحانی قوت یی چی پیدا کړی وی ، ځکه خو زیاترو جبهاتو دخوست دجنگي ستراتیژی اوجگړی په پیروی جنگی پلان گذاری شروع کړی اودداډول یو مخیزو عملیاتو له پاره یی متحدانه کار پیل کړی دی .

داسی معلومیږی لکه دجهاد دپیل جذبه چی له سره راپیدا شوی وی .اوس دپکتیا ، غزنی او شاوخوا مجاهدینو یوه شورا جوړه کړی غواړی په غزنی، لوگر او پکتیا دمشترکی حملی لپاره تصمیم ونیسی اودهمداسی یوی واحدی قوماندی اطاعت وکړی ، پدی ډول دخوست فتحه دراتلونکو فتوحاتو یو دروازه گڼلی شو .

نوای وقت :

تاسی دجهاد په رابطه دعالم اسلام په موقف مطمئن یاست که څنگه ؟

حقانی صاحب :

دروسانو له وتلو سره دنړیوال کفر دگډو سازشونو له مخی داسی منفی تبلیغات اوهلی ځلی شروع شوی چی دهغی له امله یی داتاثر رامنځ ته کړ چی په مرستو یی هم اغیزه وکړه تردی چی ۸۰ فیصده کومکونه قطع شول خو په مقابل کی روسانو دکابل رژیم ته دپوځی اومالی مرستو سلسله له پخوا څخه هم زیاته کړه .مخکی

روسانو دكابل رژيم سره دمياشتي دوه نيم مليونه ډالره مرسته كوله چې بيا درې نيم ميلونه ډالرو او تيركال څلور نيم مليون ډالر و ته ورسيده. ددې په څنگ كې داتبليغات هم كيدل چې دافغانستان مسله دجنگ له لارې نه حل كيږې خو دخوست له فتحي وروسته وضعيت بالكل بدل شو اوداپروپاگند اوحربه چې مجاهدين لوى ښارونه نشي نيولى له كاره ولويده .

دكابل رژيم له پاره خوست ډير اهميت درلود نجيب دادځان نه ماتيدونكى سنگر گاڼه اوويل يې كه خوست مجاهدين ونيسي زه به دكابل حكومت پريږدم، نجيب خوست ولايت اعلان كړې و اوله كابل وروسته يې دوهمه درجه اهميت درلود چې له فتحي وروسته نجيب دماتم اعلان هم وكړ .

نواى وقت :

تاسې دامريكا له موقف څخه مطمئن ياست كه څنگه ؟

حقاني صاحب وويل :

زموږ جهاد دڅا دمرستو اومواقفو په نظركې نيولوله مخې ندى پيل شوى اوس خو دخداى(ج) په فضل دخوست په فتحې سره ډيرې وسلې اومهمات مجاهدينو په غنيمت ونيول اوكولى شي په ډير قوى جنگ كې ترې موثره استفاده وكړي .

نواى وقت :

روس اوس اوس په مذاكراتو اوخبرو ډير زور كوي دپاكستان دقاضيانو كوم هيئت چې روس ته تللى وو هلته يې ورته پدې خبره ډير ټينگار كړى و چې تاسې له مجاهدينو سره دخبرو او دبنديانو دخوشي كولو په رابطه مرسته وكړي تاسې پدې هكله څه نظر لرى ؟

حقاني صاحب زياته كړه:

داډول خبرې ماته بې معنا ښكارى ،دروسانو دبنديانو شمير په سلگونو دى،خو دمجاهدينو په زرگونو بنديان ورك دى ، روسان اوس هم نجيب ته وسلې وركوي ، په اسعد آباد او نوروسيمو سكډ توغندي ولي په داسې حالاتو كې دمذاكراتو پيشنهاد يو سياسي مانور او دوكه ده.

نواى وقت :

تراوسه دافغانستان څومره ساحه دمجاهدينو په واك كې ده؟

حقاني صاحب وويل :

په هيواد كې تقريباً ٢٧٠ حكومتي مركزونه (ولسوالى ، علاقه دارى) دى له ولايتونو څخه پكتيكا ، ارزگان ، باميان ، كنړ او خوست (چې هغه ته يې هم دولايت درجه وركړى وه) دمجاهدينو په واك كې دى دنورو هم يواځې مركزونه درژيم له قواو سره دى اويس. له ولسواليو څخه ٢١٥ ولسوالى او علاقه دارى دمجاهدينو تركنترول لاندى دى .

مجاهدينو تراوسه دلويو ښارونو دنيولو كوم جدي اقدام نه وكړى په خوست كې موږ ددوه دوونيمو كلونو راهيسې دمحاصري كړى ورو ورو تنگوله ، موږ په ولسې استوگنو ډزى نه كوو، رژيم له ولسي خلكو دسپر اوډال په توگه استفاده كوي موږ په خوست كې ډير كوښښ وكړ اودولسي خلكو له پاره مو يوه لار پرانستې پريښوده په هغه لورى مو هيڅ ډزى ونه كړى اوله همغى لارى خلك راووتل خو په نورو سيمو كى داكار مشكلات لرى .

پدې پسې دجنگ خبريال خپله لومړى پوښتنه داسې پيل كړه:

تاسې دجهاد له موجوده رفتار څخه مطمئن ياست كه څنگه ؟

حقاني صاحب وويل : الحمد لله بالكل مطمئن يو .

جنگ

پدې رفتار كه جهاد جريان ولرى په څومره وخت كې به مجاهدين كابل فتحه كړى ؟

حقاني صاحب وويل :

دغيب علم الله تعالى سره دى،فتحه اونصرت هم دالله تعالى له طرفه ده ، زه دومره

ویلی شم چې په خوست کې ددښمن دملاتیر مات شوی مجاهدینو ډیر لوړ رتبه افسران اوجنرالان اوپه زرګونو پوځیان ژوندي ونیول مخکې دوی تبلیغات کول چې مجاهدین له اسیرانو سره ناوړه رویه کوي خو دخوست په فتحې سره یې داتبلیغات بې اثره شول .

سره صلیب او نورو نړیوالو خیریه اوبشري مؤسساتو له دغو بندیانو سره ولیدل او مرکې یې ورسره وکړې له بندیانو څخه یې خطونه واخیستل سره صلیب اعتراف وکړ، چې مجاهدینو له بین المللی مقرراتو څخه هم زیات له بندیانو سره نیك او اخلاقی چال چلند کړی .

زه دومره ویلی شم چې اوس دنوی لمریز کال دوهمه میاشت ده زما امید دی چې لـه ژمي مخکې به ان شا الله دکابل مزدور رژیم له منځه ولاړ شي .

جنګ :

افغان عبوری حکومت شته اوکه ختم شوی ؟

حقانی صاحب وویل : زه په سیاسی موضوعاتوکی مداخله نه کوم دا دسیاسی مشرانو کاردی،خو دومره ویلی شم چې ددغه حکومت دپه رسمیت پیژندلو ضرورت هغه وخت و چې حکومت جوړشو اوس خو سیاسی لیډرانو خپله کمزوری کړې ، او هغه چانس یې اوس له لاس څخه وتلی ، ځکه هر شی یو وخت لري دوخت په تیریدو سره دهغه شی اهمیت تـه هم صدمه رسیږي .

جنګ :

داسې اوازې خپرې دي چې نجیب او ځینې نور اړخونه دافغانستان دکشالې په رابطه دمفاهمې هلې ځلې کوي.

حقانی صاحب :

موږ یوه اعلامیه خپره کړې چې په هغه کې ستاسې پوښتنې ته هم ځواب ویل شوی (اعلامیه موږ په همدغه ګڼه کې خپروو)

جنګ :

دجلال آباد دجګړې دعدم موفقیت عوامل څه وو ؟

حقانی صاحب :

دې خبرې څو عوامل درلودل :

۱-زه ګومان کوم چې دجلال آباد جګړه په پیښور کی دقیادتونو له خوا قومانده شوې وه اوبې لدې چې دجګړې دډګر قوماندانانو کومه ستراتیژي جوړه کړې دجګړې دپیل قومانده ډیرپه عجولانه توګه ورکړې شوه .

۲- جلال آبادته هوایی اوځمکنی لاری پرانستی پاتی وې که څه هم ځمکنی لار دڅه وخت لـه پاره بنده شوه خو دجګړې په جریان کې لار بیرته پرانستل شوه .

۳- هوایی ډګر تر برید لاندې نه ؤ چې الوتکې له کوزیدو څخه پاتې شی اومیدان له استفادې څخه ولویږي .

٤- هلته دجبهه یی جګړې تجربه اوسابقه نه وه ، پداسې حال کې چې په خوست له څو کلونو راهیسې جبهه یی جګړه روانه وه .

٥- مجاهدینو دخپل پرمختګ په وخت کې قوی مرکزونه او پوستې جوړې نشوای کړې چې له همدې امله به کله ناکله له فتحه شویو ځایونو څخه بیرته په شا کیدل ، پداسې حال کې چې په خوست کې مجاهدینو کوم ځای فتحه کړې هلته یې یو قوی مرکز جوړکړې بیایې هغه سنګرونه ټینګ ساتلی اوبیا ندې په شا شوي.په خوست کې دیوې اوږدې او دوامداره محاصرې له امله درژیم قواوې ورځ په ورځ کمزورې کیدې،خو په جلال آباد کې بیله دې چې درژیم قواوې دداسې یوې اوږدې او دوامداره محاصرې له امله دومره نه وو کمزورې شوې .

مابنام بیا دشان اسلام جومات ورونو له خواغونډه جوړه شوې وه اودخوست دفاتح په ویاړ میلمستیا کې دجومات ټولو لمونځ کوونکو ته دعوت ورکړشوي وو- له مابنامنې وروسته حقاني صاحب دجهاد دمختلفو ابعادو ، دخوست

دفتحی اودمجاهدینو دراتلونکو پروگرامونو اوستراتیژۍ په رابطه دوروتهو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل .

پر کابل دحملې په هکله دیوی پوښتنی په ځواب کی حقاني صاحب وویل : پر کابل له حملی مخکی داضروری ده چی یوه متحده اداره جوړه کړی شی دامنیت او نظم لاری چاری وسنجول شی چی دهرډول گډوډی اوبی نظمی مخه ونیول شی اودمجاهدینو ترمنځ کوم جنجال پیدانشی پدی توگه باید دهری برخی لپاره مسوولین وټاکل شی بیا نو هلته پر کابل حمله ترسره شی .

په خوست کی موږ همداسی یوه مشترکه اداره جوړه کړه ، او دگردیز لپاره موهم داسی یوه مشترکه اداره جوړه کړی ده .

زه فکر کوم پر کابل دحملی له پاره داسی یو پروگرام ندی تکمیل شوی-حمله خو هر وخت کیدی شی،خوچی مشترکه اواتفاقی بنه ونلری زما په خیال نتیجه به یی دومره مطلوبه نه وی .

یوبل تن پوښتنه وکړه :

په خوست کی دمجاهدینو اتحاد هماغسی ټینگ دی که څنگه او آیاپه نورو برخو کی داکارکیدی شی اوپر کابل دداسی یوی مشترکی اداری تر قوماندی لاندی دحملی کوم پروگرام شته که څنگه ؟

حقانی صاحب په لنډو ټکو کی وویل :

جنگ دمجاهدینو کار دی په خوست اوگردیز کی داکار ځکه موفق دی چی هلته سیاسی لیډران دومره مداخله نه کوی خوپه کابل کی دسیاسی قدرت لپاره هغوی حتمًا مداخله کوی که څه هم په جنگ دقوماندانانو اومجاهدینو اتفاق راځی خو په کابل کی سیاسی لیډران ضرور لاسوهنه کوی او دسیاسی قدرت دنیولو لپاره حتمًا یو اقدام سرته رسوی خوپه خوست اوگردیز کی دا کار دومره ضرور نه گڼی.

جنگ موږ متحد کولی شو خو ددوی دمداخلی په صورت کی دمشکلاتو راپیداکیدلو مخنیوی گران کار دی .

پوښتنه:

محترم حقانی صاحب !

دراتلونکی لپاره دقیادتونو اتحاد اودټول هیواد په سطحه دیووالی کوم پروگرام ترلاس لاندی لری، که څنگه ؟

حقانی صاحب وویل :

دااتحاد په سطحه موږ په ټول افغانستان کی دقوماندانانو دسرتاسری شورا په نوم اتحاد ټینگ کړی دی ددغه شورا دریمه غونډه به په نږدی راتلونکی کی جوړه شی. دتنظیمونو غړی دهیواد مخور اوسپین ږیری ، سیاست پوهان او دهری طبقی خلك به پکی برخه اخلی اودټول ملت په سطحه به یوه ملی شورا جوړیږی ، داشورا به دیوی مشترکی اداری اوارگان په جوړولو ان شاالله موفق شی، بیا نو کیدی شی هم په کابل دحملی پلان عملی شی اوهم نجیب مجبور کړی شی چی اقتدار پریږدی. دنجیب پلویانو ته مو هم لکه په خوست کي عفوه اعلان کړي اوڅنگه چي سیاسي قدرت متحد شي نجیب یوه ورځ هم نشي پاتي کیدي .

دغې شورا که لازمه وگڼله بل عبوری حکومت به جوړکړی یابه موجوده حکومت ترمیم کړی چی دټولو اړخونو اوطبقاتو له پاره دقبول وړوگرځی .

پر گردیز دمجاهدینو مقدماتی عملیات پیل شوی اودعمومی اوستری حملی له پاره مجاهدین دموضع گانو او لارو په جوړولو او دمهماتو رسولو په طریقو کارکوی .

یوه تن پوښتنه وکړه چی دمجاهدینو داختلاف اصلی علت څه دی ؟

حقانی صاحب په ځواب کی وویل : اختلاف دمجاهدینو ترمنځ نه بلکی دلیډرانو ترمنځ دی په داخل کی هم چي کله ناکله کوم اختلاف راپیدا کیږی دهمدغو لیډرانو دلاسوهنو له اړخه راپیداکیږی .

موږدراتلونکي لپاره پرنورو ستراتیژیکو ځایونو دحملي پلان ترلاس لاندي لرو امید دي چي ډیر ژر دهمداسي یومخیزو اومشترکو عملیاتو له لاري مجاهدین ګردیز ، غزني اولوګر هم فتحه کړي.

یوه بل تن پوښتنه وکړه خلیج ته دمجاهدینو لیږل تاسي څنګه ګڼی ؟

حقانی صاحب په ځواب کی وویل ماخپل مجاهدین هلته ندی لیږلی که څه هم له ما داغوښتنه شوی،خو موږ ته خوست ډیر مهم ؤ زه فکر کوم چی دسنګر مجاهدین به هلته نه وی لیږل شوی بلکی یولږ شمیر مهاجرین لیږل شوی اوګومان کیږی چی دی کار به سیاسی بڼه لرله.

یو تن وویل : ځینی خلك داسی تبلیغات کوی چی دروسانو له وتلو وروسته هلته ورور وژنه روانه ده پدی هکله تاسی څه نظر لری ؟

حقانی صاحب وویل : زموږ شاته داسی څوك اوقوت نشته چی هغه دی موږ په جنګ مجبور کړی موږداجنګ ښه پیژنو داجنګ دمسلمانانو ترمنځ ندي، بلکي دکمونستانو اومسلمانانو ترمنځ دي دادکویټ عراق یا ایران عراق ترمنځ جنګ ندی هلته ددغو هیوادونو پوځیانو پخپله جنګ نه کاوه بلکی حکومتونو جګړی ته مجبورول،خو زموږ ترشانه حکومت شته چی په جنګ مو مجبور کړی اونه کوم بل قوت .

دیوی بلی پوښتنی په ځواب کی چی که امریکا او نور هیوادونه خپلی مرستی قطع کړی تاسی په جهاد ته څنګه دوام ورکوی حقانی صاحب وویل :

دلته چی ما ولیدل دټولو په ذهن کی دکومك اوقدرت مرکز روس یا امریکا ګڼل کیږی خو زه وایم چی افغانان دالله تعالی په لار کی جهاد کوی اوس تاسی ووایی چی افغانانو ته به الله تعالی ډیر نژدی وی که امریکا ؟ که داجهاد دالله تعالی په لار کی وی،نو الله پاك به یی مرسته کوی او موږ لدی ناحیی هیڅ اندیښنه نلرو .

موږ په خوست کی دومره جنګی وسایل په غنیمت نیولی چی که بل څوك ورته ضرورت لری مرسته ورسره کولی شو، هلته موږ داسی ذخیری پیداکړی چی ترځمکي لاندی یی جوړی کړی وی اودپاسه هیڅ نه معلومیدی اوواښه پری شنه شوی وو دتیلو ذخیری مو هم پیداکړی دی .

پدغه فتحه کی ۷ جنرالان ، ۳٦۰ لوی پوځی افسران ، ۲۵۰۰ پوځیان چی دملیشی په ګډون یی شمیر له څلورو زرو هم اوړی، مجاهدینو ژوندی نیولی .

۲۰۰ موټر - ۸۰ ټانکونه - ۱۰۰ لوی او ۱۰۰ واړه توپونه ، شل زره کلاشینکوفونه او نور ډیر مواد اومهمات مجاهدینو په غنیمت نیولی دی .دیکشنبي په ورځ له غرمي مخکي په لسو بجو دجنګ فورم له خوا پروګرام جوړشوي ؤ اویوه ورځ مخکي یي په اخبارونو کي ددي اعلان هم کړي ؤ خو څرنګه چي حقاني صاحب ددوشنبي په ورځ په خوست کي دقوماندانانو شورا رابللي ؤ ځکه خو یي ددوستانو اوخبریالانو داصرار سره سره معذرت وغوښت اودیکشنبي په ورځ دسهار په ۹ بجو پیښور اوله هغي ځاي څخه یي میرامشاه ته تشریف یوړ څو ددوشنبي په ورځ په خوست کي دجهادي شورا غونډته ورسیدلي شي .

بسم الله الرحمن الرحيم

دخوست دجهادي شورا اعلاميه

لکه چې نړيوالو ته هم څرګنده ده چې دخوست فتحې دافغانستان پرقضيه ژوره اغيزه وکړه اوديو لړ بنيادي تحولاتو مخه يې پرانستله – له همدې امله موږ دالازمه وګڼله چې پدې هکله څنې مهم او ضروري ټکي اعلان کړو :

دخوست له فتحې وروسته په نړيواله سويه دافغانستان دقضيې دسياسي حل هنګامه يو ځل بيا توده کړې شوه – خولکه چې اورېدل کيږي که دا سياسي حل دنجيب له مزدور رژيم سره دګډ حکومت اويا دهغه دوطن ملحد ګوندپه رسميت پيژندلو په جهت کې وي نه يواځې داچې دافغانستان دقضيې حل اودجګړې دپاي ته رسيدو لارنشي اوارولې بلکې په بشپړه توګه غير عملي اومحال هم ګڼل کيږي .

خوکه داحل پدې معنې وي چې نجيب نظامي اوسياسي قدرت پرېږدي اودخوست له فتحې وروسته چې درژيم دملاتير او دنجيب ډير ستر نظامي او سياسي شکست دي بې له قيد اوشرط له صحنې څخه ووزي دمجاهدينو دقبول وړګرځيدلي شي .

ځکه دجګړې ددوام منشاء اوباعث دنجيب مزدور رژيم دي اوچيرې هم چې درژيم بقاياوې له منځه تللې جګړه هم ختمه شويده ، ځکه خو موږ په ډاګه کوو چې دجګړې ددوام دعامل او علت په له منځه تلو سره دجنګ داورلمبې هم سړېدلې شي .

په خوست کې دنيول شويو نظامي افسرانو په رابطه هم ليدل کيږي چې دځينو غير مطرحو اوبې مسووليته اړخونو له خوا په اصطلاح ديپلوماتيک فعاليتونه په لار اچول شويدي ، ځکه خو په سيمه کې جنګيالي قوتونه اعلانوي چې داسيرانو په هکله بايد دخوست له شوراسره چې دجګړې اوفتحې زمام يې په واک کې دي مستقيمې خبرې وشي له جنګي اسيرانو سره دټولو بين المللي اصولو اومقرراتو له مخې بلکې له هغې څخه په زيات اخلاقي بنياد چال چلند شوي – سره لدې چې دااسيران دمحاکمې وړاوجنګي مجرمان بلل کيږي له محاکمې څخه پرته دميلمنو په توګه استقبال شول اوددوې سرونو اومالونو ته هيڅ ډول تاوان ونه رسيد چې زموږ داخبره دسره صليب نړيوالي مؤسسې له دغو اسيرانو سره دخپلو ليدنو کتنو وروسته تائيد اوڅرګنده کړې هم ده.

داچې ځينې استعماري حلقې په خوست کې دچور اوچپاول اوبې نظمې پروپاګند کوي موږ مخکې هم اعلان کړي اويو ځل بيا په ډاګه وايو چې هره بين المللي اداره او سازمان کولې شي راشي دخوست امنيت معاينه کړي – هغوې به په خپلو سترګو وګوري چې دجنګ په جريان کې له تخريب شويو پوځي تاسيساتو پرته بيا نور هيڅ ځاي ته (درژيم له بمباري اوسکد نه علاوه) کومه صدمه نده رسيدلې ، نړيوالې مؤسسې کولې شي له جنګي اسيرانو سره چې ۷ تنه جنرالان له ۲۵۰۰ تر ۳۰۰۰ تنو پورې پوځيان اوافسران اودمليشاو په ګډون يې ټول شمير تقريبا ۵۰۰۰ تنو ته رسيږي ، مستقيما ووينې ، مرکې ورسره وکړي اودکډوالو اوزخميانو حالت هم و ګوري چې دمجاهدينو له خوا څومره سهولتونه ورته برابر شويدي .

موږ يو ځل بيا اعلانوو چې جنګي اسيران دمجاهدينو سره دميلمنو حيثيت لري اوسره لدې چې دوې مجاهدينو ته په کومه مفاهمه اوارتباط ندي تسليم شوي اودنجيب وفادار ملګري ګڼل کيږي بيا هم دپخوانيو اعمالونه له محاکمې خلاص ګڼل شوي البته ددوې دمستقبل ازادي اومحاکمې خبره دنجيب دمزدور رژيم اوروسانو عکس العمل پورې اړه لري .

سږکال دثور په لومړی ورځ کمونستو جلاذانو یوه بله فاجعه وزیږوله ، هغوی پرخوست اونور هیواد کی دخپلو ماتو په بدل کی دقهرمان کنړ مرکز داسعد اباد ښارپه سکاد راکټونو وویشت چی زموږ په سلگونو تنه هیواد وال پکی شهیدان شول .
دغه نظم چی دپورتنی تراژیدی په یاد لیکل شوی دکنړدقهرمانو شهیدانو ارواو ته یی اهداکوم « شفیقی »

قهرمان کنړه!

کنړه ستره قهرمان کنړه !
دقربانی په لار روان کنړه !
دهودیالیو ، توریالیو کوره !
ای د«جمال» غوندی انسان کنړه !
دسترقیام دپیلامی مورچله !
نوم دی ځلیږی پرجهان کنړه

ای دعظمت دننگیالو خاونده
پت دی په غیږ کی داستانونه ښکاری
کاڼی اوبوټی دی په وینو رنگ دی
پولی پټی دی مورچلونه ښکاری
کنړه ای دغیرتونو زانگو !
په هر گړنگ کې دی رازونه ښکاری

کنړه گوره د« اخدود » په شانی
ستا په هر چم کی حماسی پټی دی
کلی په کلی غرو رغونو کی دی
د«کراړی » غوندی کیسی پټی دی
ستاپه هرگوټ کی دطاغوت بریخوته
له کسات ډکی زلزلی پټی دی

کنړه بیا دی په ویاړمنه سینه
لکه چی سوی پرهارونه جوړشول
دشهیدانو دسپیځلو تنو
له سرو سرو وینو نه رودونه جوړشول
نامرد غلیم فاجعی راوستلی
له ویره ډك ډك فریادونه جوړشول

بیا دی پرسیمه دمرگ راج جوړشو
کنړه ستره قهرمان کنړه !
بیا دی نړی له ویره ولړزیده
ای د«جمال »غوندی انسان کنړه !
دسترقیام دپیلامی مورچله !
دقربانی په لار روان کنړه !

دافغان ویاړ

دخوست دفتحې په مناسبت : تورپالی ځاځی

دپکتیا دننگیالیو له « جلاله »
دوطـــن دازادی ډیـوی بلـیږی
ددښمن دملاتیر مات توټی توټی شو
چی دفتحو تاریخونه لیکـل کیـږی

***

ستاله تـــوری صـــدقهٔ« دین جـلاله »
چی دسرو لښکری ماتی شوی پکتیا کی
آفرین دی په عظـــمت اوتـــدبـــر شه
شرنگ دتوری دخپور شوی په دنیا کی

***

تاچی پل دمیړنو په قدم کیـــښود
په تاریخ کی به دلړ په شان ځلیږی
دافغان دویاړ جلال یی ای « جلاله »!
ټول ولس دی په نامه باندی نازیـــږی

***

ملامی کړوپه ، په ښو شل روغتون کی پروت یم
داځه ژوند دی ؟ چی په ماباندی تیـــریږی
کاش ! دخوست په سرو ټکرو کی وای ماتی
نه ، چی دلته له ډیر غـــم څـنی فلجـیږی

۱۳۷۰ لمریز کال دثور ۲۸

پښتور ، دکویټ دهلال احمر روغتون

شهید

حنیف بلخی

باخط زرثبت تاریخ است پیکارشهید
نازهم دارد وطـن از سازرفتـــارشهید
نام اوجاوید مـانـد افتــخارقـرنهـــا
اسمان کي میتوانْ پیچید طومارشهید
سرفرو شیها بود از بهرکشور اي عزیز
غیر این یوسف نمي یابي ببازارشهید
رشته هاي من رباط الخیل بامن قوة
سخت پیچیده بهم با رشته وتارشهید
هرقدر اوراق وضع زندگي اش واکني
مي نیابي جز غزا دردفترکارشهید
درفراشیب معارك درشکنج کارزار
نیست غیر عشق قران ووطن یارشهید
مي نبارد ازسحابش غیریاقوت مذاب
مي نکارد غیرلاله خاك گلزار شهید
پهلوي هرسنگ سنگراز غرور وافتخار
باخط گلگون نگاریدند ایثار شهید
خون پاك اوچوبرداماان کشور مي چکد
لاله میخیزد زاغوش سمنزار شهید
تاابددارد نظر از درز گلگون کفن
سنگرستان وطن راچشم بیدار شهید

اي دل مــلول مبـاش الله اکبـر است
دشمن اگر قویست نگهبان قویتر است

دخوست د بريمني فتحې په مناسبت

شفيقي

تكل

اروا پال زيری

نن موږ دهجرت په ديار کی ، دپرديسی په ماحول کی ، دمايوسی په تيارو اوچاپيريال کی دبی کسی اوبی وسی په محيط کی، ددښمنيو اوتربګنيو په ګردلو کی ، دسياست له مکر اوفريب ډکی دنيا په وسعتونوکی اودپيښور په خړه پړه اوخوبوړی فضا کی، نوی زيری اونوی پيغام اورو ، نن زموږ په ترخه روژه ماتی داسی خواږه دوړيدلی وو چی دوختونو وختونو دخولو بدخوندونه موړيری بنه شول ، نن موږ چی دپخوا په څير دانديسنو په درياب کی ډوب وو ، دپريشانيو په بيابان کی سرګردانه وو اودجل وهليو مرغانو په څير مودرحمت دباران څاڅکو ته سترګی څلوروی چی په شنه اسمان يو پرق شو اوبيا زموږتوږی اروای داسی سيرابی شوی چی ډير وچ بيابانونه نور هم لاندی کولی شو اوډيری ستړی لاری نوری هم لنډ ولی شو .

له ستړيو پښونه ستړياوی ، له مايوسو زړونو مايوسئ ، له پريشانه دماغونو پريشانئ اوله بی وسو متهونه مو بی وسئ وځنډل شوی .

نن موږ ته نوی پيغام راغی ، دژوند پيغام اوژوند په ستری واټ کی له خوشحاليو اونيکمرغيو ډک پيغام .

هوکی ! همدانن ، همدغه بختور مازديګر موږ هسی زيری واوريد چی دمايوسيو ، پرديسيو ، بی وسيو ، بی کسيو ، تربګنيو ، دښمنيو اوبدبينيو توری توری پردی يی څيري څيری کړی ، دهغه پيغام وړانګي خوری شوی چی ډيری سترګی يی له مودو مودو په انتظار وی ، هغه خبر واوريدل شو چی غوږونه يی په اوريدو ويارې يو ځل بيا موږ واوريدل چی :

دسومنات بوت رانسکور شو !

دحق لښکريان بريمن شول!

دشهيدانو وينو رنګ راوړ!

وينو پرپولادو او بارتو بری وموندا

مومن پرشيطان غالب شو !

حق پال سرلوړی اوطاغوتيان ذليل شول !

او!

خوست داسلام دغازيانو په لاس فتحه شو !

خوست فتحه شو خودکابل دفتحی زيری وشول ، خوست ازاد شو خودټول هيواد دازادی شکونه په يقين بدل شول .

زيری خواره شول ، چی داسلام دښمنان خواره واره شول ، ټول تالا ترغه شول اودخوست پر چونی داسلام وياړلی اونازولی توغ په رپا شو .

نوويارډی وی ددغی ستری فتحی پراتلو شازلميو اوخوشحاله دی وی دخوست دوياړمنو مورچلونو دمومنو شهيدانو اروای چی دوينو په درياب کی يی بالاخره دعصر فرعونان ډوب ډوب شول .

انصار شاعران

حسین احمد صادق

ځوان اومتعهد ویناوال چې شاعري یې د افغان مجاهد ولس دقهرمانیو او قربانیو یادونه ابدي اوادبي گرځولي

شهرت ننگیال

ښاغلی حسین احمد صادق د۱۹۵٦ میلادی کال دفبروری په ۲۳ نیټه دمردان په تخت بایی کې له عبدالستارکره زیږیدلی اودتخت بایی په ادبی ماحول کې یې دخپل فن دنیا ودانه کړیده. ده تراتم ټولگی پوری په تخت بایې کې زده کړه کړی اودیارحسین له لسم ټولگی څخه فارغ شوېدی، په ۱۹۷۸ میلادی کال کې قطر ته تللی اوهلته یې دپردیسی اومسافری له کړاوجن ژوندسره منگولی ښخی کړی دي .

حسین احمد صادق په قطر کې دبریښنا په یوه اداره کې کارکوی اودده ترڅنگ دپښتو ادب خدمت ته هم ملاتړلی ولاړدې .دی دپاك پښتوادبی ټولنی دوحه قطر موسس غړی اوددغه ټولنی مشرهم دی، دشعرونو یوه مجموعه یې د« سورارا » په نوم د۱۹۸۸ م کال په جون کې په پیښورکې خپره شوی اویوه بله شعری مجموعه یې هم چاپ ته تیاره ده .

ښاغلی صادق په رښتیا هم رښتین اوصادق شاعردی ، پاك زړی اودروند شاعردی دردمند اوپردیسی ځپلی شاعردی، دویښ ضمیر اوروڼ وجدان خاوند شاعر دی اودحقایقو اوواقعیتونو ویونکی اوسپیړونکی شاعر دی .

ښاغلی صادق متعهد اوانقلابی شاعردی هغه له ابتدا نه خپل فن دمقصدیت په زانگو کې زنگولی اوروزلی اودولس له دردونو اوارمانونو سره غبرگ یې دپرمختگ په لاره یون پیل کړی دی .

صادق ټینگ مسلمان اوکلك پښتون دی دهغه په وجود کې پښتنه وینه چلیږی له همدی امله دی وایی:

«دصادق دپښتو رنگ یه اسلامی وی »څکه خو په جارسره دهغو تش په نوم پښتنو سره خپل پریکړون اعلانوی چې پښتو یې دپیسو له پاره اودوستی اووروری یې له هندوانو اوروسانو سره ده

مادهغو پښتنو ملگری مه کړی
چې سودا دبل په لاس دخپل وطن کړی

صادق دخپل احساس په وزرونو له هرظالم اوجابر سره لاس اوگریوان دی له ظلم اوجارحیت سره دده مبارزه جاری ده اوجاری به وی .

ښاغلی حسین احمد دپښتو دمتعهد اواسلامی ادب دروان کاروان دروند اوفعال سرخیل دی هغه خپل شعردپښتنی ژوند تفسیر اوتعبیر گرځولی اودخپل ولس دارمانونو ترجمان ، ددردونوښکارندوی اودهیلو اوارادو ممثل اوعکاس .

صادق حساس اودراك شاعردی هغه دوخت دناکاره گردشونوپه بربوکیو اوتوپانونو کې دخپل رسالت اومسوولیت ددرك له مخې خپله لارپیژندلې ځکه خو دده فن دهغه داسلامی عقیدې اوپښتنی شعورترجمان او ځرگندوی دی .

له همدې ځایه ده کله چې افغانان دخپل دین اووطن دازادۍ په مقدسه معرکه کې دوینو په سمندر ورگډ شول نوحسین احمد صادق هم دقلم په توره اودشعرپه ژبه ددغه مقاومت غیورسره غبرگ کړ دده فن دجهاد ددغه خونړۍ لسیزې مدافع اوحامل وگرځید، دی چې کله هم دخپل افغان وروردردونه وینی نه یوازې داچې خپلی اوښکی اوسلگی ورسره ملی کوی بلکی پلغه دردونو ، اوکړاونو کې ځان ورسره برابر شریك گڼی، په ویاړونو اوقهرمانیو یې ویاړی اوپه ویرونو اودردونو یې ویرکوی. دی هغه تش په نوم پښتنو ته پیغوروکوی اوملنډی پری وهی چې په خوله خوځانو ته پښتانه وایی خودافغانانو په تباهۍ اوبربادۍ خوښیږی اودپښتنو له دښمنانو سره ددوستۍ اووروری لاسونه ورکوی .دښاغلی صادق زیاتره غزلونه اواشعاردافغان مجاهد ولس دازادۍ ددغه بریمن جهاد ددفاع اوملاتړازانگی له ځان سره لری.

دروند لیکوال حیران ختك دښاغلی صادق دفن په هکله لیکی (... زماپه خیال صادق زمونږدیره قیمتی سرمایه ده چې دسیکولر اوماده پرست ادب ددی مسلط کړی شوی عالمی ماحول خلاف یې دبغاوت بیرغ پورته کړی اودقلم په ژبه یې دادب په چوکاټ کې دننه دخپلو ملی روایاتو اوسپیڅلو قدرونو روزنه خپل مشن گرځولی ، دازلمی لیکوال دفن یوداسی جهان جوړوی چې سبا به ورته مونږ په ډیر فخر سره دخپل فن جهان ویلی شو چې دهغو ی د فنپارو په هنداره کې به دغیرو ځیرو په ځای خپل کره وره گورو)

حسین احمد دپردیسی اومسافرۍ په ستغو اوکړاوجنو شرایطو کې دخوارۍ مزدورۍ دسختیو اوکړاوونوسره سره دادب ډیوی روښانه ساتلی، دده په شعرونو کې نوی نوی تشبیهات ،جلت اودافادی ، بیان اودمعانیواومفاهیمو عمق اوژورتیا لوستونکی دخوشحال بابا،حمید بابااورحمان بابا ادبی اوجاودانی دنیا ته رسوی اوداړاډ اوزیری ورکوی چې دپښتوادبی بڼ به دداسی ادبی فنپارو په برکت نوره هم رنگین ، حسین اوښیرازه اوسی. دغزل په باریکه لارخوردده یون داسی کامیاب اوبریمن ښکاری چې دحمزه بابا په لاس بل شوی مشال به دتل لپاره رون،ځلند اوبل ساتی .

صادق ځوان تاند اوحساس شاعردی ، دی پرمخ روان دی اوهره ورځ چې تیریږی دده فن دخپل معراج په لورپلونه اوچتوی اودپرمختگ په لاره خپل یون گړندی کوی .

ځکه خو په بشپړیقین سره ویلی شوچې دگران صادق فن به دپښتوادب دکاروان په مخه کې لکه دجرس رسا انگازی اوازانگی ښندی، په عمراوقلم یې برکت

دښاغلی حسین احمد صادق دکلام نمونه :

کله چې ملگری ددوران شمه
دې بی قدره خلقو ته به گران شمه
ستادتندی گونجومې مخ گونجی کړو
لږخوراته وخانده چې ځوان شمه
پام کوه سوکړی وهلی گل یمه
هسی نه په تاباندی تاوان شمه
عشقه تاله څنگه رخصت درکړمه
څنگه پخپل ځان مین دځان شمه

یوځلی دشونډو په سرووایه
ستانه به لوګی تانه قربان شمه
زورددهریت چې یې اوبه کړلو
ځاردشجاعت نه دافغان شمه
ځنګه مدعا درته ښکاره کړمه
ته چې راشې مخې ته حیران شمه
زده چې مې په شعرکې خبرې کړی
اوس به دحالاتو ترجمان شمه

دوحه ۱۹۸۶

اوس به دالحاد اوبه زموږکلی ته نه راځي
موږدسورسیلاب مخې ته بند دایمان وتاړه
روس که دنفرت دشیطانانو واګې پرانستې
موږهم دتوحید کلکه رسۍ کې خپل ځان وتاړه

دلستونې مار

د۲۷جولای سنه ۱۹۸۶ ورځپاڼه وحدت په لیلو

نن چې ناځاپه په اخبارزما نظر پریوته
په تصویرونو کې ځه ژوبل اوځه مړه پراته دي
دچاقام خرڅه اوبې ننګه پښتنو دلاسه
ځوښتانه په خپلو سرووینو کې سره پراته دي

*** ***

نن به یو ځوخوړندی اومیندی کړی سلګو کې ژړا
نن به یوځوکونډې په دواړه لاسه سرټکوی
خدای زده ددغه شهیدانو یتیمان بچی به
دسوال ډوډۍ له بیا دچا دکوځې ورټکوی

*** ***

کوردې تالاشه اخرځه مقصد به درشی په لاس
چې بی ګناه دنوروخلکو ورانوی کورونه
ولی دې مړې کړی دژوندون درنا ګانوډیوی
ولی دغم تورو تیارو کې ډوبوی کورونه

*** ***

ښکاره دوستی ښکاره پټنه دپښتنووی مدام
په غلابونه کیښودل کاردپښتو خونه دی
دننګ غیرت په ډګروینی تویول مزه کړی
بی ځایه وینی تویول کاردپښتوخونه دی

*** ***

ته خبرنه یې چې ګل وریژی نوګل ټوکوی
ای دوحدت دباغ دګلو اوغوټو قاتله
ته دپښتو په لمن داغ یې څه پښتون خونه یې
په کومه خوله ځان پښتون بولی دپښتو قاتله

*** ***

پښتون خوزه یم چې دټولی دنیا دردلرمه
دهروطن دمظلومانو بدحالی ژاړمه
که دافغان اولس په غم کې تویومه اوښکی
په فلسطین کې هم دګلو پایمالی ژاړمه

*** ***

پښتون خوزه یم چې دځان مرګ به قبول کړمه خو
دغیرپه لمسه به دمرګ بنا دخپل ونه کړم
که مرم دلوږې خوپه دې خپلی پښتومی قسم
دورورډغوبنو دخو ړلو به اتکل اونه کړم

*** ***

که ځان پښتون بولی میدان ته شه پښتو ښکاره کړه
یابه مې تن په وینو سورکړی یابه شان وګتم
یابه زما بچی هم خیرغواړی دبل کوځه کې
یابه دواړه وطن کونډې یتیمان وګتم

لنډه کیسه :

او هغه پخپل هوډ بریالي شو

سید محي الدین «هاشمي»

له هغه سره به زما لیده کاته همیشه چیرته په کتابخانو ، علمی غونلهو او سمینارونو کې کیدل .

په پل باغ عمومی کې دپلورنی لپاره ددیوال پرسر ایښودل شویو کتابونو پلټنه زما اودهغه ورځنی معمول گرځیدلی ؤ ، کله به زه دمخه دغه ځای ته راغلی وم اوبیا به هغه راغی اوکله به داسی هم وشول چی زه به راغلم نو دی به دکتابونو په پلټنه ستړی شوی ؤ . دغلته مااوهغه دخبرو لپاره چندان وخت نه درلود اوهریوه به هڅه کوله چی ژرژرټول کتابونه له پامه تیر کړو .

داڅو ورځی کیدلی چی زه دمعمول سره سم مازیگر دغلته راتلم ،خو هغه به نه و. کتاب پلورنکو موږ. دواړه پیژندلو-او ولی به یی نه پیژندلو ، داڅویم کال ؤ هغوی دغلته کتابونه خرڅول اوموږبه هره ورځ دخپلی خوښی کتابونه تری اخیستل .

ماله څو کتاب پلورونکو څخه دهغه په باب پوښتنه وکړه ، خوله ټولو څخه می واوریدل چی داڅو ورځی نه معلومیږی . دهغه په باب له ماسره ژوره اندیښنه وه ، خوله بده مرغه چی ماته دهغه کورنه ؤ معلوم اوټوله دوستی اوملگرتیا موږ په سمینارونو ، غونلهواو دکتابونو په دغه میدانی پلورنځیو کې پالله، او که ریښتیا ووایم دغه هری ورځی لیدنی کتنی موږداسی روږدی کړی وو چی حتی یو له بل نه دبیلتون احساس موهم نشو کولی .

دهغه په باب زما اندیښنه اوتشویش هغه وخت لاپسی زیات شوچی په یو علمی سمینار کی می دهغه څوکۍ خالی ولیدله ، او چی دخالی چوکۍ مخی ته دمیز پرسر دپیژندنی بورډ باندی می دهغه نوم لوست نو په سترگو می توره شپه شوه. دغه وخت می یو ځل بیا په ذهن دهغه په باب ډول ډول خبری وگرځیدی .

دسمینار برخه وال هریو پخپل پخپل ټاکلی ځای کیناستل ، دمعمول سره سم دغونلهې رئیس ، مرستیال اومنشیان ټاکل شوی وو

اودغونډی انانسر پروګرام هم
معرفی کړی و، افتتاحیه وینا شوی
وه خو زما ورته پام نه و شوی ،
تفریح اعلان شوی وه ،اوکه زما
خواته دناست ملګری دې خبری
چې: «تاسی نه ځئ؟ !»   زما
دسوچ اوفکرلړی نه وای شلولی
نوخدای (ج) زده که پرې خبرشوی
وای .

په تفریح کې می دسمینار له
متصدی نه وپوښتل ،هغوی وویل
چی مودږ خو پسی پوهنتون ته
کارت ورلیږلی خونه پوهیږم چی
ولی نه دی راغلی ، باید چی
راغلی وای هغه خو په دغه سمینار
کې مقاله هم درلوده ...»

دهملغی ورځی په ماځیګر دهغه
دیو نژدی دوست دوکان ته ورغلم ،
له هغه نه می پوښتنه وکړه ، زما
په پوښتنه هغه لږ ټکنی غوندی
شو ، اودومره یی وویل چی
داځوورځی دلته نه دی راغلی .

ددغی خبری په اوریدلو زما
اندیښنه لاپسی زیاته شوه ، دهغه
دوست زه پیژندلم اوزموږ ددوارو په
ملګرتیا هم لږو ډیر خبرو ، خونه
پوهیږم چی ولی یی ماته دهغه په
باب څه ویلو ته زړه ښه نکړ. یو
شیبه دواړه چوپ وو ، هغه خپلی
سترګی په ماکې ښخې کړې وی،
بوخل یې ماته ښکته پورته وکتل
اوبیا یی شاوخوا له نظره تیره کړه
زه وپوهیدم چی په زړه کی یی څه
خبره ګرځی ، خوپه خوله یی نشی
ویلی .

ماورته وویل : وروره ! ماخو
پیژنې چی دهغه دوست یم ،
رښتیا رښتیاراته ووایه چی پر هغه
څه شوی ...؟

بیا یی ماته ښکته پورته وکتل
اوزړه نازړه یی وویل :

څه خبر یی خلك خو وایی چی
هغه یی څو ورځی دمخه کله چی
دشپی ناوخته کورته راته دخپلی
دروازی مخی ته نیولی ، خولکه
چی تراوسه یی لاچاته څه پته نه
ده لګیدلی .

خدای خبر چی اوس به چیـــری
وی ....

ددی خبرو په اوریدلو ماداسی
احساس کړه چی دغمونو یولوی
غرمی په سرراپریوت ، یوشیبه
چوپ پاتې شوم اوبیا می په ډیری
خواری دومره قدری وویل چی :
داخو ډیر بدکار شوی .آخر داظالمان
له هغه نه څه غواړی ، هغه خو
پخپلو ادبی اوعلمی فعالیتونو
بوختې و ....»

دهغه دوست زما خبری پرې کړی
اوویی ویل : وروره ! هرڅوك له
خپلی لمنې اوراخلی داسې می
اوریدلی چی هغه خپلوانو یی پری
نیولی دی ، دهغوی په زړه کی
داکله ځائیدله چی هغه دی په
پوهنتون کې استادوی ، دعلمی
مقام اوشهرت خاوند دې وی ...
نوداسی پلمه یی ورته جوړه کړه.

له دی وروسته به زه دهغه په باب
همیشه په سوچ کی وم ، خو څه
می کولی شول ، بی له دی چی
صبروکړم اودظالمانو له منګولو نه
دخلاصون لپاره یی دوعاوکړم .

نن چی زه دپخوا په شان ماځیګر
پل باغ عمومی کی ددیوال پرسر
دکتابونو په کتنه او پلټنه بوخت وم
،ناڅاپه می پر هغه سترګی
ولګیدی.لومړی خو زه په خپل نظر
څه شکمن غوندی شوم اوداسی می
وګڼله لکه چی پربل چامی دهغه
ګومان راغلی دی ، خو چی
ورنژدی شوم او په ځیر ځیر می
ورته وکتل شك می پریقین بدل
شو ، هسې یی دکتابونو پانی
اړولی راړولی ، خدای خبرچی فکر
یی چیرته و. دهغه پراوږه می
لاس کیښود ، خوهغه خبر نشو ،
بیامی پراوږه وټپاوه ، له دی سره

بی هم پام نشو، داخل می ورو شان دهغه نوم واخیست ، بیا بی هم مخ راوانه راوه اوزه پوه شوم چی په کوم فکر کی ډوب تللی دی ، یو ځل می اراده وکړه چی راځه اوس پری کار مه لره ، خو بیا می زړه صبر نه شو ، او په زوره می ورغږ کړچی : تاته وایم....اداخل هغه سخت هیبت وکړ اوماداسی احساس کړه چی زما په دی غږ دهغه دسوچونو لړی وشلیدله .

له هغه سره ترروغبړ وروسته می زړه غوښتل چی سمدلاسه تری څه وپوښتم،خودهغه پریشانی وضعی اوالوتی بڼی زما پرخوله دسکوت لاس کیښود .

ماهغه له لاسه ونیو اوچیرته دکیناستوپه باب می ورته وویل. دکیناستوله پاره مو مناسبه وګڼله چی کوم هوټل ته لاړ شو. یونږدی هوټل ته ورغلو اوله نورو خلکو ګوښه په یوکنج کی پرچوکیو کیناستو .

دهوټل شاګرد لاچای نه وو راوړی چی ماله هغه نه وپوښتل چی ښه اوس نوکیسه راته وکړه ؟

هغه اخوا دیخوا وکتل اوبیا بی غلی شان شونډی په خبروداسی بیرته کړی لکه چی اوس بی هم دیو ژور هیبت اوویری احساس په اندامونو خپور وی. ورو شان بی څه وویل خوماوانه وریده. په دغه وخت کی زمونږمخی ته دچایو په ایښودلو دهغه په خوله کی خبره وچه شوه .

هغه یوه شیبه چوپ شو ، اوماداسی احساس کړه لکه چی زما خبره بی بیخی هیره شوی وی .مابیا ورته وویل :ښه کیسه راته وکړه .

هغه دچایو ګوټ وکړ ، شاوخوا بی یو ځل بیا وکتل اوچی ښه ډاډه شوچی نور څوك بی خبری نه اوروی ، نوپه خبرو یی پیل وکړ... ټوله کیسه یی راته وکړه خوپه پای کی دهغه دی خبروزما احساس ته ژور ټکان ورکړ چی :« نور دلته نشم پاتی کیدای ، تراوسه خو دعلم اوتعلیم سره زیاتی مینی زما دشعور اوضمیر سترګی ړندی کړی وی ، له مانه یی هرڅه هیرکړی وو اوس نو نه په پوهنتون کی استادی ، نه دما ستری تعلیمی دوری پای ته رسول ،نه نور علمی اواکاډمیك کارونه اونه ... ماله خپل هوډ نه اړولی شی ....»

له هغه نه بیلیدل مانه شو زغملی اودهغه په بیلتون زمونږ په علمی او اکاډیمکو فعالیتونو کی خامخا څه ناڅه خلاهم رامنځته کیدله ، خو چی هرڅه فکر اوسوچ می وکړخپل ضمیراووجدان دااجازه رانکړه چی داسی دلایل ورته وړاندی کړ م چی دهغه تللو کی خنډونه اوځنډونه رامخی ته کړی .

دهغه دخبرو له اوریدلو نه وروسته زه یوه ښه شیبه چوپ پاتی شوم ، یولړ پوښتنی اوغوښتنی می په ذهن کی ګرځیدلی خو څرګندولو ته می زړه ښه نکړ ، مونږ په بل کی سترګی ښخی کړی وې ، آخر هغه پخپلو دی خبرو دسکوت فضا ماته کړه چی :« هو ! وروره زه ځم خامخا ځم، مااوس دتللو هوډکړی اوکه دخدای (ج) رضا وه هیڅوك ماله دی هوډه نشی ګرځولی ، خپل ماشومان می داځو ورځی دمخه له کابل نه بهرولیږلی خولا بیرته یی په حال احوال نه یم خبر. زه اوس یوازی اویوازی خپلو کتابونو ته فکروړی یم ، نه پوهیږم چی څه پری وکړم ، دلته موځوك داسی خپل خپلوان هم نشته چی په ارزښت یی وپوهیږی اوزه یی هغوی ته وسپارم، همداسی یی هم نشم پریښودلی ، اونه می خرڅولو ته زړه کیږی. آخرتاته خوپته ده

چې په څومره کړاو اومشکلاتو مې
دادوه دری زره ټوکه کتابونه راټول
کړي، اوس رانه هسې بې ځایه
ضایع کیږي. داڅو یمه ورځ ده چې
په همدې فکر کې یم چې ښه په
دې کتابونو څه وکړم .

هغه بله ورځ مې پلار ته وویل
چې زما خوپه هیڅ صورت ددې
کتابونوخرڅولو ته زړه نه کیږي ،
خوتاسې ورشئ هغه لوی لوی
کتابونه تری راواخلئ اوکوم
کتابفروش ته یې ورکړئ، په قیمت
پسې یې هم چندان سر مه خوږوه
چې په څو یې غوښتل وریې کړه.

هغه رښتیا هم همداسې وکړل
اوچې په سبازه هغې خونې ته
ورغلم ، کتابونه مې تیت اوپرك
پرځمکه ولیدل ، اوچې ټرلړې
سرسری پلټنې ورووسته پوه شوم
چې پرون یې کوم کوم کتابونه وړي
دي ، بیا نوزه له ځانه نه یم
خبرشوی چې ځنګه پرځمکه
پریوتی یم .په همدغه ورځې مې
نیت وکړچې له کوم کتابفروش سره
باید خبرې وکړم .خوټوله ورځ مې
فکر ګلهوږ ؤ ، په ځان کې مې
چیرته دتللو توان نه لیده ، هسې
خوبه مایوه بل ته داو ورکاوه چې
صحت مې ښه دی، هیڅ راباندې نه
دې شوې ، خوپرونې پیښې چې په
ما کې کوم بدلون راوستی و ، هغه
اوس ماپه هغه دغه بانونشوپټولای
.اوس ماته هم داپټه لګیدلې وه
چې فکري استقرار ، صبر
اوحوصله مې پوره له لاسه ورکړې،
هرچااو هرڅه ته دشك په سترګو
ګورم اوپه هرڅه کې مترددیم .

نن سهار په همدغه نیت راووتم ،
هغه دنهو لسو کالو ماشوم خورېې
مې هم راسره و، نه پوهیږم چې
دټیل ماټیل اودخلکو په بیروبار
کې ځنګه ملې بس ته ورختلي وم
، خو چې کله په ښار کې ښکته
کیدم نه یوازې داچې خورېې مې
رانه پاتې ؤ، هغه لاسې بکس مې
هم چې څه پیسې اودکارکاغذونه
پکې وو ، چیرته غورځیدلی
ؤ.خدای (ج) خبرچې له سهاره
ترډااوسه څوځوځل په دې کتابونو
پورته اوښکته تیرشوم ، څوځل
لاړم دښار په کوڅو اوسړکونو کې
بې هدفه وګرځیدم اوبیا بیرته
راغلم خوپه هیچا مې دااعتماد
ونکړای شو چې دخپلوکتابونو
دخرڅون په باب ورته څه ووایم
اوچې هریو ته به مې دویلو لپاره
زړه ښه کړ، په ذهن کې به مې
وګرځیدل چې که څه ورته ووایم
خامخابه فکروکړي چې دوطن
پرېښودلو اراده یې کړې ده
...اودغسې ماپرهغوی کله اعتماد
کولی شو ، له هغوی سره خوزما
پیژندګلوي یوازې دکتابونو په دغه
میدانې پلورنځۍ کې وه ،
ماخودوی نور نه پیژندل چې څنګه
خلك دي ...اودوی خو ماټول
پیژنې اوله کتاب سره زما مینه
ورته ډیره ښه معلومه ده، زما
دذوق کتابونه هم ورته معلوم دي
حتی په پوهنتون کې دمحصلی له
وخت څخه لاورته معلوم یم چې
دلته به په کابل کې وم دورځې به
خامخادغه ځای ته راتلم ، له دوی
څخه به مې کتابونه اخیستل اوکله
کله خوبه لاداسې هم وشول چې
لیلیې ته به دتللو کرایه هم راسره
پاتې نشوه ، بیابه مې له همدوی
څخه اخیستله .

اونن چې زه دلته په دې کتابونو
ښکته پورته ګرځیدلم ، خدای (ج)
خبرچې دوی به په ماڅه ګومان
کړی وي ، څکه نورکله چې به زه
دلته راغلم داسې به دکتابونو په
پلټنه بوخت شوم چې بیا به رانه
هرڅه هیرشول ، تیاره به ولګیده ،
دوی به دکتابونو په راټولولوپیل
وکړ، خوزما به زړه نه کیده چې

تری لاړشم اونن خوما برعکس کتابونو ته نه زیاتره هملوی اوشاوخوا خلکو ته اوتر اوترکاته ، کله کله به لمانه داهیرشول چی زه دلته دڅه لپاره راغلی یم ، اوچی په همدغه بی فکری کی به می کوم کتاب دذوق اوخوښی سره برابر و ، دهغی دبیی پوښتنه به می وکړه ، وابه می خیست اوپیسې به می ورکړی ، بیابه می فکرشو چی دادی څه وکړل ،خوبیرته ورکول بی راته لوی شرم ښکاریده ، دغه پنځه کتابه می په همدی ترتیب اخیستی دی .

اودااوس چی تابوناڅاپه زما پراوړه لاس کیښود اوراغږدی کړ، مادیوی ژورې ویری اوهیبت احساس وکړاوداسی می وانګیرله لکه چی بیابی دهغی شپی په څیر راته چاموټر ته دختلو ویل ...»

مادهغه داتهولی خبرې واوریدی ،ناڅاپه می په ذهن کی دسینما پردې په څیر هغه پخوانی یادونه ، خاطری اوګڼی مسلکي ،علمی هلی ځلی وګرځیدی چی تراوسه مو په یوه خاصه مینه اواحساس ترسره کړې وې ، په خپل څنګ کی دهغه په نه موجودیت می پوره نیمګړتیا اوکمزورتیا احساسوله ،خوپه دی پوهیلم چی د هغه له خپل هوډ نه دراستنولو لپاره هیڅ مقنع اومناسب دلیل نشم وړاندی کولی ، نو یوه شیبه چوپ پاتی شوم اوبیا می پخپلو خبرو هغه دسکوت اوچوپتیا فضاماته کړه او هغه ته می دداډینی په توګه وویل:

خیردی ، داپه ژوند کی راځی ، انسان باید همیشه له زغم اواستقامت نه کار واخلی....

ماهغه ته دبیلګی په توګه زموږ دعلمی اوفرهنګی سنګر دځو تنو ملګرو اودوستانو نومونه وریاد کړل چی دهمده په څیر یی دعلمی ،ادبی اوتاریخی آثارو ځانګړی کتابخانی درلودی ،کورونه او شتمنی یی درلودی اوپه پوره لیوالتیا په علمی اوکادیمکو فعالیتونو بوخت وو ، خوبالاخره ددی هرڅه پریښودو ته اړوتل .

هغه بیا له مانه وپوښتل چی که دهغو په باب معلومات ورکړم. مایو ځل خپل شاوخوا ته وکتل اودهغوی بیلا بیلی پتی می ورکړی اوضمناً می ورته وویل چی اوس داسی خبریږم هغوی هلته هم په همدغسی علمی اوادبی فعالیتونو بوخت دی ، تاچی هلته دورتګ هوډ کړی خدای (ج) دی په خیر وروړسوه تاته به هم دهمدغسی فعالیت زمینه برابره شی خوزه دی خپل ځان ته فکر وړی یم چی زما به څه حال شی ....

نور می هم څه ویل غوښتل ، خو دهوتل دشاګرد دی خبری چی : «نورچای راوړم » زما دخبرو سلسله پری کړه اوبیا چی دهوتل له کرکیو نه بهرته ماوکتل ، دماښام تیاره لګیدلی وه، دیری خبری موپه زړه پاتی شوی اوله هوتل څخه مودوتلواراده وکړه ، دهوتل مخی ته زموږلاره بیلیدله اوپه همدی ځای کی موبابد دخدای سپارلی » کړی وای ، دهوتل دروازی نه لیوړاندی ګوښه ودریدو ، زړه می غوښتل چی تردیره ولاړوای خو بیا هم مجبور و چی یو له بله رخصت شو ، داوښکو اواوسیلو په بدرګه کی مویو بل ته دخدای (ج) پامانی غیږ ورکړه .

اوچی بیا څه موده وروسته می دبی ، بی ، سی رادیو په سهارنی یوادبی پروګرام کی دهغه پخپل غږ دهغه دڕاسرولږل ترسرلیک لاندی شعر واوریدی ، نوپه دی پوه شوم چی هغه پخپل هوډ بریالی شویدی .

ولسي ادبيات

عوض الدين «صديقي»

شهيد احمد غني
د توري او قلم د سنگر اتل

شهیداحمد غنی دجهاد دولسی ادبیاتو په کهول کی دوفـا ، اسـتقـامت اوزړورتیا ژوندی بیلگه ده ، ده په خپلو اشعارو کی دټولنی مضرات اوناخوالی غندلی اوخلك یی داسلام پر اساساتو باندی عمل کولو ته رابللی دشهید احـمـد غـــــنی اشعارزموږدټولنی دناخوالو دردونو ، دژوند دمثبتو اړخونو اودجهاد دویاړونو اوویرونو ښه رساترجمانی کوی هغه دعملی جهاد ترخنگ د«امربل معروف ونهی عن المنکر » امردعملی کولو لپاره شپه اوورځ زیارایستلی چی اشعاریی دیوه ژوندی سند په توگه زموږمخی ته پراته دی ، هغه چی کله په ټولنی کی ناروا عملونه اوداسلام له اساساتو څخه سرغړونی لیدلی دخپلو اشعارو له لاری دهغوی څخه خلك منع کړی اوبه مقابل کی داسلام پراصولو دعمل کولو بلنه ورکړی ، شهیداحمد غنی دهغو اتلو شهیدانو له جملی څخه دی چی دتوری ترخنگ یی قلم هم چلولی هغه په وسله وال جهاد کی عملاً برخه اخیستی ، اودپکتیا ولایت پـه اکثره عملیاتو کی دمجاهدینـو تـرخـنگ دریدلی ،ستونزی گاللی لوړی اوتندی تیری کړی داسلام ددښمنانو په مقابل کی خپله سینه سپرکړی اوپه دی توگه یی خپل فرض ادا کړی،دیوه اتل مجاهد په توگه توره چلولی اوپه دی لاره کی یی چاته غاړه نه ده ایښی اوچی بیا کله یی دجهاد په دوران کی

ویاړونه په برخه شوی ، ویرونه اوددښمن ناروا ظلمونه یی لیدلی قلم ته یی لاس کړی اودشعرله لاری یی هغه خوندي کړی .
په یو شعرکی دجهاد دسنگر اوددښمن محاصره اودمجاهدینو میړانه ځه ښه انځوروی !

میدان کی محاصره دی ترینه تاودی گروپونه

مجاهدین جنگیږی کوی تکبیرغږونه

مجاهدین جنگیږی خوست په کابل

په هرسنگر جنگیږی په هرمورچل

روح په وتو دی خلکه اوس دکارمل

له هرطرفه دمرده باد پری شی غږونه

مجاهدین جنگیږی کوی تکبیرغږونه

په توروغروکی گرځی مجاهدین

قربان یی سراومال دی دخدای په دین

ورکوی هرکافر ته ځواب ددین

دخدای په نام باندی بایلی سرونه

مجاهدین جنگیږی کوی تکبیرغږونه

الخ...

شهیدا حمد غنی ډیر متدین اومخلص مسلمان ؤ په ۱۳۳۳ کال کی دپکتیا ولایت دخوست په لوی ولسوالی کی یي دمولوی شرین کره سترگی غړولی اوبه قوم حیدرخیل دی ، شهیداحمد غنی په ډیری غریبی کورنی کی رالوی شوی اوچی کله شپږکلنی ته ورسید دخپل پلارځخه یی لومړنی دینی زده کړه او تعلیم پیل کړ ، په ۱۳٤۳ کال کی دځمکنیو دسلطانگی په مدرسی کی ځان شامل کړاوخپلو دینی زده کړو ته یی دوام ورکړ یوکال یی دینی زده کړه وکړه اوترهغی وروسته یی ځان دځینو مجبوریتونو په اساس دغرښت متوسطی ته راتبدیل کړچی پنځم ټولگی ته ومنل شو ، دلته یی هم یوکال زده کړه وکړه خووروسته یی دځینو اقتصادی ستونزو له امله خپلی زده کړی تعقیب نشوی کړای سبوونځی یی پریښود اوپه ۱۳٤۸ کال کی یی خپل کلی کی دوکان جوړکړ ترڅوله دی لاری دکورنی اقتصادی ستونزی رفع کړی ، خوشهیداحمد غنی هیڅکله دینی زده کړو ته شانه کړه ددوکانداری ترڅنگ یی دکلی له عالمانو ځخه دفقهی کتابونو زده کړی ته دوام ورکړ اوچی کله په (۱۳٤۹) کال کی دخوست ولسوالی عالمان دکمونستانو پرضد دمبارزی لپاره سره راټول شول دی یی هم

ترخنګ ودرید اوله همدغه وخت
څخه یې دکمونستانوپرضدعملي
جهاد پیل کړ.

شهیداحمد غني وروسته داقتصادي
ستونزي دحل کولو په خاطرد
سعودي عربستان خواته مخه وکړه
، هلته یې څوکاله کاروکړ اوچې کله
په افغانستان کې دثورکرغیږنه
کودتا وشوه دسعودي عربستان
څخه دجهاد په نیت بیرته خپل
هیواد ته راستون شو اودالحاج
مولوي جلال الدین حقاني ترخنګ یې
دکمونستانو اویرغلګروروسانو په
مقابل کې جهاد پیل کړ، شهیداحمد
غني دپکتیا ولایت په اکثرو عملیاتو
کې برخه اخیستې اوپه خپلو
سرښندنوسره یې داسلام
اوافغانستان لپاره زیات ویاړونه ګټلي
، چې بالاخره د۱۳٦٤ کال دکب
میاشتې په ۲۳ نیټه دژوري په جګړه
کې دزیاتو افتخاراتو ترګټلو
وروسته دبمبارد په ترڅ کې په
شهادت ورسیدشهیداحمد غني
دوسله وال جهاد ترخنګ دشعر
سنګرهم خالي نه دی پریښی دخپل
مجاهدملت پرویرونو یې دقلم اوښکې
څڅولي اودویاړونو ریالستیکي
انځورګري یې کړي، دهغه دشعر
موضوع جهاد، اسلام اودهیواد سره
مینه ده، هغه دهیوادسره مینه یوه
مقدسه اوسپیڅلي جذبه بولي
اودخپلو اشعارو له لارې خلك هیواد
سره مینې ته رابللی:

جهاد کوه په مینه دین په غیرت وګټه
دکرملینیانو نه داخپل ملت وګټه
جهاد کوه په مینه که مسلمان وی
خوب اوخندا مه کوه که قهرمان وی
که تابعداردالله اوقران وی
قتل کړه دابې دینان دخدای جنت وګټه
دکرملینیانو نه داخپل ملت وګټه
پښتون تاجك هزاره اوکه ترکمن دی
واړه دیوآدم بابازامن دی
په یوه مرام جنګیږی دیوه وطن دی
پریږده دابغض اوکینه لاردوحدت وګټه
دکرملینیانونه داخپل ملت وګټه
احمد غنی مسکین یارچی نن غږیږی
لمبی داوریی مدام په زړه بلیږی
مسلمانان تهول ویده دی نه بیداریږی
غنم بوجی دزهرشه خپل شرافت وګټه
دکرملینیانونه داخپل ملت وګټه

شهیداحمدغني دډیرو ښو اخلاقو
څښتن ؤ، هغه داسې ښه طبعیت
اوخوږه لهجه درلوده چې اشنا
اوناآشناخلك به تل دپتنګانو په شان
پرې راتول ؤ اودده خبروڅخه به یې
څه زده کول، خوددې ترخنګ بیا
دکفارو اوملحدینو په مقابل کې ډیر
سخت زړي ؤ.

شهیداحمدغني دشعرله لارې
زموږدجهاد ویاړونو اوویرونو پیښې
دتلویزیون دپردې په شان

دخلکومـــخې تـــه ایسبی اوکه ټول اشعاریې راټول شي دجهاد یو ژوندی تاریخ به وی .

شهیداحمدغني په ۱۳۵۱ کال کی شاعری پیل کړی اوتردی وروسته یی چی بیا چیرته پاك ضمیر دکومی ناخوالی ، ستونزواوناروا پیښو سره مخامخ شوی په سرکی خویی په خپله دهغوی دحل لپاره دمبارزی ډگرته وردانگلی اوتردی وروسته یی دشعر په وسیله خلك دهغودله مینځه وړلو خواته رابللی .

شـهیداحـمد غـني ډیـرزیـات اشعارویلی چی ښایی شمیریی دری سوته ورسیږی چی تراوسه ورځنی دسلو په شاوخوا کی کستونه ځه دده په خپل اواز اوځه یی دفقیرمحمد په اواز ډك شوی اوبیا دمهاجرینو په کمپونو اودجهاد په سنگرونوکی خپاره شوی .

دشهیداحمد غني شعرتل په کمپونو کـــی زموږدکونـــدو ، یتـــیمانو اودشهیدانو دوارثانو صبر حوصله لـــوړوی اویـــه سنـــگرکـــی زموږدمجاهدینو روحیه او مورال ژوندی ساتی دپکتیا په ولایت کی داسی سنگر به نه وی چی دهغه شعرپکی زمزمه نشی اودهجرت په دیار کی به داسی کورونه ډیر کم وی چی دده شعر پکی انگازی نه وی خوری کړی .

شهیداحمدغني هغه شاعرؤ چی څه یی ویلی هغه یی پخپله عملی کړی ، هغه دخپل شعرله لاری مجاهدین وحـــدت تـــه رابلـــلی اودمجاهدینو یووالی یی دروسانو دماتی اواسلامی حکومت دجوړیدو یواځنی شرط بللی ، راځی داشعریی چی پرکرملین یی دناکامی غږکړی ، سره لولو :

کرملـینه نن دبیاوخت دزوال راغلی دی
میدان ته شه لښکردذوالجلال راغلی دی
کرملینه ورته ځیرشه دالښکردی داسلام
په لاس کی یی قانون دی دنبی خیرلاانام
تبـاه به دښمنان کړی تل به گرځی بدنام
هـریـو ځلمی سره دسراومال راغلی دی
میـدان ته شه لښکردذوالجلال راغلی دی
هرڅوکه شهیدان شو فخرکړو په شهـادت
دهری ته به سرټیټ نه کړو تایوم القیامت
یابه سـرقربـان کړو یابه کړواسلام اوچت
لیڼن سره به دی یو ځای کړودامی خیال راغلی
میـدان ته شه لښکردذوالجلال راغلی دی
چمتو دی قربانی ته ټول واړه زاړه ځوانان
دښمن به حاکم نشی په داخاوره دافغـان
بیـرغ دلاالـه الاالـلـه به کـړو روښان
ختمـیږی به فراق وخت دوصال راغلی دی
میـــدان ته شـه لښکردذوالجلال راغلی دی
تیرشوی دی خزان اوس غوړیدلی دی گـلونه
بیداراواړه گلان دی نوره به نه کوی خوبونه
راحمد غني،خبرشه پورته شوی دی قومونه
تیارو ددهریت پرځای دحق مشال راغلی دی
میـدان ته شـــه لښکردذوالجلال راغلی دی

حوادث داغ

جهان درماه گذشته

جمیل الرحمن «سائل»

اول ثور – جهاد هنداره
در اثر فیر سه راکت سکاد حکومت مزدور در اسد اباد ولایت کنرها بتعداد (۳۰۰) تن شهید وبیش از (۷۰۰) تن دیگر مجروح و ۱۵۰ دکان ویران گریده است .

۳ثور
اسدالله سروری عضو بلند پایه باند خلق که اکنون درهند محبوس می باشد ، محکوم به سرکشی از قوانین ان کشور گردیده است .
پولیس هند وی رابخاطر نداشتن پاسپورت وویزای هند زندانی ساخته اند .
جزای این جرم درقانون هند پنج سال حبس می باشد .
سروری به خبرنگاران گفت که درهند دیموکراسی وجود ندارد ووضع زندان وتحقیق بکلی زشت است وی گفت که شکایت خودرا به چندراشیکر وراجیو گاندی نیز رسانیده است ولی از طرف انها برایش جوابی داده نه شده است . قابل یادآوری است که سروری وظیفه کشتار مردم مظلوم افغان را در اوائل کودتای ثورکه رئیس سازمان جاسوسی «اگسا» بود به عهده داشت وهزاران تن هموطن مسلمان مارا بقتل رسانیده است .

۵ ثور– بی ،بی، سی
آقای شهریار خان سخنگوی وزارت خارجه پاکستان خبر بی بی سی مبنی بر ملاقات عده، از جنرالان پاکشتانی بایك عده ازجنرالان کابل در سویس رابی اساسی ودروغ خواند .وی گفت تااکنون چنین مذاکراتی صورت نگرفته ، ودر آینده نیز نخواهد گرفت .

۷ ثور –بی بی سی
شورای جهادی ولایت پکتیا طی یك اعلامیه ای هرنوع مذاکره در باره رهایی اسیران اخیر در جنگ خوست را که مجاهدین دران اشتراك نداشته باشند ردنمودند .
وخواستند تا درین رابطه با مجاهدین ارتباط گرفته شود .
آنها اعلان نمودند که اسیران نزد مجاهدین حیثیت مهمان رادارند وکمیته صلیب سرخ می تواند از آنها دیدن نماید .

۸ ثور ۱۳۷۰ـ نوای وقت
مجاهدین افغان درسیزدهمین سال روز کودتای ثور یکبار دیگر اعلان نمودند که تا سقوط کامل رژیم دست نشانده در کابل از مبارزه مسلحانه دست بردار

نمی شوند .
انها اظهار داشتند که کمونستها ابداً حق تعیین سرنوشت مردم افغانستان راندارند .
۱۱ ثور ۱۳۷۰- بی بی سی
بنابه گزارش های رادیوبی جهان گفته می شود که بیش از ۲۵۰ هزاراتن در اثر توفان بحری اخیردر بنگله دیش جان خود را ازدست داده اند واکثر قریه ها بکلی زیر اب گردیده است .
خالده ضیاء صدراعظم بنگله دیش ازهمه کشور ها تقاضا ی مساعدت بامصیبت زده گان رانموده است .
۱۳ ثور-الاتحاد
حکومت عراق ازمؤسسه ملل متحد تقاضا نموده است که باید برایش ۵ سال تأجیل داده شود تا بعد از ان تاوان جنگ خلیج راپپردازد . عراق گفته است قبل ازین مدت نمیتواند این قروض راپپردازد. این مطلب را عبدالامیر الانباری به مؤسسه ملل گفته است .
۱۳ ثور-تلویزیون پاکستان :
رئیس حکومت ترکیه تورگوت اوزال که روانه استرالیا بود درفرودگاه شهرکراچی پاکستان برای مدت یکنیم ساعت توقف کرد. ودرین فرصت غلام اسحاق خان رئیس حکومت پاکستان نیز باوی دیدن نمود انها درباره مسایل مختلف منجمله قضیه افغانستان باهم صحبت نمودند وی گفت قضیه افغانستان باید ازطریق مذاکره حل وفصل گردد که دران همه اطراف رضایت داشته باشند .
۱۵ثور- بی ،بی ،سی :
مولوی خالص وزیر داخله حکومت عبوری طی یک کنفرانس مطبوعاتی درپشاور ازمقام خویش درحکومت موقت مستعفی گردید ، وعلت این کارخود را دسایس بین المللی ،ودیدار پیرسیداحمد گیلانی با نجیب و استاد ربانی باسفیر روس عضویت کمونستها درحکومت عبوری ، سقوط بعضی ازمسؤلین بدامن بیگانگان خواند .
وی گفت درشرایط کنونی هیچ ضرورتی به این وزارت دیده نمی شود زیرا توصیه ها واوامر این وزارت درداخل افغانستان مورد اجرا قرار نمی گیرد .
۱٦ ثور- رادیو ایران :
ترکیه ، پاکستان ، وایران موافقه نموده اند تایک بانك اقتصادی مشترکی را افتتاح نمایند .
این مطلب ازطرف علی رضا مسؤل تعاون اقتصادی کشورهای مذکور اعلان گردیده است.
۱٦ثور- بی، بی ، سی :
مسؤلین حکومت ایران گفته اند اکثر مساعدت های دول غربی که برای مهاجرین کردفرستاده بودند اکنون بکلی فاسد وخراب گردیده اند زیرا اصلا این مواد قابل استفاده نبود .
اقای عبدالله نوری وزیر داخله ایران گفته است که دول مذکور باید ازین عمل خویش خجالت شوند .
۱۸ ثور -بی ، بی ،سی :
وزیر خارجه روسیه بسمرتنیخ امروز کشورش رابه قصد خاورمیانه ترك کرد ووارد سوریه شد ، وی از اردن ، مصرواسرائیل نیز دیدن خواهد نمود این اولین سفر هیئت بلند پایه روسیه به اسرائیل بعد از جنگ عرب واسرائیل درسال (۱۹٦۷)خواهد بود.
۱۹ثور- شرق الاوسط :
حکومت روسیه میخواهد که یك تعداد تانك های محاربوی خویش رابالای حکومت ایران بفروش برساند ،این مطلب را ولادیمیر سیرجاکوف مدیر فروش تانك درشهر اورال گزارش داده است .
۲۰ ثور- رادیو کندا :
حجاج ایرانی درمراسم حج امسال نیز دست به برپایی یك سلسله تظاهرات برضد امریکا خواهند زد .
۲۱ثور- رادیو کندا :
احمد بن بلا رئیس سابقه حکومت الجزائر ازمردم ان

کشور خواسته است تادرانتخابات اینده به جبهه اسلامی رای بدهند ، این اولین پشتیبانی علنی وی ازحرکت اسلامی کشورش میباشد .
۲۲ ثور – بی ، بی ،سی :
بعد از گذشت ۳۲ سال برای اولین بار درکشور نیپال مردم قادر به برگزاری انتخابات ازاد گردیدند .
وملیونها نفربه پای صندوق های رای رفتند ، احزاب مهم کشور نیپال حزب کانگریس وحزب کمونست می باشد .
۲۲ ثور – بی ، بی ، سی :
به تاریخ یازدهم ثور سمینار چهار روزه ازطرف شورای ثقافتی جهاد افغانستان دریکی از هوتل های اسلام اباد دایرگردید ، هدف این سمینار بررسی نوع وکیفیت مطبوعات داراینده افغانستان می باشد علاوده بر بعضی از اعضای تنظیم های مقیم پیشاور یك عده اهل نظر خارجی نیز درین سمینار اشتراك ورزیده بودند .
۲۳ثور– رادیو مسکو :
ان عده ازیهودیان که از روسیه به فلسطین اشغالی رفته اند اکنون یك حزبی رابنام « حزب دیموکراتیك صهیونستی » تشکیل داده اند که یوسف دوررودرراس ان قرار دارد هدف اساسی وسیاسی این حزب حل مشاکل یهودیان روسی میباشد ، رهبراین حزب گفته است که میخواهد درانتخابات سال ۱۹۹۲ نیز اشتراك ورزد .
۲۵ ثور– رادیو لندن :
بنابه گذارش های رسیده مجاهدین افغان موفق به فتح ولسوالی قیصار ولایت تخارگردیده انداین منطقه درنزدیك مرز روسیه قرار دارد همچنان مجاهدین فرقه ۵۵ رانیز متصرف گردیده اند ، درین عملیات همه مجاهدین منطقه اشتراك ورزیده بودند.
۲٦ ثور– تلویزیون پاکستان :
عصمت عبدالمجید وزیر خارجه مصر بحیث منشی کنفرانس کشورهای عرب تعیین گردیده است وی برای مدت پنج سال درین مقام باقی خواهد ماند .
۲٦ ثور– تلویزیون پاکستان :
پارلمان پاکستان امروز منظوری شریعت بل را صادر نمود ،نواز شریف مبارکی این عمل تاریخی رابه ملت پاکستان داد ، وی گفت حقوق اقلیتها وزنها درین بل مدنظر گرفته شده است وماده ای دران افزوده شده که تضمین دیموکراسی را درپاکستان مینماید .
۲٦ ثور– تلویزیون پاکستان :
روز پانزدهم می معاهده ای بین جان زیمنگ رهبر حزب کمونست چین وگرباچف رهبر حزب کمونست روسیه در کریملن به امضا رسید که دران گفته شده بود هر دوکشور حاضر به حل اختلافات مرزی خویش گردیده اند ، این اولین بازدید رهبر چین ازروسیه بعد از مرگ مائو می باشد ، رهبر چین دوروز قبل وارد روسیه گردیده بود .
۲٦ ثور– جریده الاتحاد امارات :
بنابه خبرهای منتشر شده درمسکو شاه فهد تصمیم گرفته تا به روسیه سفرنماید وی بعد ازملاقات اخیرخویش باوزیر خارجه روسیه بسمر تنیخ چنین تصمیمی راگرفت .
۲۷ ثور–رادیو لیبیا :
وزارت دفاع امریکا اعلان نموده است که درنظر دارد تابتعداد (۷۰۰۰) تن از عساکر خویش رابطور دائم درکویت جابجا سازد .
۲۸ ثور–رادیو فرانسه :
دریوگوسلاویا ازمدت شش روز بدین سو نه رئیس حکومت ونه رئیس قوای مسلح تعیین شده است تااکنون مذاکرات درین مورد جریان دارد ولی انها به نتیجه نهایی نرسیده اند .
۲۹ ثور– بی ، بی ، سی :
سه تن از رهبران مجاهدین افغان به سرکردگی مجددی گفته اند که حاضر هستند تامسله افغانستان را ازطریق مذاکره حل نمایند ، انها مشترکا درین مورد یك لایحه رانیز ترتیب داده اند ، پیرگیلانی ومولوی محمد نبی نیز شامل این پروگرام می باشند.

راغلي ليکونه

دمنبع الجهاد مجلې په دې ګڼه کې دمجلې ديو شمير لوستونکو اومينه والو ليکونه لرو چې دمجلې داداري په نوم يې راليږلي ، موږ دلته دځينو دنومونو په يادولو اودځينو دليکونو ديوې برخې په خپرونه اکتفاء کوو .

دنوښار دسوريا خيلو دشمس المدارس دمدرسې محترم صدر ، دمردان دتخت بهايي محترم مولوي صاحب ګل رسول ، دمردان دملاکنډ دجامعه الاسلاميه تفهيم القران څخه سيدمحمد ـ ابوحزم نورستاني ، دصوابي دبرکې برك دکمپ له مهاجر بازار څخه زموږ محترمو ورونو هريو ملاجان هېوال ،عبدالخليل مسلم دوست ، محمد ظاهر مظلوم يار ، خدايداد شهيد يار اوظاهرخان رشيد ، دپنجاب له ضلع چکوال څخه نورمحمد ، دمانسهرې څخه حاجي شيرباز ، دميرامشاه دوحدت ادبي ټولنې څخه محترم سيف الرحمن سيف مومند ، محترم داکتر تازه خان آرماني پکتياوال دصبريو له قوم څخه محمد شعيب جهاد يار، له کراچې څخه حفيظ الله مجددي ، شيرشاه بډياليوال له ميرامشاه څخه اول خان پکتين ، فقيرمحمد اوعبدالباقي حکيم زاده اودمجاهدينو دعبوري حکومت دعامې روغتيادوزارت مامورمحمد ويس بشري دمنبع الجهاد دمجلې داداري په نوم په خپلو راليږلو ليکونو کې دمنبع الجهاد دفرهنګي ټولنې دنشراتو دمحتوي ،قطع اوصحافت ډېره ډېر ستاينه کړې ده .

اودفرهنګي ټولنې دمسوولينو اومنسوبينو زيار اوزحمت ته يې دقدر په سترګه کتلې دي .

دخوست دسترې فتحې له امله چې دنوميالي مجاهد مشر حقاني صاحب په پوهه اوتدبر اودمجاهدينو په ميړانه اوسرښندنه ترسره شوه دفرهنګي ټولنې کارکوونکو اوټول مجاهد ملت ته مبارکي ويلې ده .

ځينو يې دوې ته دفرهنګي ټولنې دنشراتو دوراستولو په هيله خپلې پتې اوآدرسونه راليږلي اوځينو يې زموږ دنشراتو دورسيدلو اطمينان راکړي دي .

دمنبع الجهادمجلې اداره ددوي له نيکو احساساتو څخه دزړه له کومې مننه کوي ، اودوي ته ډاډ ورکوي چې اداره به هڅه وکړي څو دوي ته پخپل وخت نشرات ورورسوي .

همدارنګه يوشمير نورو ورونو دمنبع الجهاد دفرهنګي ټولنې داداري په نوم ليکونه راليږلي چې دلته يې ځيني برخې خپروو:

دکوهاټ دچيچنې مډل سکول ښوونکي محترم خيال ګل دخپل ليك په يوه برخه کې ليکي:

« زه دلوي خداي (ج) په دربار کې ټولو مجاهدينو ته

دبریالیتوب دعا کوم اودخوست دسترفتحي له امله چي الحاج مولانا جلال الدین حقاني په پوهه ، تدبر اوقومانده دمجاهدینو دقربانیو او صادقانه جهاد په نتیجه کي ترلاسه شوه ټول مجاهد ملت ته مبارکي وایم .

نومورې دلیك په پاي کي له فرهنګي اداري نه غوښتني دي چي ددوي په پته ورته خپل نشرات ورولیږي .

له مانسهري ښخه محترم ورور دکتور نجیب الله دخپل یو لیك په ترڅ کي دمنبع الجهاد فرهنګي ټولني دنشراتي فعالیتونو ستاینه کړي او یو شعریې دخپروني لپاره رالیږلي چي دلته یې یوه برخه رااخلو نورشعر به په مناسب وخت کي دمجلي یاجریدي له لاري خپور کړو :

ابتداءً موپه تیارو کي دچراغ
کړي سبامو توري شپې دزړه په داغ
په کوګل کي موچي وینو رڼا وکړه
رابیدار شولو له خوبه بیا دماغ
دایقین شو چي دحق ډیوه بلیږي
(الخ...)

دضلع کوهاټ تحصیل هنګو ښخه عبدالولي مجاهد دفرهنګي ټولني په نوم یولیك کي دفرهنګي ټولني کارکوونکو ته سلامونه وړاندي کړي ،اودخوست دفتحي له امله یې ټولو مجاهدینو ته مبارکي ویلي ده .

دضلع کوهاټ تحصیل هنګو دخپیانکي دڅلورم نمبر کمپ ښخه محترم ورور محمد ولي شاه اوسنګین دخپل لیك په یوه برخه کي لیکي :

دخوست فتحي موږ ته داثابته کړه چي که مجاهدین په پوره وحدت سره د دښمن په مقابل کي خپل جهاد ته ادامه ورکړي ، نو خامخا به یې بریالیتوب په برخه شي ، خداي(ج) دي وکړي چي اوس مجاهدین دخوست په شان په ګردیز ، لوګر ، کابل او دافغانستان په نورو برخو کي ددښمن په پوځي مرکزونو متحد عملیات سرته ورسوي ، انشاءالله بري دهملوي په برخه دي .

همدارنګه الحاج محمد امین خان راخیوال تنهي له ابوظبي نه په یو لیك کي دمنبع الجهاد فرهنګي اداري کارکوونکو ته سلامونه ویلي ، اوضمنًا یې دمرحوم ګل پاچا الفت یو شعر دخپرید لپاره رالیږلي چي دلته یې خپروو :

دوطن شهید

ځوك چي شهید شي دخپل دین اودوطن لپاره
دجنت حوري ورته راشي ددیدن لپاره
دخدائ له لوري ورته ډیرآفرینونه راوړي
پاس دآسمان نه دملکوسلامونه راوړي
نه محوه کیږي په هیڅ شان دده دتوري رڼا
دده میرانه نه هریږي په هیڅ وخت کي له چا
قام اوملت ورته سلام اواحترام استوي
دغه تحفه ورته په مینه هرمابنام استوي
په هسکه غاړه دجنت په منارو کي ګرځي
په دي دنیا هم په هروخت دخلکو زړو کي ګرځي

ابدي ژوندي

شهيدقوماندان محمد غنى

شهيد محمد غنى په ۱۳٤۷ هـ ش کال دپکتيا ولايت دسپيرو ولسوالي دتنگي سلطان خيلو په کلي کي زيږيدلى اوپه قوم ځدران و .
نوموړى دپکتيا اوپکتيکا ولايتونو په ډيرو جهادي عملياتوکي برخه اخيستى اوهرځل يې ډيره ميړانه ښودلي چي دلته يې دڅونې په ډول دبړى فتحه ، ارگون فتحه ،نيك محمد کلي پوستى فتحه اوشمل قوى په مقابل کي جگړى څخه يادونه کوو .
دغه زړور مجاهد دزرمت په سيمه کي ديوه گروپ دقوماندان په توگه وظيفه اجراکوله.
بالاخره دغه نوميالى قوماندان دخوست په جگړه کي دخوست دتاريخى فتحى څخه يوه ورځ دمخه ۱۰ /۱/ ۱۳۷۰ نيته ددښمن دتوپ په گولۍ ولگيد او دشهادت لوړمقام ته ورسيد . انا لِله وانا اِليه راجعون

شهيد قوماندان ولى خان

شهيد قوماندان ولى دحاجى فتح خان زوى په ۱۳۳۰ هـ ش کال دپکتيا ولايت دلڅي ولسوالي دغونډى په کلي کي زيږيدلى اوپه قوم منگل و .
نوموړى دثور دکودتا سره په وسله وال جهاد پيل کړى اودجهاد په دوران کي يې کمونستانو ته زيات ځانى او مالى تاوانونه اړولى دى ، دغه زړورقوماندان دلڅي ولسوالۍ فتحي ، دسيدان فتحه ، شهرنو ، ځاځيو چونى ، پټان ولسوالي ، څمکنيو ولسوالي موسیٰ خيلوولسوالى ، تك تانۍ اوميدان خولى ولسوالى په نيولو کي پوره رول لوبولى دى .
بالاخره دغه نوميالى قوماندان دخوست دتاريخى فتحى په ورځ د۱۱/۱/ ۱۳۷۰ ددښمن دسکلو توغندى په لگيدو ټپى اووروسته په ۲۷/۱/ ۱۳۷۰ نيته دشهادت لوړ مقام ته ورسيد .
انا لله وانا اليه راجعون

شهيدقوماندان مکرزمان

شهيد مکرزمان «زنه خيل » دميرزا زوى په ۱۳۳۸ هـ ش کال دپکتيا ولايت ددزگۍ ولسوالۍ دنادرشاه کوټ علاقه دارۍ دلاتکي په کلي کي زيږيدلي اوپه قوم زنه خيل ؤ ، نوموړى يوځه زده کړى ترسره کړى وى چي په افغانستان کي دثور کودتا رامنځ ته شوه ، نو ددغي کودتا په راتگ سره يې په وسله وال جهاد پيل وکړ اودجهاد په دوران کي يې دپکتيا ولايت په اکثرو جگړو کي برخه اخيستى اودخوست دفتحي په جگړه کي يې ديوه گروپ دقوماندان په حيث پوره رول لوبولى ؤ .
بالاخره دغه نوميالى مجاهد په ۲۰/۱/ ۱۳۷۰ هـ ش نيته دمندوزيو دپيرباغ کلي سره نږدى دخپلو لسو تنو مجاهدينو سره يوځاى ددښمن دماين چاوديدو له امله دشهادت لوړمقام ته ورسيد .
انا لله وانا اليه راجعون .

شهید محمد نسیم

شهید محمد نسیم دعالم گل زوی په ۱۳۴۳ هـ ش دکندز ولایت دچهاردری ولسوالی دامان الـــلـــه په کلی کی زیږیدلی و.
نوموړی دجهاد په دوران کی کمونستانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه اړولی دی .
بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۶۵ هـ ش کال دشهادت لوړ مقام ته ورسید .
اِنالله وانا الیه راجعون

شهید محمد نبی

شهید محمد نبی دختبک زوی دپکتیا ولایت دیعقوبیو علاقه داری دپرتی غونډی دکلی اوسیدونکی اوپه قوم منگل ؤ .
نوموړی په ۱۳۶۹/۷/۲۱ نیټه دسلمان فارسی (رض) په غونډ کی شامل شوی اودجهاد په دوران کی یی ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی .
بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۶۹/۱۱/۱۴ نیټه دولسوال په پوسته دحملی په وخت ددښمن داوبوس توپ په مرمی ولگید اودشهادت لوړ مقام ته ورسید .
انا لله وانا الیه راجعون

شهید قدیم خان

شهید قدیم خان دملك غونډی زوی په ۱۳۵۱ هـ ش کال دننگرهار ولایت دپچیر اواگام علاقه داری دگرخیلو په کلی کی زیږیدلی وُ نوموړی دخپلی کورنی سره په ۱۳۵۷ هـ ش کال پاکستان ته مهاجر شوی اودهجرت په وخت کی د۸ کالو زده کړو څخه وروسته په وسله وال جهاد پیل کړی ، دجهاد په دوران کی یی د ښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی دی.
بالاخره دغه نومیالی مجاهد دخوست دفتح په تاریخی جگړه کی دشهادت لوړ مقام ته ورسید .
انا لله وانا الیه راجعون

شهید اصیل الدین

شهید اصیل الدین دعمادالدین زوی په ۱۳٤۰ هـ ش کال دپکتیا ولایت دوزی ځدران ولسوالی سرانه خاخیل په کلی کی زیږیدلی اوپه قوم ځدران و.
نوموړی دکم عمر په درلودلو په وسله وال جهاد پیل کړی اودجهاد په دوران کی یی ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی.
بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳٦۸ هـ ش کال دزرمت په ولسوالی کی ددښمنانو سره په مخامخ جګړه کی دشهادت لوړ مقام ته ورسید .
انا لله وانا الیه راجعون

شهید داور خان

شهید داور خان دایمار خان زوی دپکتیا ولایت دځدرانو دخاسلو په کلی کی زیږیدلی و .
نوموړی دثور کودتا په راتګ سره دکمونستانو په مقابل کی وسله وال جهاد پیل کړی اودجهاد په دوران کی یی ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه وراړولی.
بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۷۰/۱/۷ نیټه دخوست دبریالیو عملیاتو په دوران کی دخوست په هوایئی ډګر کی دکمونستانو سره په مخامخ جګړه کی دشهادت لوړ مقام ته ورسید .
انا لله وانا الیه راجعون

شهید فیض محمد

شهید فیض محمد دولی محمد زوی په ۱۳۳۹ هـ ش کال دبغلان ولایت ددوشی ولسوالی دوالیانو په کلی کی زیږیدلی اوپه قوم تاجك و .
نوموړی په ۱۳٦۹/۸/٤ نیټه دسلمان فارسی (رض) دغونډ په مجاهدینو کی شامل شوی اودجهاد په دوران کی یی دهری حکومت ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی .
بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ٦۹/۱۰/۱۰ نیټه دلیژی په سیمه کی ددښمن دماین دچاودیدو له امله دشهادت لوړ مقام ته ورسید
انا لله وانا الیه راجعون

شهید محمد بشیر

شهید محمد بشیر دلطیف زوی په ۱۳٤۸ هـ ش کال دپکتیا ولایت دخوست دلویی ولسوالی داځرو په کلی کی زیږیدلی و .

نومړی په ۱۳۵۷ هـ ش کال دخپلی کورنی سره پاکستان ته هجرت کړی اودهجرت په محیط کی یو څه دینی زده کړی سرته رسولو وروسته په وسله وال جهاد پیل وکړ اودجهاد په دوران کی ددین او وطن دښمنانو ته زیات خانی اومالی تاوانونه وراړولی وو.

بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳٦٤ هـ ش کال ددلوری په جګړه کی ددښمن دبمبارد له امله په شهادت ورسید .

انا لله وانا الیه راجعون

شهید روژه الدین

شهیدروژه الدین دنظام الدین زوی دپکتیا ولایت دخوست لویئی ولسوالی دسواکی کلی اوسیدونکی اوپه قوم علی شیرۉ.

نومړی په ۱۳٦۷/۵/۷ نیټه دسلمان فارسی (رض) په غونډ کی په وسله وال جهاد پیل کړی اودجهاد په دوران کی یی ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی .

بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۷۰/۱/۳ نیټه دزرخان پوستی باندی دحملی په وخت ددښمن دماین دچاودیدو له امله دشهادت لوړمقام ته ورسید .

انا لله وانا الیه راجعون

شهید پیر سلام

شهید پیرسلام دپیر عبدالباقی زوی په ۱۳٤۸ هـش کال دپکتیا ولایت دځمکنیودولسوالی دحکم زیو په کلی کی زیږیدلی ۇ .

نومړی دابتدائیه ښوونځی دلوستلو وروسته په وسله وال جهاد پیل کړی او دجهاد په دوران کی یې ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی .

بالاخره دغه نومیالی اوزړور مجاهدپه ۱۳۷۰/۱/۱٤ نیټه ددښمن دماین دچاودیدوله امله سخت ټپی اووروسته دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

انا لله وانا الیه راجعون

بسم الله الرحمن الرحيم

ارشاد نبوي

کسیکه بدون غرض دنیوي صرف براي رضاي خداوند (ج) به سریتیم دست میکشد درمقابل هرموئیکه دستش به ان میرسد به وي نیکي هاداده مي شود وکسیکه بادختر ویاپسر یتیم که نزد وي است نیکي کند من واوهردو درجنت مانند این دوانگشت میباشیم
(احمد وترمذي)